# په افغانستان
# کبښې د جګړو او
# تاوتریخوالی
# د زیاتوالی لګښت

په ۲۰۱٤ کال کبښې د جګړو او تاوتریخوالی د زیاتوالي
د اقتصادي او مالي لګښت یو اټکل

اګست ۲۰۱۵

United States Institute of Peace
EPD Equality for Peace and Democracy

# د مطالبو نوملړ

عمومي لنډيز


د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسې (EPD) په اړه ........ 3

ستاینه او منته ........ 3

عمومي لنډيز ........ 4

لنډ نومونه ........ 6

**1.** سریزه ........ 7

1.1 کړنلارې او روشونه ........ 8

**1.2** کاري حدود او محدودیتونه ........ 9

**1.3** مفاهیم او تعریفونه ........ 11

**2.** د افراطیت د تاوتریخوالي لګښتونه ........ 11

د سلوک بدلون او هڅونې ........ 11

د روشونو نیمګړتیا او ننګونې ........ 12

د راپور تمرکز ........ 12

**3.1** د لمس وړ مستقیم لګښتونه ........ 13

امنیتي لګښتونه ........ 13

عادي ژوند ته راستنیدل ........ 15

معاوضه ورکول ........ 16

**3.2** د لمس وړ غیر مستقیم لګښتونه ........ 19

انساني پانګه او د ګټې لاسته راوړلو امکانات ........ 19

........ 20

عامه روغتیا، ټپي او معیوب کیدل ........ 20

ښوونه او روزنه ........ 24

د زیربنا ویجاړیدل او په پرمختګ د هغې اغیز ........ 27

جګړې - د بې ځایه شوو او کډوالو ځاي پر ځای کیدل ........ 29

**3.3** د افراطیت تاوتریخوالي او اقتصاد ........ 31

کوچني او ستر اقتصادونه ........ 32

د افراطیت تاوتریخوالی او د افغانستان اقتصاد ........ 32

د الف ضمیمه: لګښتونه محاسبه کول ........ 40

د لمس وړ مستقیم لګښتونه ........ 40

امنیتي لګښتونه ........ 40

عادي ژوند ته راستنیدل ........ 41

استخبارات ........ 42

معاوضه ........ 42

د لمس وړ غیر مستقیم لګښتونه ........ 43

انساني پانګه او د ګټې لاسته راوړلو امکانات ........ 43

ټپي او معیوب کیدل ........ 43

ښوونه اوروزنه ........ 44

د زیربنا له منځه تلل ........ 46

جګړې - د بې ځایه شو او کډوالوځاي پر ځای کیدل ........ 46

# د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسې (EPD) په اړه

د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه (EPD) یوه غیر انتفاعي، غیر دولتي اداره ده چې په افغانستان کښې په ټولنیزه سطحه او د پالیسیو په برخه کښې د ښځو او ځوانانو د ځواکمنتیا لپاره په خدمت بوخته ده. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې بنسټ د ۲۰۱۰ کال په لمړیو وختونو کښې د مؤسسې د عمومي مشرې آغلې نرگس نهان، له خوا ایښودل شوی دی. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه د ښځو او ځوانانو د ظرفیت د لوړولو لپاره کار کوي تر څو هغوی وکولای شي د خپلو اړتیاو لکه د پرمختګ، سولې رامنځته کولو، او ډموکراتیکو بهیرونو په اړه خبرې وکړاي شي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسه پر دې سربیره غواړي چې ښځې او ځوانان و هڅوي چې پر هغو ستونزو د برلاسی په خاطر خپله ونده تر سره کړي چې افغانستان ور سره لاس او گریوان دی.

د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې د ښځو او ځوانانو لپاره داسې فرصتونه رامنځته کړي تر څو هغوی سره را ټول، یوه شبکه جوړه، د باور او اعتماد فضا رامنځته، او په ګډه د یو داسې ډموکرتیک هیواد په لور د افغانستان د بدلولو لپاره په ګډه هلې ځلې وکړي چې د هر ډول تاوتریخوالي او تبعیض څخه پاک وي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې د شفافیت او ځواب ورکولو یووالی چې په ټولنیزه سطحه یوه شبکه ده او د خدماتو د وړاندې کولو څارنه او د ښه حوکمتوالۍ لپاره پلویان برابروي او په هرات، بامیان، ننګرهار او کابل کښې موقعیت لري. په ټولنیزه کچه د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې د ښځو ولایتي شبکه هغه موضوعات په ګوته او پاملرنه ور ته کوي چې د ښځو لپاره د اندېښنې وړ دي او په هرات، بامیان، ننګرهار، فریاب، قندوز، قندهار او کابل کښې موقعیت لري.

پر دې سربیره، د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه، په کابل کښې یوه د هغو پیژندل شوو مدني ټولنو د سازمانونو څخه شمیرل کیږي چې د نورو مدني ټولنو د سازمانونو سره یو اتحاد او دلې رامنځته کوي، د سولې او ښه حکومتوالۍ، د بشر حقوقو د رعایت د ډاډ تر لاسه کولو او د مدني ټولنې ګډون لپاره پلوي پیدا کولو په برخه کښې د دولت د پالیسیو څارنه کوي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي د مؤسسې ټیم، د هیواد بیلا بیلو برخو ته د سفر او خلکو سره د خبرو له لارې غواړي د هغوی په اندیښنو پوه شي، همدارنګه په مرکز کښې د پالیسیو جوړونکو سره غونډې او بحثونه تنظیموي تر څو د خلکو غږ او اندیښنې د هغوی غوږونو ته و رسوي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي د مؤسسې مشرتابه په نړیوالو غونډو کښې ګډون کوي او په افغانستان کښې د نړیوالې ټولنې د ګټورې او دوامدارې بوختیا لپاره ملاتړ پیدا کوي.

# ستاینه او مننه

د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه تر هر څه لمړی غواړي چې د هغو ذیدخلو اړخونو څخه، چا چې په ټول افغانستان کښې زمونږ په پروګرامونو کښې ونډه لرله، او د هغوی له ونډې پرته به دا څیړنه سرته نه وای رسیدلی، مننه وکړي. مونږ همدارنګه د امریکا د متحده ایالاتو د سولې بنسټ څخه چې د دې پروژې ته یې مالي ملاتړ تیار کړی هم مننه کوو. پر دې سربیره، د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه غواړي چې د راپور د متن بیروني کتوونکي ډاکټر ویلیام بیرډ (Dr. William Byrd) د مثبتو نظریاتو او سپارښتنو او ډاکټر پام ګرین (Dr. Pam Green) چې د دې راپور په سمون (تصحیح) کښې زیار ګاللی مننه وکړي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسه همدارنګه د میرې هربر، ماوریتز ریډ څخه د دې راپور د لیکلو په اړه او پلوشې هاشمي او د (EPD) ولایتي مسئولینو چې د معلوماتو د راټولولو په برخه کښې یې مرسته کړې، مننه کوي. د شمسیه نوري څخه چې د دې راپور په را ټولولو او تآلیف کښې یې زیار ګاللی او په همدې توګه د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي مؤسسې د کارکونکو څخه چې د پروژې په بهیر کښې یې خپل ملاتړ ته دوام ورکړی د زړه له کومې مننه کوو. او پای کښې د (EPD) د ټول ټیم څخه چې د پروژې د تطبیق په دوران کښې ملاتړ برابر کړې، ځانګړې مننه کوو.

# عمومي لنډيز

په افغانستان کښې د امنيتي او د افراطيت د تاوترخوالي د لګښتونو په اړه د ځاني تلفاتو، فزيکي خونديتوب او امنيت له نظره ډيرې څيړنې سرته رسيدلې دي. په هر حال، نا امني او د افراطيت د تاوترخوالي هم يو مالي او اقتصادي لګښت لري. د افغانستان د خلکو په اړه د ۲۰۱۴ کال يوه سروې چې د آسيا فونډيشن له لورې تر سره شوې ده، په ټوليز ډول ۳۴ ٪ خلکو نا امني، حملې، تاوتريخوالی يا ترهګري تر ټولو سترو ستونزو په توګه ښودلې دي. ۳۲ ٪ خلکو چې په سروې کښې يې برخه اخيستې وه داسې ويلې دي چې دوی د وسله والو مخالفو ډلو سره "ډيره" يا "لږه" خواخوږي درلودلې ده. دا لاسته راغلې معلومات دا په ګوته کوي چې هغه کسان چې د وسله وال مخالفو ډلو او باغي فعالينو ملاتړ کوي، د بشر په حقوقو ولاړې کړنلارې امکان لري د سولې لپاره د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره بس نه وي. د دې پروژې هدف د ممکنه ارادې نښتون چې د نا امنۍ او د افراطيت د تاوتريخوالي چې د جګړو سبب ګرځي مخه ونيسي، پر حقوقو ولاړې طرحې د داسې يو متبادل برابرول تر څو اقتصادي او مالي لګښتونو د محاسبې له نظره د افراطيت د تاوتريخوالي مخنيوی وکړي، پاملرنه کول دي.

دې څيړنې دا لګښتونه په (۸) محاسبوي کټګوريو ويشلي دي – امنيت، عادي ژوند ته راستنيدل، د تلفاتو د تاوان لنډول (معاوضه)، انساني پانګه او د ګټې لاسته راوړلو امکانات، ټيپي کيدل او معيوب کيدل، ښوونه او روزنه، د زير بنا له منځه تلل، او د جګړې له امله بې ځايه شوو او کډوالو بيرته ځاي پر ځای کول. دې مطالعې په افغانستان کښې د ۲۰۱۴ کال د تاوتريخوالي يو اټکل کړی دی. د دې مطالعې په کاري حدودو کښې، همدا ډول د راتلونکو لګښتونو يو اټکل چې د تاوتريخوالي له امله په دې موده کښې شوي دي، لکه د ټول عمر د ګټې د لاسه ورکول، شامل دي. دا يوازې د هغو لګښتونو ارزونه کوي چې افغانستان تر سره کړي او هغه لګښتونه چې په افغانستان کښې د نړيوالو فعالينو له خوا شوي، حساب شوي نه دي.

د لګښتونو د معلوملو لپاره بيلا بيلې کړنلارې شتون لري. په عمومي توګه، د جګړو د اقتصادي لګښتونو د معلوملو لپاره له يوه او يا دوه روښونو څخه کار اخستل کيږي – محاسبه يا د نومونو جوړونه. دا څيړنه د اغيز د معلوملو لګښت، کوم چې د محاسبې د روش له لارې د يوې ځانګړې موضوع اړوند توليزي / اقتصادي اغيزمنتياوې اندازه کوي. د اغيزمنتوب لګښتونه مستقيم او غير مستقيم، د لمس وړ او هغه چې د لمس وړ نه دي، د تاوتريخوالي د قربانيانو، د هغوی کورنی، کلي او پراخه کچه ټولنې د مطالعې لاندې نيسي. په دې څيړنه کښې، دا کار د يوې اضافي کړنلارې له لارې تر سره کيږي، په داسې حال کښې چې بيلې لارې چارې چې د هغو پواسطه د جګړو له امله رامنځته شوي لګښتونو او اقتصادي اغيز په جلا جلا توګه ارزول شوي دي.

| عنوان / موضوع | لګښت (امريکايي ډالر) |
|---|---|
| **امنيت** | |
| د دفاع د وزارت اضافي بودجه | ۱۵۹۷۸۶۴۲۵۰ |
| د کورنيو چارو د وزارت اضافي بودجه | ۱۱۹۶۸۷۳۵۱۸ |
| د ملي امنيت د شورا بودجه | ۱۵۸۰۰۳۵ |
| د ملي امنيت د رياست (NDS) بودجه | ۲۰۰۳۴۸۳۹۳ |
| **عادي ژوند ته راستنيدل** | |
| د سولې او عادي ژوند ته د راستنيدو مالي صندوق | ۵۸۰۹۲۰۰۰ |
| **د تلفاتو د تاوان لنډول** | |
| د ملي امنيتي ځواکونو د مړينې يا تقاعد بودجه | ۶۴۳۵۰۰۰۰ |

| | |
|---|---|
| د غیری نظامي خلکو د تلفاتو د تاوان لېدول | ۱۷۱٦۳۵۰۴ |
| د معیوبیت لپاره د تاوان لنډول | ۲۸۹۷۵۱۰۸ |
| **انساني پانګه او د ګټې لاسته راوړلو امکانات** | |
| د ټول عمر د عوایدو له لاسه ورکول | ٦۷۱۱۳۲۷٦ |
| ټپي او معیوب کېدل | |
| له خپله جیبه د جګړو پورې اړوند د بستر داخل ناروغانو د درملني لګښتونه | ۹۳۲۳۸۲۲۴ |
| د دولت اومرسته کونکو ادارو د بستر داخل ناروغانو د درملنې لګښتونه | ۳۳۴۴۴۱۴٦ |
| د غیر مرګاني ټپونو له امله د کلني عاید له لاسه ورکول | ۲۰۵٦۸۸ |
| **ښوونه او روزنه** | |
| د نا امنۍ له امله ښوونځي ته د کوچنیانو د نه تللو په سبب د راتلونکي عاید له لاسه ورکول | ۴۰۵۱٦٦۸۳۰۸ |
| د نا امنۍ له امله د ښوونځي د تړلو کیدو په وجه د کوچنیانو ښوونځي د نه تللو په سبب د راتلونکي عاید له لاسه ورکول | ۴۵۸۹٦۲۹٦۵ |
| د درسي ورځې له لاسه ورکول | ۵۰۱۷۲ |
| **د زیر بنا له منځه تلل** | |
| د ښوونځیو ویجاړیدل او ړنګیدل | ۴۱٦۰۰۰۰ |
| د روغتیایي تاسیساتو ویجاړیدل او ړنګیدل | ۴۴۸۰۰۰۰ |
| د زیر بنا ویجاړیدل | ۳۱۲۲۱۲ |
| **جګړې - د بې ځایه شوو او کډوالوځاي پر ځای کیدل** | |
| د جګړې له امله د عوایدو د لاسه ورکول – د داخلي بې ځایه شوو خلکو ځاي پر ځای کیدل | ۷۲۴۴۰۵۱۱ |
| د جګړې له امله د عوایدو د لاسه ورکول – د کډوالو ځاي پر ځای کیدل | ۳۹۷۹۲۹۱۷۹ |
| د جګړې له امله د عوایدو د لاسه ورکول – د بیرته راستنیدونکو د ځاي پر ځای کیدو مخنیوي | ۷۴۱۳۷۰۴۰٦ |
| **د جګړې او تاوتریخوالي د افراطیت کلني لګښتونو مجموعه** | **۹۰۹۰٦۲۱۸۹۵** |

# لنډ نومونه

| | |
|---|---|
| AIHRC | د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون |
| ANA | د افغانستان ملي پوځ |
| ANBP | د افغانستان د نوي پیل پرواګرام |
| ANP | د افغانستان ملي پولیس |
| ANSF | د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه |
| AOG | وسله واله مخالفه ډله |
| APRP | د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدو پروګرام |
| ASOP | د افغانستان د ټولینز پرمختګ پروګرام |
| DDP | د ولسوالۍ د چارو د سر ته رسولو پروګرام |
| DDR | بې وسلې کیدل، بیا تنظیم او عادي ژوند ته را ستنیدل |
| DIAG | د غیر قانوني وسله والو ډلو له منځه وړل |
| ERW | د جګړې څخه پاته شوې چاودیدونکي توکي |
| HPC | د سولې عالي شورا |
| HWC | د درنو وسلو زیرمتون |
| IDLG | د محلي حکومتونو خپلواکه اداره |
| IDP | داخلي بې ځایه شوي وګړي |
| IED | اصلاح شوې چاودونکي وسیله |
| MoD | د ملي دفاع وزارت |
| MoEd | د ښوونې او روزنې وزارت |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| MoLSAMD | د کار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت |
| MoPH | د عامې روغتیا وزارت |
| MoPW | د فواید عامه وزارت |
| MRRD | د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت |
| NDS | د ملي امنیت ریاست |
| NRAP | کلیو ته د لاسرسۍ ملي پروګرام |
| NSC | د ملي امنیت شورا |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام |
| P&RTF | د سولې او ټولنې سره د بیرته یو ځای کیدلو مالي صندوق |
| PPC | د سولې ولایتي شورا |
| PTS | د افغان سولې تحکیم |
| UXO | نا چاودل شوې مهمات |

# 1. سریزه

افغانستان د ۱۹۷۹ کال راهیسې درې لسیزو څخه زیات د بهرني اشغال، کورنیو جګړو، او باغیګرۍ سره مخ وه.[1] چې د شوروی اتحاد د جمهوريتونو د تیري په وړاندې د یوې لسیزه مقاومت وروسته، بیا دلته د مجاهدینو د سیالو ډلو او سیمه ایزو زوراکو تر منځ د واک پر سر کورنۍ جګړې پیل شوې. له هغه وروسته په ۱۹۹٦ کال کښې طالبانو کابل و نیو او د ۲۰۰۱ کال پورې یې د افغانستان زیاتره برخې د خپلې اداري لاندې و ساتلې.[2] سره له دې چې د طالبانو له سقوط وروسته افغانستان ته له جګړې وروسته په پراخه توګه ډیره پاملرنه وشوه، خو بیا هم دا داسې یو هیواد پاته شو چې جګړه او بې ثباتي پکښې پر خپل ځایه پاته شوه، چې دلیل یې د افراطیت د تاوتریخوالي او وسلوالو مخالفو ډلو شتون ګڼلای شو.[3] له ۲۰۰۱ کال څخه راهیسې په مجموعي توګه د ټولو کټګوریو په ګډون د جګړه ایزو خلاف ورزیو له امله ۹۲۰۰۰ خلک زیانمن شوي دي. ۲٦۲۷۰ ملکي وګړي وژل شوي دي، او ۲۹۹۰۰ وګړي ټپيان شوی دي.[4] افغانستان لا تر اوسه هم د نړیوالې سولې د شاخص له نظره د ۱٦۲ هیوادونو په ۱٦۱ درجه کښې قرار لري، چې له ۲۲ کمي او کیفي شاخصونو څخه یې ترکیب موندلای دی او د سولې او جګړې اړوند پراخه پیمانه موضوعات پکښې شامل دي، له هغې جملې څخه ټولنیز خوندیتوب او امنیت، سیاسي بی ثباتي، سیاسي ترور، بې ځایه کیدل، داخلی او نړیوال، داخلی نخښتي، ګاونډیو هیوادونو سره اړیکي او نظامي ګری یادولای شو.[5]

په افغانستان کښې د ناامنی او افراطیت د تاوتریخوالي د لګښتونو په اړه لکه د بیلګې په توګه د ژوند له لاسه ورکول او فزیکی او عمومي امنیت، ډیري څیړنې شوي. په هر حال، ناامنی او د افراطیت د تاوتریخوالي همدارنګه مالي او اقتصادي لګښتونه لري. د امنیت په برخه کښې پانګول شوي عامه منابع، د ډیرو نورو اړینو عامه خدماتو لکه ښوونې او روزنې او روغتیا پاملرنې سکتور څخه را بیلې شوي او په امنیتي چارو لګول شوي دي. هغه لګښتونه چې په امنیتي زیربنا او تجهیزاتو کیږي د هغو منابعو څخه کیدای شي د سړکونو، ښوونځیو، او نورو ودانیو جوړولو لپاره کار واخستل شي.[6] کورنیو جګړو او بې ثباتۍ دا ښودلې ده چې دې حالت په پانګوالي او سیما او اقتصادي ودې منفی اغیزه غورځولې ده[7] څیړنې دا ښودلې ده چې د اوسیدونکو د اړتیاو او هیلو په برخه کښې ناکامي د غیر حکومتي ډلو، د مثال په ډول طالبانو یا نورو باغي ډلو د ملاتړ سبب کیدای شي چې هغوی د یو کمزوري یا فاسد دولت ممکنه ځای نیونکی جوړیدلای شي.[8] دا کولای شي داسې

[1] ویلیام برد، " د افغانستان د تاریخ له درسونو، اوسني انتقالي بهیر او نور موضوعات،" د امریکا د متحده ایالاتو د سولې موسسه، ۲۰۱۲، http://www.usip.org/sites/default/files/SR314.pdf.

[2] توماس بارفیلد، "افغانستان: فرهنګی او سیاسی تاریخ ،" پرینستون، نیوجرسی: پرینستون د پوهنتون خپرونه ، ۲۰۱۰.

[3] آنیلا دولتزی، "د یو بل پسې څه رامنځته کیږي؟ په افغانستان کښې د جګړې په اړه یو یادښت، " فرهنګی انسان پیژندنه، د مار[ ۲۴، ۲۰۱۴ کال،http://www.culanth.org/fieldsights/503-what-comes-after-the-after-notes-on-a-post-conflict-afghanistan.

"څیړنو ښودلې ده چې په افغانستان او پاکستان کښې د جګړې له امله د تلفاتو شمیره ۱۴۹۰۰۰ ته رسیږي،" د واتسون د نړیوالو او عامه چارو موسسه، د براون پوهنتون، د جون ۲، ۲۰۱۵ کال، http://watson.brown.edu/news/2015/costs-war-research-shows-war-related-deaths-afghanistan-and-pakistan-149000.

[4] نتاسي کرافورد، " له ۲۰۰۱ – ۲۰۱۴ کال پورې په افغانستان او پاکستان کښې د جګړې پورې اړوند مړینه، زیان موندنه، او بې ځایه شوي خلک،" د جګړې لګښتونه، د واتسون د نړیوالو مطالعاتو موسسه، د براون پوهنتون، د جون ۲۲، ۲۰۱۵ کال، http://costsofwar.org/sites/default/files/articles/14/attachments/War%20Related%20Casualties%20Afghanistan%20and%20Pakistan%202001-2014%20FIN.pdf.

[5] ""د نړیوالې سولې شاخص ۲۰۱۴ کال: د سولې اندازه کول صلح او د هیواد لپاره د خطر اټکل"، د سولې او اقتصاد موسسه، ۲۰۱۴ کال،" http://www.visionofhumanity.org/sites/default/files/2014%20Global%20Peace%20Index%20REPORT.pdf.

[6] ګوران لیندګرن، "د کورنیو جګړو اقتصادي لګښتونه،" د اقتصاد او امنیت په اړه نهمه نړوال مقاله، د چون ۲۳ – ۲۵، ۲۰۰۵ کال، د بروال مرکز، کلیفتون، بریستول، http://carecon.org.uk/Conferences/Conf2005/Papers/Lindgren.pdf.

"د جګړو اغیز،" نړیوال بانک، ارائه، فبروری، ۲۰۰۷ کال،

"د تاوتریخوالي د مهار کولو اقتصادي لګښتونه: د نړیوال تاوتریخوالي د لګښتونو هر اړخیزه ارزونه،" د سولې او اقتصاد موسسه، ۲۰۱۴ کال، http://www.visionofhumanity.org/sites/default/files/The%20Economic%20Cost%20of%20Violence%20Containment.pdf.

[7] ګوران لیندګرن، "د کورنیو جګړو اقتصادي لګښتونه،" ۲۰۰۵کال.

[8] سوکانیا پودر، "نا دولتي وسلوالې ډلې او ثبات: د مشروعیت و شمولیت له نظره،" معاصر امنیتی سیاست، شماره: 34،16-39: (2013) .

يو نا سم دوران را منځته کړي چې د خدماتو د نه ورِاندې کولو او ښه حکومتوالي د نشتون له امله د پیسو نه لګښت وسله والو مخالفو ډلو سره خواخوږۍ ته لاره هواره کړي.

د لګښتونو بیلا بیل ډولونه شتون لري – مستقیم او د لمس وړ، غیر مستقیم او د لمس وړ، مستقیم او چې د لمس وړ نه دي، غیر مستقیم چې د لمس وړ نه دي. مستقیم او د لمس وړ هغه دي چې د هغوی تادیه شوې ده، یعنې پیسې لګول شوي دي.غیر مستقیم ملموس لګښتونه په اقتصاد کښې مالی ارزښت لري، اما د یو امکان د لاسه ورکولو په معنی ګڼل کیږي؛ د هغوی مثال لړه ګټه او یا هغه ګټه کیدای شي چې د لږ تولید له امله لاسته راغلي وي. دا غیر مستقیم لګښتونه هم د اندازه کولو وړ دي، اګر چه هغه په اټکل شوو لګښتونه کښې شمیرل کیږي او د واقعی لګښتونه په جمله کښې نه شمیرل کیږي. مستقیم لګښتونه چې د لمس وړ نه دي، نیغ په نیغه له د تاوتریخوالي له یو عمل ځخه سرچینه اخلي، اما هیڅ پولي ارزښت نه لري؛ د هغه مثال درد او کړاو دی، او د عاطفې له مخې د تاوتریخوالي له امله د یو دوست له لاسه ورکول دی. غیر مستقیم لګښتونه چې د لمس وړ نه دي، او د تاوتریخوالي ځخه سرچینه اخلي، او هیڅ پولي ارزښت نه لري؛ د مثال په توګه په هغو وګړو باندې منفی رواني اغیزې چې تاوتریخوالي یې په خپلو سترګو لیدلای دی، اما په عددی توګه نه شي اټکل کیدای.[9]

سره له دې چې د افراطیت تاوتریخوالي او وسله وال مخالفین زیاتره وختونه د دولت د کنترول، پالیسیو، د منابعو تخصیص لپاره یو بهرنی عنصر دی، خو که چیرې وکتل شي د زیاترو دولتی فعالینو نه فصاحت او بلاغت به د ناامنیو لپاره مساعد چاپیریال او یا نه منلو وړ فضا را منځته کړي. پر دې سربیره، په افغانستان کښې، په محلي کچه ډیر فعالین لکه مذهبی مشران د نظم د ساتلو ښه وسایل دي، چې له دولت، محلي ټولنو، محلي وسله وال فعالین، او یا افراطی ترهګرې ډلې لکه طالبانو سره اړیکې تامیین کړي. مذهبی او محلي مشران زیاتره وختونه معیارونه رامنځته کوي او واک او شکل د محلي نظره د خپل اغیز لاندې راولي. په داسې حال کښې چې د سولې د ترویج لپاره د مذهبی او محلي مشرانو امکانات په پراخه کچه د ستاینې وړ دي، دا مهمه ده چې پوه شو چې هغوی دا توان لري چې سره را ټول شي او د ناامنی او د افراطیت د تاوتریخوالي چاپیریال رامنځته کړي.

د افغانستان د خلکو په اړه د ۲۰۱۴ کال یوه سروې چې د آسیا فونډیشن له لورې تر سره شوې ده، په ټولیز ډول ۳۴ ٪ خلکو نا امني، حملې، تاوتریخوالي یا ترهګري د تر ټولو سترو ستونزو په توګه ښودلې دي. ۷ ٪ خلکو چې په سروې کښې یې برخه اخیستې وه په ځانګړې توګه د طلبانو ، او ٦ ٪ ځانمرګیو بریدونو یادونه کړې ده. په داسې حال کښې چې د وسله وال مخالفو ډلو سره خواخوږي د ۲۰۰۹ کال ځخه راهیسې د پام وړ را لږه شوې ده یعنې ٥٦ ٪ ته راټیټه شوې، په ۲۰۱۴ کال کښې د ځواب ورکونکو ۳۲ ٪ خلکو ویلي چې وسله وال مخالفو ډلو او باغیانو سره "ډیره" یا "لږه" خواخوږي لري. په راپور کښې دا هم راغلي چې د کلیوالو سیمو اوسیدونکو خواخوږي د وسله وال مخالفو ډلو سره په پرتلیز ډول ډیره ده، او هغه خلک چې په نا امنو سیمو کښې اوسیږي د هغوی د خواخوږۍ کچه د پام وړ اندازه لوړه ده.[10] دا لاسته راغلي معلومات دا په ګوته کوي چې هغه کسان چې د وسله وال مخالفو ډلو او باغي فعالینو ملاتړ کوي، د بشر په حقوقو ولاړې کړنلارې امکان لري د سولې لپاره د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره بس نه وي. د دې پروژې هدف د ممکنه ارادي نشتون چې د نا امني او د افراطیت د تاوتریخوالي چې د جګړو سبب ګرځي مخه ونیسي، پر حقوقو ولاړې طرحې د داسې یو متبادل برابرول تر څو اقتصادي او مالي لګښتونو د محاسبې له نظره د افراطیت د تاوتریخوالي مخنیوي وکړي، پاملرنه کول دي.

# 1.1 کړنلارې او روشونه

لکه د افغانستان په څیر د اوږدې مودې جګړې یو پیچلی انځور وړاندې کوي، او د بې ثباتی عمومي چاپیریال د معلوماتو د راټولولو په لار کښې خنډ ګرځي.[11] په دې توګه، د لګښتونو د محاسبې لپاره هیڅ یو مناسب موډل (طرحه) شتون نه لري.[12] بیلا بیلې لارې چارې د لګښتونو د حسابولو لپاره شتون لري. په ټولیز ډول، د جګړې د اقتصادي لګښتونو اندازه د یو یا ډیرو روشونو له لارې تر سره کیږي. محاسبه یا نمونو جوړول. دا څیړنه د اغیز د معلوملو لګښت، کوم چې د محاسبې د روش له لارې د یوې ځانګړې موضوع اړوند ټولیزې / اقتصادي اغیزمنتیاوې اندازه کوي. د اغیزمنتوب لګښتونه مستقیم او غیر مستقیم، د لمس وړ او هغه چې د لمس وړ نه دي، د تاوتریخوالي د قربانیانو، د هغوی کورنۍ، کلي او پراخه کچه ټولنې اندازه کوي. په دې څیړنه کښې، دا کار د یوې اضافي کړنلارې له لارې تر سره کیږي، په داسې حال کښې چې بیلې لارې چارې چې د هغو په واسطه د جګړو له امله رامنځته شوي لګښتونه او اقتصادي اغیز په جلا جلا توګه ارزول شویدي.

په اوسنۍ څیړنه کښې د مخلوطو روشونو، یعنې دواړو روشونو کمیت او کیفیت ځخه کار اخستل شوی دی. د دې څیړنې لپاره، د یو شمیر لمړیو او دوهم لاس منابعو او معلوماتو ځخه کار اخستل شوی دي. لمړنې معلومات د مهمو ذیدخلو اړخونو سره د مرکو له لارې په (۷) ولایاتو

[9]ډاکتر تانیس روز، ډاکتر کاترین مک کنا، و ډاکتر بالوس، "د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اقتصادی لګښتونه: د اسنادو یوه ارزونه،" ۲۰۰۵ کال، , http://www.un.org/womenwatch/daw/vaw/expert%20brief%20costs.pdf.

[10]"د افغانستان انځور،" آسیا فونډیشن، ۲۰۱۵ کال،.www.afghansurvey.asiafoundation.org ,

[11]حامد اي علی، "د وسله والو جګړو د اقتصادي لګښتونو اټکل: دارفور ځخه د یوې قضیې مطالعه،" د سولې او دفاع اقتصاد ۲۴، شماره: ٦ (۲۰۱۳): ۵۳۰ – ۵۱۹.

[12]هماغه ځای.

کنبې را ټول شوي دي – کابل، باميان، هرات، فارياب، قندوز، ننګرهار او قندهار. په هر ولايت کنبې مرکې د کورنيو، دفاع، اقتصاد، عامې روغتيا، ښوونې او روزنې، فوايد عامې، او د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارتونو د څانګو د رئيسانو او يا معاونينو سره تر سره شوې دي. پر دې سربيره په هر ولايت کنبې په يوه روغتون کنبې له يو ډاکټر، د ښوونځي د يو مدير يا ښوونکي، او همدارنګه د سولې د ولايتي شورا (PPC) د يو غړي سره يوه مرکه تر سره کړې ده. پر دې سربيره، په هر ولايات کنبې د شپږو قضيو ډيرې ژورې مطالعې، د سناريو په نظر کنبې نيولو او معيار سره سم، را ټولې شوې وې. د قضيو د مطالعې سناريو ګاني د لاندينيو څخه عبارت وې: د کورني يو (غير نظامی) غړی چې د کور پالنه ور پر غاړه وه او وسله والو ډلو د تاوتريخوالي له امله مړ شوی دی؛ د کورنۍ يو ملکي غړی چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو کنبې دنده يې درلوده او د وسله والو ډلو د تاوتريخوالي له امله مړ شوی دی؛ يو پلار او مور چې په نا امنه سيمه کنبې ژوند کوي او د همدې امله يې کوچنيان د نا امنی سره مخ دي؛ په يوه نا امنه سيمه کنبې د يو هټۍ (دکان) يا مغازې لرونکی يا د سوداګری څښتن چې نا امنۍ د هغه په سوداګرۍ او اقتصاد اغيز کړی دی؛ په يوه نا امنه سيمه کنبې يو بې ځايه شوی وګړی (IDP) چې د جګړې او يا امنيت نشتوالي له امله بې کوره شوی دی. په ټوليزه توګه، ۱۰۰ مرکې چې په نيمه ډول ترتيب شوې وې د دې څيړنې لپاره په ولايتي او مرکزي سطحه سرته رسيدلې دي.

دوهم لاس معلومات د موجودو راپورونو او څرګندو شميرو له لارې، او همدارنګه راټولې شوې شميرې چې له موسساتو ملګرو ملتو او دولتي ادارو څخه لاس ته راغلي دي. دوهم لاس معلوماتي منابع په دې ټول راپور کنبې يادې شوې دي.

## 1.2 کاري حدود او محدوديتونه

ددې مطالعې هدف د افراطيت د تاوتريخوالي د اقتصادی لګښتونو اندازه کول دي. په همدې ډول، هغه به يوازې هغه تاوتريخوالي او بې ثباتۍ باندې تمرکز وکړي چې د وسله وال مخالفو ډلو د تاوتريخوالي څخه را برسيره شوي دي، نه په فزيکي جرم او جنايت او تاوتريخوالي چې د کوم فرد يا ډلې له خوا صورت نيولای وي. بلکه دا د هغه تاوتريخوالي اغيز تر نظر لاندې نيسي چې وسله والو مخالفو ډلو له خوا او يا هغوی سره د ټکر له امله رامنځته شوی وي، او د مثال په توګه نه غواړي هغه تاوتريخوالی او تلفات چې د نړيوالو ځواکونو او يا د افغانستان د ملي امنيت د ځواکونو (ANSF) او د افغانستان د ملی پوليسو (ANP)) له لورې چې وسله والې مخالفې ډلې پکنبې شريکې نه وي پاملرنه و نه کړي. پر دې سربيره، د موضوع پيلچلتيا او د افغانستان د اوږدې جګړې ځانګړتياو په نظر کنبې نيولو سره دا مطالعه يوازې د يو کال د لګښتونو اټکل کوي، نه د ټولو تيرو کلونو د جګړو مجموعي لګښتونه. په دې ترتيب، دا مطالعه د ۲۰۱۴ کال د تاوتريخوالي او بې ثباتۍ د لګښتونو اټکل کوي، خو د ۲۰۱۴ کال ډير وروستۍ شميرې شتون نه لري. په دغه چوکاټ کنبې، دا مطالعه به همدارنګه راتلونکي لګښتونه هم چې په دغه وخت کنبې د تاوتريخوالي له امله رامنځته شوي، مثلا د ټول عمر عوايد له لاسه ورکول را شامل کړي. د راتلونکو لګښتونو د محاسبې پر مهال، د مجموعي نرخ را ټيټيدل هم په کار وړل کيږي. دا کړنلاره د هغو لګښتونو د محاسبې چې په مختلفو وختونو کنبې يې په تيره زمانه کنبې صورت نيولای، د لګښتونو تشريح په داسې بڼه وکړي چې د اوسني مهال د ارزښت انعکاس پکنبې موجود وي. د راتلونکو لګښتونو تنزيل او ګټې د فرصت پر لګښتونو ولاړې دي، چيرې چې د مصرف اندازه په اوسنيو شرايطو کنبې هغومره ده چې کيدای شي د هغه د متبادل استعمال لپاره توليد شي. دا د يوې پانګې د توليدي امکان او پانګې حساب ور کوي، او هدف يې دادي چې د راتلونکو ارزښتونو د مالي منابعو حساب چې د راتلونکي پر نسبت اوس لوړ ارزښت لري، ميزان او تنظيم کړي.[13]

په ټوليزه توګه مخ پر وده هيوادونه د ټولنيز تنزيل نرخ د پرمختللو هيوادونو په پرتله لوړ عملي کوي، يعنې معمولا د ۸ – ۱۵ ٪ پورې. د يو اټکل شوی ۱۲ ٪ سطحې څخه شروع،[14] د ټولنيز تنزيل نرخ د انفلاسيون موضوع هم د ۴،۶ ٪ نرخ په اندازه په نظر کنبې نيسي،[15] او ناخالص داخلي توليد لپاره ۲ ٪ نرخ په نظر کنبې نيسي،[16] او د دې کار لپاره ۴،۵ ٪ د مالي تنزيل نرخ په نظر کنبې نيسي.

[13] مارک هريسون، "راتلونکې ته ارزښت قايليدل: د لګښتونو او ګټې په تحليل او شننه کنبې د ټولنيز تنزيل نرخ ،" د استراليا دولت د توليد کميسيون، د څيړونکي د سند مطالعه، آپريل ۲۰۱۰ http://www.pc.gov.au/research/completed/cost-benefit-discount/cost-benefit-discount.pdf.

[14] د ۱۲ د فيصدی اندازه چې زياتره وختونه په نورو هيوادونو کنبې چې په جغرافيوي او محتواييد لحاظ ور ته والی لري لکه چې هند، پاکستان، او د آسيا پرمختيايي بانک کنبې په کار وړل کيږي (مارک هريسون، "د راتلونکي ارزښت منل: د لګښت او ګټې د تحليل د نرخ تولنيز ټيټوالی،" ۲۰۱۰.

[15] د ۲۰۱۴ کال لپاره د نړيوال بانک شميرې

[16] د ۲۰۱۴ کال لپاره د نړيوال بانک شميرې

په محاسبه کښې هر ډول راتلونکي لګښتونه د دغه ټول راپور لپاره، د محاسبې د لاندې سیستم څخه کار اخستل شوی دی:

$$\text{اوسنی ارزښت} = \sum_{i=0}^{t} (1/1 + .054)^{i}$$

په دې مساوات کښې، (t) د وخت ټوله اندازه ده د کومې پر بنسټ چې ارزښت محاسبه شوی دی.

مهمه ده پام وکړئ چې د افغانستان د ملي بودجې د اټکل پر بنسټ په ملي بودجه کښې د هغو شمیرو څخه کار اخستل شوی چې د ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) کال په بودجه کښې تخصیص ور کړای شوي وه. په هر حال، د زیربنا لپاره شمیرې د انکشافي بودجې، چې د ۱۳۹۳ کال په خپره شوې ملي بودجه کښې نه وو شامل شوې، نو پر همدې اساس دا ډول شمیرې د ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) کال ملي بودجې څخه اخستل شوي دي. پر دې سربیره، دا مطالعه د مرسته کونکو او دولتي مالي منابعو تر منځ هیڅ توپیر نه په ګوته کوي، البته داسې یو توپیر په ګوته شوی وه چې دا موضوع د دغې څیړنې د عمومي مقصد د حدودو څخه بهر وه.

دا مطالعه په اقتصادي لګښتونو کښې علاقه لري، دا به یوازې په مستقیمو او غیری مستقیمو د لمس وړ لګښتونو باندې تمرکز و کړي چې کیدای شی د اعدادو په مرسته د مالي او اقتصادي لګښتونو چې د تاوتریخوالي او بې ثباتۍ له امله رامنځته شوي، ارزښت ورکول شي. په هر حال، غیر ملموس لګښتونو ته به د کیفي مرکو او قضیو د مطالعې له لارې پاملرنه و شي. یوه اضافي کړنلاره خطر لري او هغه دا چې کیدای شي دوه ځله حساب شي، په داسې حال کښې چې لګښتونه په مستقیمه او غیری مستقیمه توګه د یوې څخه پر زیاتو کټګوریو کښې ارزول کیږي. په هر حال، دا د څیړنې د یو دقیق ډیزاین او هرې کټګورۍ د یوې ژورې کتنې او محاسبې چې د ساحوي کار او معلومات د راټولو څخه وروسته طرحه شوي وه.

د ستر اقتصاد د محاسبې د نتایجو لپاره د موډل جوړلو کړنلاره د افغانستان د جګړې او بې ثباتۍ په حالت کښې سخت کار دی، د اوږدې مودې جګړه او جګړه ایز حالت کښې د جګړې د نشتون په صورت کښې به د اقتصادي ودې پر خلاف د یو زماني تسلسل له نظره تحلیل او شننې ته اجازه نه ورکوي. ځینې موډلونه داسې ګڼي چې وده د نورو اقتصادي عواملو تر څنګ د دولت نظامي لګښتونه یو فعالیت دی. په هر حال، په افغانستان کښې به داسې یو موډل د بهرنیو لګښتونو او نړیوال ملاتړ چې د ملي بودجې څخه خارج صورت نیسي په پام کښې نیول د واقعیت خلاف کار وي چې په دې موډل کښې به حساب کښې نه شاملیږي. پر دې سربیره، د داسې یو موډل په کار وړل چې د نورو هیوادونو د شمیرو / معلوماتو څخه پکښې کار اخستل شوی، د دې څیړنې د کاري ساحې څخه بهر ده. له همدې امله، د لګښتونو محاسبه به د هغو لګښتونو پورې محدوده وي چې کولای شو د اضافي موادو د کاروني کړنلارې څخه په استفاده یې اټکل کیدای شي؛ نور احتمالي اقتصادي نتایج لکه اقتصادي وده او د مستقیمې بهرنۍ پانګونې له لارې د عاید له لاسه ور کول، د کیفی نظره ارزول شوي دي.

د دې څیړنې د کړنلارې په برخه کښې یو د پام وړ محدودیت شتون لري او هغه دا چې هغه په یو زیات شمیر فرضیو ولاړ ده، چې په دې ټول راپور کښې ور ته اشاره شوې ده. د باوري معلومات د نشتون په صورت کښې، زیاتره شمیرې د تقریبي شاخصونو له مخې حساب شوی دي، چې د هغو تفصیلات په الف ضمیمه کښې موندل کیدای شي. مهمه ده یادونه و کړو هغه معلومات او شمیرې چې په دې راپور کښې ذکر شوي دي، د مصارفو د واقعي حساب ښودونکي نه بلکه د تقریبي حساب ښودونکي دي، په ځانګړې توګه کله چې نه لمس کیدونکي غیر مستقیم لګښتونه اټکل کیږي. د زیاتو فرضیو د اړتیا له امله، د جګړې د لګښتونو اټکل تر پوښتنې لاندې دی. په دې ترتیب، په ټول راپور کښې ډیره پاملرنه دې ته شوې چې د محاسبې او شمیرو د کارلو له نظره رښتیونی او شفاف وي. دا کار لوستونکو ته اجازه ورکوی چې محاسبات په خپله و ارزوي او لاسته راغلو معلوماتو څخه په مناسبه توګه کار واخلي.

دا هم ډیره مهمه ده تر څو پوه شو چې په دغه کړنلاره کښې، څیړنه دا نه ګڼي چې هغه پیسې چې د امنیت په برخه کښې لګیدلې، که امنیت ښه شوی وای حتما به په نورو سکتورونو کښې خرڅ شوی وای. د بیلګې په توګه، د امنیت په برخه کښې ښه والي او د دفاع وزارت په بودجه کښې لړوالی، په دې معنا نه دی چې عین بودجه کیدای شي د ښوونځیو او یا سړکونو لپاره و کارول شي. باید په یاد ولرو چې دا کار د دې لپاره په خاص ډول ځکه مهم دی چې د مرسته ورکونکو ادارو د مرستو اندازه چې د ملي بودجې له لارې ټاکل کیږي، په داسې حال کښې دا نه شي ګڼل کیدای چې د معمول له مخې یو مشخصه اندازه

مالي مرسته برابره کړي، پرته له دې چې دا په نظر کښې و لرو هغه به د کوم سکتور لپاره تخصیص کیږي.
الف ضمیمي ته رجوع وکړئ: د لګښت محاسبې

## 1.3 مفاهیم او تعریفونه

د افراطیت د تاوتریخوالی کیدای شي هغه تاوتریخوالي په بڼه تعریف شي چې د راډیکال سیاسي، ټولنیزو، فرهنګی، او مذهبی سره تړاو لري [17]. د دې څیړنې د اهدافو لپاره، په افغانستان کښې افراطي تاوتریخوالي پر هغو ټولو وسله والو مخالفو ډلو اطلاق کیږي چې نیغ په نیغه په تاوتریخوالي اخته وي.

## 2. د افراطیت د تاوتریخوالي لګښتونه

په ټوله نړۍ کښې د سړې جګړې تر پای وروسته، ډیر اقتصاد پوهان او د ټولنیزو علومو پوهان – په لمړې درجه د اروپایي او امریکایي هیوادونو څخه – ډیر وخت د جګړې د تحلیل او شننې لپاره وقف کړ تر څو د جګړې د عواملو او پایلو پر اړه چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه د غربی هیوادونو تر اغیز لاندې وو، روښانه نظر وړاندې کړي. د جګړې او شخړو د تحلیل او شننې لپاره د اقتصادي نظریو څخه استفاده په ورته وخت کښې را پورته شوه [18] او د منطقي دلیل په توګه د فردي کړنلارې د معرفت پیژندنې د یو غوراوي په توګه په دواړو سیاسي او اجتماعی علمي محافلو کښې یوه فرضیه و ګرځیده. [19] له هغه ځایه چې د جګړې اړتیا او د دولتونو حالت په مستقیم ډول د اقتصاد سره تړلی دی، او د جګړې زیان اړونکو پایلو ته په کتنه، د داسې یوې څیړنې تر سره کول چې مستقیما د جګړې د اقتصادي لګښتونو سره پیوند لري، معقول کار معلومیږي. په هر حال، د جګړې او همدارنګه د افراطیت د تاوتریخوالي د لګښتونو اټکل کول په هیڅ دلیل د یوې مخکینی نتیجې په توګه ډیرو د سلوک بدلونې موضوعاتو او کړنلارو باندې د برلاسی یوه اړتیا ده.

## د سلوک بدلون او هڅونې

د یوې څیړنیزې پروژې د پیل څخه د مخه باید د جګړې لګښتونه اټکل کړي، د اخلاقي نظرې دا اړینه ده چې د هغوی هڅونو ته پاملرنه وکړي، چې د داسې څیړنو کوښښونه په حرکت راولي. په داسې حال کښې چې کیدای شي د دفاع وزارت د یوې ممکنه جګړې د اقتصادي لګښتونو سره علاقه ولري تر څو د بودجې اړتیاوې و ارزوي، یو علمي یا غیر دولتی اداره کیدای شي د جګړې د اقتصادي لګښتونو د ارزونې سره د سولې لپاره د ملاتړ د پیدا کولو په هیله علاقه و لري. د جګړې د لګښتونو د اټکلولو هدف چې څه شی او څنګه محاسبه شي د تصمیم نیولو لپاره مهم دی. په اسنادو کښې دا توپیر د ښه مثالونو د وړاندې کولو له لارې د هغو کسانو د ګټو د یو ځای کولو له لارې چې د سولې په اړه دا څیړنه تر سره کوي (د بیلګې په توګه د سولې د ګټې دلایل وړاندې کول) او د جګړې مالي تامینات (د بیلګې په توګه د یوې ټولنې یا دولت لپاره په جګړه کښې د اخته کیدو د لګښتونو محاسبه کول). [20] د ټاکونکو عواملو په توګه د جګړې د لګښتونو د محاسبه کولو عمل هم یو دقت او ځانګړو تخنیکونو څخه د کار اخستل دي، یعنې د لګښتونو ترکیب توپیر لري او د څیړونکو د د سلوک او لید لورې پورې اړه لري. په دې اړه تصمیم چې کوم ځانګړي شاخصونه پکار واچول شي او کوم نه، مثلا په ټولنه کښې د بیلو ډلو لپاره د لګښتونو او ګټو تر منځ توپیر په ګوته کول یا په هغو هیوادونو کښې چې خلک یې لوړ عاید لري د هغو هیوادونو پر مقایسه چې خلک یې ټیټ عاید لري، د یو انسان د ژوندانه د لګښتونو د ارزیابی د تعریف له نظره یوه اخلاقي پوښتنه ده. تاسې څنګه د جګړې له امله پر جنسیت اغیزې سره یو ځای کولای شئ؟ تاسې څنګه کولای شئ په مختلفو ټولنو کښې د یو انسان د ژوند لګښت حساب کړئ؟ د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي اقتصادي لګښتونو په اړه موجود اسناد د سلوک اندیښنو ته ډیر کم پام کوي (البته استثناء شته) [21] ځکه ټول تمرکز په کړنلارو او د محاسبې پر تخنیکونو باندې صورت نیسي. د روښونو فلسفي بنسټ په ګوته کول چې کار ترې

17جورجیا هولر، "د افراطي تاوتریخوالي پر وړاندې مبارزه: : د سولې نظریه رامنځته کول،" د متحده ایالاتو د سولې موسسه ، سپتامبر ۲۰۱۳ کال-http://www.usip.org/sites/default/files/SR336
Countering%20Violent%20Extremism-A%20Peacebuilding%20Perspective.pdf.

[18] د کینز له یوې استثنا خپرونې سره "د سولې اقتصادی پایلې" چې په هغې کښې اقتصاد پوهانو / سیاستمدارانو خبرداری ورکړی چې د لمړې نړیوالې جګړې وروسته یوه غچ اخستونکي سوله به په ټولیزه توګه د اروپا امنیت له خطر سره مخامخ کړي.

[19] کریستوفر کرامر، " اقتصادي انسان جګړې ته مخه کوي: د فرد پالنې کړنلاره، په پوهه غوراوي او د جګړې سیاسي اقتصاد"، ۲۰۰۲.

[20] رون اسمیت، "د پوځي جګړو اقتصادی لګښتونه"، ۲۰۱۳.

[21] هماغه ځای.

اخستل کیږي، په عمومي توګه پرې په دې سند کښې د دې موضوع په پلوۍ هیڅ تخنیکي بحث او خبرې نه دي شوې.

## د روښونو نیمګړتیا او ننګوني

په دې سند، د جګړې د بیلا بیلو بڼو د لګښتونو د اټکل د محاسبې اړوند هیڅ ډول توافق شتون نه لري، اما یو ډیر شمیر روښونه شته چې زیاترو څخه کار اخستل کیږي. زیاتره لیکوالان د غیر مستقیمو لګښتونو پر ځای پر مستقیمو لګښتونو تمرکز کوي (که دا کورنۍ او یا بهرنۍ جګړې وي)، ځکه د غیر مستقیمو لګښتونو حسابول ګران کار دی. مستقیم لګښتونه زیاتره وختونه په بودجوي مصارفو کښې شامل وي، په داسې حال کښې چې په غیر مستقیمو لګښتونو کښې د اقتصادي فاکتورونو په څیر اقلام شاملیږي. د روش له نظره، یو شمیر خلک د حسابدارۍ مروج تخنیکونه په کار اچوي، خو نور بیا د تحلیل او شننې لپاره د واقعیت خلاف روښونو څخه کار اخلي. تر څو د جګړې فارغ واقعیت خلاف نتایج او موجوده جګړه ایز حالت تر منځ توپیر ارزیابي کړي. دواړه روښونه خپلې خپلې نیمګړتیاوې لري.

د واقعیت خلاف تحلیل او شننه چې په عمومي توګه اشاره ورته شوې د باسک د هیواد د قضیې مطالعه ده. [22] د دې څیړنې لیکوالانو د جګړې لګښتونه د واقعیت خلاف محیط د جوړولو یعنې د باسک بې جګړې هیواد سره چې ورته حالت لري لکه د واقعي باسک هیواد سره ارزولي دي. دا کار ټیم ته د یو واقعي او فرضي هیواد تر منځ د یوې مقایسوي مطالعې اجازه ورکوي، چې په پایله کښې د تولید د لاسه ورکولو له نظره د جګړې د تقریبي لګښتونو معلومات برابروي. حتی که څیړنه په باوري او ښه طریقه ترسره شوې هم وي، لکه څنګه چې یې پورته یو مثال ذکر شو، میتودیک موضوعات، لکه د واقعیت خلاف تحلیل او شننې ډیرې فرضیې، د یو ستونزې په حیث باقي پا ته دي. د بیلګې په توګه، د واقعیت خلاف یو تحلیل او شننه د واقعي معلوماتو شتون ته اړتیا لري [23] او قطعي وخت چې په آسانۍ د پوهیدلو وړ دی تر څو د جګړې د پیل او پای وخت په ګوته کړي. نور موضوعات د تیوریکي موډل، چې د اقتصاد لپاره ترې کار اخستل کیږي، په غیري واقعي قضایاو کښې د فرضیې شاخصونو لپاره اټکل [24] او د تخنیکي نظره د اقتصادي سنجش او موډل جوړونې پر بنسټ پام کول دي. [25]

د حسابدارۍ هغه تخنیکونه چې د جګړې او افراطیت د تاوتریخوالي د لګښتونو د اټکل د محاسبه کولو لپاره ترې کار اخستل شوی په هماغه اندازه خپلې نیمګړتیاوې لري، سره له دې چې  هغه ډیره ساده او د اقتصاد سنجش له نظره ډیر سخت نه دي. د مستقیمو لګښتونو د اټکل یوه برخه په تیرو، اوسنیو  او راتلونکو بودجوي مصارفو را څرخي. په داسې حال کښې چې د بودجې د لګښتونو اټکل لکه نظامي لګښتونو سخت نه دي، دا اړینه نه ده چې هغه باید د جګړه ایزو لګښتونو له نظره چې تل حتما دقیق وي، لکه چې د دفاع  وزارت به په زیات احتمال په نا جګړه ایز چاپیریال کښې د دوامدار بهرني ګواښ د موجودیت له امله شتون ولري، محاسبه کوي. د راتلونکو لګښتونو محاسبه کول په ځانګړې توګه ستونزمن وي، ځکه هغه پرمختیایي او متبادلې راتلونکي سناریو ګانې په بر کښې نیسي، لکه د مثال په ډول د سولې تړون، اوږدې جګړې، او یا د دوې تر منځ کوم بل داسې حالت – او د دې حالت د جبران لپاره لاړې چارې چې احتمالا د مختلفو حالاتو لپاره د اړتیا د اندازې سره سم د تیر حالت د تحلیل او تجزیه لپاره په کار وړل کیږي. [26]

بله موضوع د فرضي غیر مترقبه لګښتونو سره تړاو لري لکه نظامي لګښتونه، چې باور کیږي دا لګښتونه د ټولنیزې سوکالۍ لپاره ټاکل شوې بودجې یعنې ښوونې او روزنې او روغتیا څخه دې اړخ ته را اړول کیږي. په هر حال، دا حالت په څو جګړې ځپلو هیوادونو کښې کتل شوی دی. نور د اندیښنې وړ موضوعات د جمع کیدو اړوند پوښتنې (د معیوبیت څو کاله په محاسبه کښې شامل او څرنګه راتلونکې لګښتونه په هغو کښې شامل کړای شي؟)، سبب (څرنګه د انساني پانګې لګښتونه په هغه کښې شامل کړای شي؟)، او ځانګړې محاسبه (څرنګه د مغزونو د تیښتې له مخې اقتصادي ارزښتونه ارزیابي کړای شي؟).

# د راپور تمرکز

د واقعیت خلاف تحلیل او تجزیې ستونزې او په افغانستان کښې موجودو معلوماتو په نظر کښې نیولو سره، تصمیم و نیول شو چې د حسابدارۍ د داسې یو میکانیزم څخه کار واخستل شي چې د افراطیت د تاوتریخوالي د لګښتونو اټکل و کړي. مستقیم او غیر مستقیم لګښتونو ته په دې څیړنه کښې ځای ورکول شوی تر څو تر هغه کچې چې امکان

[22] خاویر ګردیزییل و آلبرتو آبادی، "د جګړې اقتصادي لګښتونه: د باسک د هیواد د قضیې مطالعه "، ۲۰۰۳ کال .

[23] استرګویس کاپرداس او همکاران یې، د تاوتریخوالي لګښتونه، نړیوال بانک، ۲۰۰۹ کال.

[24] رون سمیت، " د نظامي جګړې اقتصادي لګښتونه،" ۲۰۱۳ کال.

[25] اولاف د ګروت، "د جګړې د نړیوالو اقتصادي لګښتونو د محاسبې یوه کړنلاره"، DIW، ۲۰۰۹ کال.

[26] جوزف استیګلیتز او لیندا بیلمیز، د جګړې د لګښتونو اټکل: د میتو پیژندلو لاره، او په عراق او افغانستان کښې دهغو تطبیق، ۲۰۱۲ کال.

لري ـ د هیواد د ویجاړیدو اقتصادي لګښتونو چې د افراطیت د تاوتريخوالي څخه سرچينه اخلي او د غير بودجوي تاوانون مخه و نيول شي - په بشپړ ډول پوه شو. نا امنی په دولتي بودجه د پام وړ اغيزې لري، چې په مستقيمو د لمس وړ لګښتونو کښې شامليږي، اما هغه معلومات او شميرې چې په دې راپور کښې کار ترې اخستل شوی څرګندوي چې په زيربنا (د ويجاړتيا د اندازې له نظره) منفي اغيز لري، ښوونه او روزنه (د نا امنی له امله درسي کال له لاسه ورکول)، عامه روغتيا (د صدماتو او ژوند د لاسه ورکولو له نظره)، انساني پانګه (د يو کس د اقتصادي پوتانسيلونو له نظره) او د بيلا بيلو وګړو د ژوند تيرولو د وسايلو له نظره (لکه کډوال او داخلي بې ځايه شوي کورنۍ) په مساوي توګه د پام وړ او په نتيجه کښې په دې راپور کښې ځای ورکول شوی دی.

# 3 د لګښتونو جمع کول

## 3.1 د لمس وړ مستقيم لګښتونه

### امنيتي لګښتونه

| | |
|---|---|
| د دفاع وزارت اضافي بودجه | ۱۵۹۷۸٦۴۲۵۰ |
| د کورنيو چارو د وزارت اضافي بودجه | ۱۱۹٦۸۷۳۵۱۸ |
| د ملي امنيت د شورا اضافي بودجه | ۱۵۸۰۰۳۵ |
| د ملي امنيت د رياست اضافي بودجه | ۲۰۰۳۴۸۳۹۳ |

په نړيواله سطحه، پوځي لګښتونه د اقتصادي اغيز له نظره د تاوتريخوالي د مهارولو لپاره په يوازې توګه پراخه ونډه لري.[27] پوځي لګښتونه معمولا د جګړې او ترهګرۍ د ډيريدو زمينه برابروي، او داسې تمايل لري چې که حتی جګړه پای ته هم ورسيږي بيا هم بايد لوړه پاته شي. لوړ امنيتي لګښتونه کيدای شي عامه مصارف د توليدي اقلامو لپاره لکه روغتيا او ښوونه او روزنه د شتو منابعو د لړوالي سره مخامخ کړي، او د اوږدې مودې د ودې پايداره اندازه اغيزمنه کولای شي.[28] د پوځي لګښتونو څخه وروسته، پوليس او امنيتی، پوځي لګښتونه د دوهمې درجې په لوړو لګښتونو کښې راځي چې د نړيوال تاوتريخوالي د مهارکيدو سره مرسته کوي.[29]

د ۱۳۹۳ کال ملي بودجه، امنيتی بودجه د ټولې اصلي ملي بودجې ۴۴ سلنه جوړوي، چې په هغې کښې د ملي دفاع وزارت (MoD)، د کورنيو چارو وزارت (MoI) د ملي امنيت د شورا، د ملي امنيت د رياست، د ولسمشر حفاظتي خدمات، د بهرنيو چارو وزارت شامل دي. د ملي دفاع وزارت په يوازې توګه د ملي بودجې په سلو کښې ۲۴,۵، او د کورنيو چارو وزارت په سلو کښې ۱۵,٦ او په امنيتي برخه کښې د ۲۱ مجموعي کد څخه (معاشونه او اجورې) د کارکونکو د معاشونو اندازه ۵۲,۴ سلنه لګښتونه تشکيلوي.  په مقايسوي توګه، د اصلي ملي بودجې يوازې ۱۴

[27] "د تاوتريخوالي د مهار کولو اقتصادي لګښتونوه،" د سولې او اقتصاد موسسه، ۲۰۱۴ کال.
[28] سانجيو ګوپتا، بنديکت کليمنتيس، رينا باتاچاريا، و صامت چاکرا، «په لړ او منځني عايد لرونکو هيوادو کښې د وسله والو جګړو او ترهګرۍ مالي پايلې،" د سياسي اقتصاد اروپايي مجله، ۲۰ ګڼه. ۲ (۲۰۰۴) : ۴۰۳-۴۲۱.
[29] "د تاوتريخوالي د مهار کولو اقتصادي لګښتونه،" د سولې او اقتصاد موسسه، ۲۰۱۴ کال.

سلنه، زیربنا او طبیعي منابعو ته، ۱۲٫۹ سلنه ښوونې او روزنې ته، او ۴٫۳ سلنه روغتیا ته تخصیص شوې وه.[30]

په هر حال، د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي د لګښتونو د محاسبې لپاره، دا تصور نه شي کیدای چې د تاوتریخوالي نشتون به د امنیتی لګښتونو د شتون په معنا وي. پر دې سربیره، سره له دې چې پولیس معمولا د قانون د حاکمیت، نظم او قانون ساتنې، د انسانانو د خوندیتوب د فعالیتونو مسئولیت په غاړه لري، په افغانستان کښې، ملي پولیس په عمومي ډول د امنیتی چارو د سرته رسولو له نظره د افغانستان د ملی د افغانستان ملی امنیت شورا (NSC) د ولسمشر په فرمان تاسیس شوه تر څو ولسمشر ته د امنیتي موضوعاتو اړوند مشورې ور کړې، امنیتي پالیسي جوړه او همآهنګه کړي، د امنیتي سکتور پورې اړوند وزارتونو او ادارو تر منځ ارتباطات تامین کړي او د امنیتي پالیسی پر تطبیق نظارت و کړي، په داسې حال کښې دا اداره په امنیتي سکتور کښې د اصلاحاتو د همآهنګ کونکي دنده په غاړه لري. 32 له هغه ځایه چې دا اداره په ۲۰۰۲ کال کښې تاسیس شوې ده، د ملي امنیت شورا د باغي ښکیلو ډلو سره د سولې په برخه کښې دیپلوماسی دنده پر مخ وړي. 33 د ملي امنیت ریاست (NDS) د افغانستان د امنیتي او استخباراتي خدماتو څخه عبارت دی، چې په مستقله توګه خپلې چارې پر مخ وړي او د حملو مخنیوي کوي او د باغیانو شبکه او اکمالات تر هدف لاندې نیسي. 34 د ملي امنیت ریاست نور مسئولیتونه هم لري او همدارنګه خپل رسالت ته په پام، له هغې جملې څخه د تنظیم شوو جرایمو او فساد سره مقابله 35 څرنګه چې د ملي امنیت ریاست فعلا په لمړي ګام کښې د ترهګری او حملو پر مخنیوي تمرکز لري، د هغه ټول لګښتونه کیداي شي د جګړې او افراطي تاوتریخوالي په کټګوری پورې اړوند و ګڼل شي.

د دې اټکل په پام کښې نیولو سره، د دفاع وزارت بودجه د جګړې او تاوتریخوالي په صورت کښې شاو خوا (۱٫۵۹۸) میلیارده ډالره وی او د امنیتي ځواکونو یوه مهمه برخه تشکیلوي (افغان ملي امنیتی ځواکونه). کورنیو چارو وزارت په دې پوهیږي، چې افغان ملي پولیسو څخه د باغیانو پر خلاف د جګړې لپاره کار اخستل شوی او په جګړه ایزو عملیاتو کښې برخه اخستې ده.[31] له همدې امله، د دې شمیرو د ذکرهدف دادي چې نا امنیو له امله د پوځي او امنیتی لګښتونو اندازه چې په افغانستان کښې ورته په لوړه کچه د سولې د موجودیت په صورت کښې په غیري واقعي ښه اړتیا ده، معلومه کړي (تفصیلات په الف ضمیمه کښې وګورئ).

کورني چارو وزرات بودجه به شاو خوا (۱٫۱۹۷) میلیارده امریکایي ډالره څخه کمه وی. د ملي امنیت شورا رسالت ته په پام او د باغیانو بوختیا او د سولې بهیر، د ملي امنیت شورا ټوله بودجه (۱٫۵۸۰) میلیونه امریکایي ډالره د مستقیمو لګښتونو په توګه، او همدارنګه په ۲۰۱۴ کال کښې د ملي امنیت ریاست لپاره بودجه (۲۰۰٫۳۴۸) میلیونه امریکایي ډالره ده. پر همدې اساس، د مستقیمو جګړو او د افراطیت د تاوتریخوالي له امله امنیتي لګښتونه هر کال شاوخوا (۲٫۹۹۷) میلیارده امریکایي ډالره دي.

د دولتي چاراوکو په وینا، د دولت د لګښتونو عمده کټګوری د ماشین آلاتو او تجهیزاتو، زده کړو، معاشونو، او وسلو او مهماتو څخه عبارت دی. 36 په نورو لګښتونو کښې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره خواړه، لباس، ترانسپورت او تدارکات تر پوښښ لاندې راځي37 د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو او پرسونل برقرار ساتلو چې په هغو کښې د کورنیو چارو د وزارت او د دفاع د وزارت مرکه کونکي شامل دي ویلي چې د هر کس لپاره د ورځې (۵۰۰) افغانی 38 او په هره میاشت کښې (۷۰۰۰۰) 39 افغانۍ اټکل شوي دي چې دا هم د جګړو او نا امنۍ په اندازه او کارکونکو د رتبې پورې اړه لري.

له یو لورې، د افغانستان دولتي چارواکو دا احساس کړه چې امنیتي لګښتونه چې د نورو موضوعات لپاره یو مساعد چاپیریال جوړ او رامنځته

[30]د ۱۳۹۳ کال د ملي بودجې متن" د مالیې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۴ کال.

[31]"د افغانستان د ملي پولیسو لس کلنه دیدګاه: ۱۳۹۲ – ۱۴۰۲ پورې،" د کورنیو چارو وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۳ کال. https://ipcb.files.wordpress.com/2013/06/13-04-02-ten-year-vision-english-final-version.pdf.

[32]مارک سدرا، " په افغانستان کښې د امنیت سکتور انتقال،" د وسله والو ځواکونو لپاره د دموکراتیک کنترول اداره، NG

[33]"په افغانستان کښې د پخلاینې خبرې اترې،" د عامه نړیوال قانون او سیاست ډله، دسامبر ۲۰۱۱ کال، http://publicinternationallawandpolicygroup.org/wp-content/uploads/2011/10/Background-Briefing.pdf.

[34]" په افغانستان کښې د امنیت او ثبات پر لور راپور،" کانګرس ته د آمریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت راپور ، دسامبر ۲۰۱۲، http://www.defense.gov/news/1230_Report_final.pdf.

[35]"په افغانستان کښې د امریکا د بیا رغوني کوښښونونه به د فساد سره د آمریکا د نهایي جامع ستراتژی مبارزې څخه ګټه واخلي،"د افغانستان د بیا رغوني لپاره سرمفتش ځانګړی دفتر، د آګست ۵، ۲۰۱۰ کال،

[36]په محلي سطح د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو د لوړ پوړو چارواکو سره ۱۰ تر سره شوې مرکې

[37]په محلي سطح د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو چارواکو سره مرکې..

[38]په فاریاب ولایت کښې د دفاع وزارت لوړ پوړو چارواکو سره مرکې.

[39]په کندوز ولایت کښې د دفاع وزارت لوړ پوړو چارواکو سره مرکې.

کوي 40 لکه د ښوونې او روزنې یا پرمختیایي پروژې، سره له دې چې دا نظر د کورني چارو وزرات او دفاع وزارت د هغو امنیتي فعالینو چې مرکې و رسره شوې د هغوی تر منځ ډیر د پام وړ دی. 41 دا هم یو ډیر متداول نظر دی چې په هغو ولایتو کښې چې امنیت یې خراب دی او هلته مرکې تر سره شوې – لکه ننګرهار، کندز او فاریاب څخه عبارت دي، یو شمیر دولتي چارواکو ډیر لوړ امنیتي لګښتونه تر پوښتنې لاندې راوستي دي، ځکه د امنیت د تامین له نظره د هغوی لاسته راوړنه ډیره لږه ده او ډیر لږ شمیر باغیان غواړي له دولت سره یو ځای شي، او دا پوښتنه کوي چې آیا امنیتي لوړ لګښتونه کولای شي په رښتیا امنیت رامنځته کړي. 42 په هر حال، هغه دولتي مامورین چې مرکې ور سره شوې همدارنګه ټول په دې نظر وو چې دې لګښتونو منفي اغیز درلود، ځکه په نورو برخو کښې د منابعو د کمښت سبب ګرځیدلي دي، او په امنیتي سکتور کښې د لګښتونو کمښت به په نورو سکتورونو، په ځانګړې توګه په ښوونه او روزنه، روغتیا او پرمختیا مثبته اغیزه وکړي.[43]

# عادي ژوند ته راستنیدل

| د موضوع تفصیل | لګښت (په امریکایي ډالر) |
| --- | --- |
| سولې او عادي ژوند ته راستنیدلو مالي صندوق | ۵۸۰۹۲۰۰۰ |

د ملګرو ملتو اداري عادي ژوند ته راستنیدل داسې بهیر تعریف کړي دي چې په هغه کښې پخواني جګړه ماران ملکي ژوند ته را ګرځي او غیري پوځي حالت غوره او د دوامداره کار او عاید په لټه کښې کیږي.[44] په افغانستان کښې،"عادي ژوند ته راستنیدل " هغه کوښښونو ته ویل کیږي چې باغي جګړه مارو ته هڅونکي او ملاتړي برابریږي تر څو هغوی له جګړې لاس واخلي.[45] په افغانستان کښې، د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام له لارې عادي ژوند ته راستنیدل (APRP) چې افغاني ټولنه کښې د لاسرسي د پیدا کیدو، عادي ژوند ته راستنیدلو، او د ټولنې عادي حالت د راګرځیدو له لارې د سولې د ترویج، پخلاینې او امنیت لپاره کار کوي.[46] د سولې عالي شورا (HPC) یو جوړښت دی چې د سولې او عادي ژوند ته راستنیدلو د چارو او د هغو خلکو د کارونو د پرمختګ چې په جګړو اخته نه دی څارنه کوي، او د سولې او عادي ژوند ته راستنیدلو زیاتره عملي کارونه په سیمه ایزه سطحه د والیانو او د سولې د ولایتي شوراګانو تر څارنې لاندې تر سره کیږي.[47]

په افغانستان کښې، عادي ژوند ته د راستنیدلو فعالیتونو کښې د زده کړې د مهارتونو، له سره سکونت اختیارول او ځا پر ځای کیدل، اساسي او حرفوي ښوونه او روزنه او د کار پیدا کولو په برخه کښې مرسته کول شامل دي.[48] د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام د امنیت؛ ښه حکومتوالي، د قانون حاکمیت، د بشر حقوق؛ ټولنیز او اقتصادي پرمختګ، برخې لري. لمړی برخه د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام د امنیت برخه کښې کلیوالو ته امنیت برابرول او هغه ولسوالۍ چې د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام کښې د کورنیو چارو د وزارت، نړیوالو مرستندویه ځواکونو / ائتلاف له لارې ګډون کوي، شامل دی. دوهم برخه - ښه حکومتوالي، د قانون حاکمیت، د بشر حقوق شامل دي – او پر روښتیا، د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام د بهیر او د افغانستان د اساسي قانون سره د هغه مطابقت څخه ډاډ تر لاسه کولو باندې تمرکز کوي، او همدارنګه د محلي ارګانونو د مستقلې اداري سره د هماهنګۍ د افغانستان ټولنیزې لاسرسۍ پروګرام او د ولسوالۍ سره د مرستې پروګرام (DDP) او د ټولنیزې لاسرسۍ یو پروګرام چې د سولې د عالي شورا له

[40] په فاریاب، کندهار او کندز ولایتونو کښې لوړ پوړو چارواکو، په بامیان، کندوز او هرات کښې د عامې روغتیا چارواکو، په ننګرهار، کندوز، فاریاب او کابل کښې د روغتون د کارکونکو؛ د ښوونکو سره ننګرهار، فاریاب، کندز؛ د ښوونې اوروزنې کارکونکو سره په هرات، ننګرهار او بامیان؛ د ولایتي سولې شورا د کندز، هرات، فاریاب او ننګرهار چارواکو؛ د فواید عامې وزارت د بامیان، فاریاب، قندهار او ننګرهار چارواکو او د کورنیو چارو د وزات د لوړ پوړو چاروکو سره ننګرهار، کندز کښې مرکې.

[41] د کورنیو چارو د وزات د لوړ پوړو چاروکو سره په ننګرهار، کندز، کندهار، او بامیان او د دفاع وزارت لوړ پوړو چاروکو سره په کندز او فاریاب کښې مرکې.

[42] د کلیو د بیارغوني او پراخیتا د لوړ پوړو چاروکو سره په هرات او کندز؛ د عامې روغیتا وزرات په فاریاب؛ د فواید عامې وزارت سره په هرات کښې مرکې.

[43] د کورنیو چارو د وزات د لوړ پوړو چاروکو سره په بامیان او قندهار؛ دفاع وزارت سره په فاریاب، هرات او قندهار؛ افتصاد وزارت سره په فاریاب، کندهار او ننګرهار؛ د کلیو د بیار رغوني او پراخیتا سره په بامیان، فاریاب، هرات، کابل، کندز او ننګرهار؛ د عامې روغتیا وزارت سره په فاریاب، هرات، کابل، کندهار او کندز؛ د روغتون د کارکونکو سره په بامیان، فاریاب، کابل، کندهار، کندز او د ښوونې او روزنې وزارت سره په بامیان، فاریاب، هرات، کابل، کندز او د فواید عامې وزارت سره په بامیان، فاریاب، هرات او کابل کښې مرکې.

44فیلیپ آرتور نیګونا موانکیکا، "د جنوبي سوډان له ګړې وروسته د بیارغونه او بیا عادي ژوند ته راګرځیدل،" د نړیوالې سولې د زده کړې د مرکز ملاتړ، ۲۰۱۲ کال،
http://www.ipstc.org/media/documents/Occasional_Paper_04_2013.pdf.

45ستینا تورجیسن، "د پخوانیو جګړه مارو عادي ژوند ته راګرځیدلو په اړه یو نظر،" د امنیت او پرمختیا نړیواله مجله، د دسامبر ۱۱، ۲۰۱۳ کال،.http://www.stabilityjournal.org/articles/10.5334/sta.cx/

[46] د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام د ۲۰۱۴ کال راپور، UNDP, ۲۰۱۴،
http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/crisisprev/APRP/APRP-APR-2014.pdf.

[47] " د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام سند،" د ملي امنیت شورا، جون، ۲۰۱۰ کال.

[48] مت والدمن، "ګلدن؟ خطرونه، ننګونې، او په افغانستان کښې عادي ژوند ته د راستنیدلو پایلې، "د افغانستان د شننونکو شبکه، ۲۰۱۰ کال،
http://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/downloads/2012/10/2010_AAN_Golden_Surrender.pdf.

لوړې پر مخ وړل کيږي. د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ برخه د ټولني خپل عادي حالت ته د راتلو پرمختيايي ملي پروګرام تشريح کوي، چې د ملي پيوستون پروګرام (NSP) يو جزء تشکيلوي، او کليو ته د لاسرسی د ملي پروګرام (NRAP) سره يو ځای يې د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزرات (MRRD) له لارې پر مخ وړي.[49]

د هغو مرکو له مخې چې د دې څيړنې په خاطر د سولې د ولايتي شورا PPC د غړو سره شوې، د لګښتونو اصلي کټګوري د جګړو څخه لاس پر سر کيدونکو جګړه مارانو سره د يو ټاکلي وخت لپاره محدود معاش[50] او همدارنګه حرفوي زده کړې دي[51] نور لګښتونه هغه انکشافي پروژې دي چې د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستيدلو پروګرام سره په ګډه پر مخ وړل کيږي، عادي ژوند ته د راستيدونکو جګړه مارو لپاره د هغوی د خونديتوب په موخه ملاتړ برابرول دي، او د سفر او هغه کارمندانو لګښتونه دي چې د وسله والو مخالفو ډلو سره خبرې اترې کوي.[52]. د سولې د ولايتي شورا غړي PPC خپل فعاليتونه چې مرکه ور سره شوې داسې مشخص کړي چې د سولې او ثبات لپاره عمومي هدف تعقيبوي، د امنيت پورې اړوند لګښتونو ته د ورته والي ځرګندويي کوي او هغه دا چې په دې سکتور کښې د نورو سکتورونو لپاره لکه زيربنا، ښوونې او روزنې او روغتيا ته يو مناسب چاپيريال برابريږي.[53] ټول دا ډول فعاليتونه د سولې او عادي ژوند ته د راستيدلو د مالي صندوق ( P & RTF) سرته رسيږي،[54] چې په ۲۰۱۴ کال هغه د افغانستان لپاره (۵۸,۰۹۲) ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي.

د دې څيړنې حدود يوازې د ۲۰۱۴ کال مالي لګښتونه تر پوښښ لاندې نيسي. دا مقدار په افغانستان کښې عادي ژوند ته د راستيدلو پروګرام د فعاليتونو لپاره په زيات احتمال ډيرې محتاطانه شميرې دي، ځکه چې دا هغه په ميليونونه ډالر نه حسابوي چې په پخوانيو پروګرامونو کښې لګيدلي دي، لکه د افغانستان د نوي پيل پروګرام (ANBP) چې د بې وسلې کيدو يو پروګرام وه، د عمومي تنظيم عادي ژوند ته د راستيدلو پروګرام چې د ۲۰۰۳ - د ۲۰۰۵ کال پورې، د درنو وسلو زيرمه کول (HWC)، د غير قانوني وسله والو ډلو انحلال (دایاګ) د ۲۰۰۵ – ۲۰۱۱ پورې، او د سولې د استحکام پروګرام، چې د ۲۰۰۵ کال څخه پيل شوی. همدارنګه دا هغه مالي منابع چې د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون ته اختصاص ور کړ شوی، او يوه برخه يې قسما جګړې او د افراطيت د تاوترخوالي ته منسوب، او يا هغه متواتر کار چې د ملاتړ د برابرولو او پر بشري حقوقو د تيري د اسنادو د راټولو لپاره چې په تيرو او روانو جګړو کښې يې صورت نيولی دی، چې بايد په نظر کښې و نيول شي، حساب شوي نه دي.[55]

## معاوضه ورکول

| د موضوع تفصيل | لګښت (په امريکايي ډالر) |
|---|---|
| د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مړيني د تقاعد معاش | ٦۴٣۵٠٠٠٠ |
| د غير نظامي وګړو د مړيني د تاوان لنډول | ١٧١٦٣۵٠۴ |
| د معيوبيت د تاوان لنډول | ٢٨٩٧۵١٠٨ |

د مړينو او يا نورو رامنځته شوو تلفاتو معاوضه هم په افغانستان کښې د جګړې او د افراطيت د تاوتريخوالي پورې اړوند يو د پام وړ مستقيم لګښت دې. په عمومي ډول، دا تاديات په دغو درې کټګوريو کښې شامليږي - د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مړيني د تقاعد معاش، د غير نظامي وګړو د مړيني د تاوان لنډول، او د جګړې اړوند معيوبيت د تاوان لنډول. د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د وزرات د پاليسی له مخې، که چيرې د يو سکتور کارکونکي په يو پرله پسې توګه د کار په جريان کښې مړه کيږي يعني د رسمي دندې په سرته رسولو بوخت وي (د خدمت سره تړلې مړينه)، نو د کورنيو پاته غړو ته به د هغه د ورستی تنخواه (۷۸) برابر پيسې، پرته له دې چې د هغه د دندې د سرته رسيدو عمر په نظر کښې و نيول شي د هغه د تقاعد د معاش په شمول ورکول کيږي. د کورنيو پاته غړي کيدای شي غوره و ګڼي چې ټولې پيسې په يو ځل او يا يې هم د قسطونو په بڼه تر لاسه کړي.[56] په ۲۰۱۴ کال

[49]"د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستيدلو پروګرام سند،" د ملي امنيت شورا، جولای، ۲۰۱۰ کال..

[50]د سولې د ولايتي شورا د ۵ غړو سره مرکې

[51]هماغه ځای

[52]د سولې د ولايتي شورا دغړو سره مرکې

[53] په قندهار، فارياب، هرات کښې د سولې د ولايتي شورا د غړو سره مرکې.

[54]"د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنيدو پروګرام سند،" د ملي امنيت شورا، جولای، ۲۰۱۰ کال.

[55]هماغه ځای

[56]"د پوځي پرسونل لپاره د تقاعد د حقوقو د تنظيم د لارښود کتاب، بريدمل او ساتنمن " د کار، ټولينزو چارو، شهيدانو او معلولينو چارو وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د می مياشت، ۲۰۱۱ کال، http://molsamd.gov.af/Content/files/retirement/July,%202011%20Military%20Handbook%20FINAL.pdf.

کښې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مړيني دقيق اټکل نشته، اما د افغانستان دولت منلې چې له ۵۰۰۰ څخه زيات د افغان ملي امنيتي ځواکونو کارکونکي د جګړې اړوند تلفاتو له امله په ۲۰۱۴ کال کښې مړه شوي دي.

د يو اساس په توګه د تادياتو په مقصد د دغو شميرو څخه استفاده د افغان ملي امنيتي ځواکونو معاشونه په هره مياشت کښې ۱٦۵ دالره، [57] د هغه چا لپاره د تقاعد معاش چې د دندې په جريان کښې مړه شوې دي، د افغان دولت د لګښت اندازه په ۲۰۱۴ کال کښې په دغه برخه کښې (٦۴,۳۵۰) ميليونه امريکايي ډالرو ته رسوي.

دا مقدار يو ډير محافظه کارانه اټکل دی، ځکه د لمړنۍ سطحې د صاحب منصبانو معاش دی، په داسې حال کښې چې د يوې منځنۍ کچې يو صاحب منصب د ۲۷۵ څخه تر ۴۱۵ امريکايي ډالرو پورې معاش اخلي، او يو جنرال کيدای شي د مياشتې د ۹۴۵ – ۱۰۹۵ امريکايي ډالرو پورې معاش واخلي. [58] پر دې سربيره، دا مقدار يوازې د جګړې څخه رامنځته شوو تلفاتو په اړه دي، د معيوبيت د تاوان لنډول په خدماتو کښې په نظر کښې نه نيول کيږي. د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د وزارت لاربنود داسې وايی، هغه څوک چې د جګړه ايزو عملياتو په ترڅ کښې معيوب کيږي، د هغو ملکيانو د حقوقو څخه به مستفيد کيږي چې د جګړې له امله معيوب شوي دي او په لاندې برخه کښې د هغوی لپاره طرح موجوده ده. سره له دې چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مړيني په اړه په ۲۰۱۴ کال کښې هيڅ اعداد او شميرې نه دي وړاندې شوي، تر ۵۰۰۰ څخه ډير مړه شوي او دا چې ٦۸۴۹ ملکي وګړي په ۲۰۱۴ کال کښې ټپي شوي دي. ګمان کيږي چې ډير شمير افغان ملي امنيتي ځواکونه چې په جګړه کښې ټپي شوي، د هغوی د معيوبيت سبب شوی دی.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو انساني او مالي تلفات: د منګلې کيسه

زما زوی د ۱۵ يا ۱٦ کالو وه. او هغه لښکرګاه ته ليږل شوی وه، اما هغه يو کال وروسته د طالبانو سره په جګړه و وژل شو، چې د هغه مړي يې سيند ته غورځولی وه. له دريو ورځو وروسته حکومت د هغه مړی پيدا کړ او يوه اونې وروسته دلته انتقال شو. يوه شپه، يو څوک زمونږ کور ته راغی او زما د اولادونو د پلار پوښتنه يې وکړه. ما فکر وکړ چې هغه زما د زوي ملګری دی او غوښتل يې چې هغه و ويني، نو ما هغه ته و ويل چې زما خاوند جومات ته تللی دی. هغه زما خاوند پيدا کړ او زما د زوی د مړينې په اړه يې هغه ته وويل. کله چې هغه د خپل زوی د مړيني خبر واوريده نو هغه په ځمکه ولويد او د څه وخت لپاره بې هوښه وه.

زما د زوی مړيني مونږ ټول خواشيني کړو، او د يو ډير غم او درد وروسته هغه د خپل زوی د غمه و مړ. يو ځل زما خاوند له ما څخه د پيسو غوښتنه وکړه او ويې ويل چې هغه غواړی هغه ځای و ګوري چيرې چې د هغه زوی مړ شوی دی. ما هغه ته و ويل چې هلته مه ځه، ځکه چې د لارې په اږدو کښې طالبان دي او هغوی به تا ونيسي او مړ به دې کړي، خو هغه په خپل هوډ ټينګار کاوه او ولاړ. کله چې هغه زمونږ د زوی ملګري او قوماندان وليدل هغه بيا بې هوښه شو. د بيرته را ستنيدو پر مهال قوماندان هغه ته ۳۰۰۰ افغانۍ ورکړې او په يوه پوځي طياره کښې يې بيرته را وليږه. د لښکرګاه څخه د راستنيدو ۵ ورځې وروسته هغه مړ شو.

مونږ دواړه نفقه ګټونکي له لاسه ور کړل او اوس له خدای پرته بل هيڅوک نه لرو چې زمونږ سره مرسته وکړي. زه پنځه لورګانې لرم؛ دوه واده شوې دي او پاته درې له مونږ سره اوسيږي. زه همدارنګه دوه زامن لرم چې دواړه واړه دی او کار نه شي کولای چې د کور لپاره خرڅ و ګټي. اوس زه په خپل دکان کښې کار کوم، خو زما ليورونه په دکان کښې زما په کار کولو خوښ نه دي، او يو ځل هغوی راغلل او زه يې و وهلم. زه هغوي په دې دليل هم و وهلم چې ما هغوی ته اجازه ور نه کړه چې زمونږ کور و پلوري، هغه کور چې زما د خاوند يو يادګار دی او مونږ په خپله جوړ کړی دی. هغوي غوښتل چې مونږ لغمان ته يوسي، ليکن ما دا خبره و نه منله، نو هغوی مونږ ته په قهر دي او هيڅ مرسته را سره نه کوي. هغوي کوښښ و کړ چې ښوونځي ته زما د اولادونو د تللو مخه و نيسي او غوښتل يې ما او زما لورګانې د خپل کنټرول لاندې را ولي. زه ډير ځله د شهيدانو او معلولينو رياست ته د ولايت له لورې ورکول شوو احکامو سره يو ځای لاړم، مګر هغوي ما سره هيڅ ډول مرسته و نه کړه. ما به هلته تر مازديګره انتظار کاوه چې خپل کار سر ته ورسوم، بلکه برياليۍ نه شوم. زه ډيره مايوسه شوم نو ما ځکه د هغوي څخه د مرستې غوښتنه پريښودله. بيا زه خپلو خپلوانو او ګاونډيانو و هڅولم چې زه بايد خپل حق و غواړم، ځکه چې دا زما قانوني حق دی چې د حکومت څخه پوره مرسته تر لاسه کړم. کله چې زما زوی مړ شو حکومت مونږ سره ۵۵۰۰۰ افغانۍ د مالي معاوضې په بڼه مرسته و کړه، او اوس هره مياشت مونږ ۵۰۰۰ زما د زوي د تقاعد د معاش په نامه تر لاسه کوو.

زما د زوي او خاوند مړينې ما ته يو د خپګان ناروغي پيدا کړي، او کله کله غواړم چې ځان د بهسودو له پله څخه لاندې سيند ته و غورځوم. څو ورځې وړاندې زما لورګانو په خپلو منيځو کښې په کوم څه سره بحث وکړ. ما هغوي ته و ويل که دوی همدا اوس بس نه کړي نو زه به ځان سيند ته واچوم او پريږده چې خلک و وايي چې د هغې زوی طالبانو و واژه، خاوند يې د زوی له غمه مړ شو او اوس يې مور ځان وژنه وکړه او سيند ته يې ځان و غورځاوه.

---

[57]ايان ليوينګستون او مايکل ايس. اوهانلون "د افغانستان لاربنود،" بروکينګز، د می ۲۰، ۲۰۱۵ کال، http://www.brookings.edu/~/media/Programs/foreign-policy/afghanistan-index/index20150520.pdf?la=en.

[58]هماغه ځای

د افغان امنيتي ځواکونو د مړيني له امله د تقاعد پر معاش او د خدمت په دوران کښې د معيوبيت له امله، دولت يو شو نور ميکانيزمونه هم لري چې د ملکي وګړو د تلفاتو (شهيدانو) تاوان ور کړي. په عمومي ډول، دا مالي مرستې د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د وزارت او د ولسمشر د "۹۹ حسابي کود" له لارې صورت نيسي؛ د مناسبو شرايطو لرونکي ملکي وګړي کولای شي د دواړو ميکانيزومونو له لارې مرسته تر لاسه کړي. هغه کورنۍ چې غړي يې په جګړه کښې وژل شوي يا (شهيدان) شو وي حق لري چې د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو (۲۰۰۰ امريکايي ډالرو) د د "۹۹ حسابي کود" څخه بې قيد و شرطه تر لاسه کړي.[59] د شهيدانو د کورنيو متعلقين د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د وزارت څخه، په هره مياشت کښې ۱۵۰۰ افغانۍ (۳۰ امريکايي دالر)، او مجموعا په يو کال کښې ۱۸۰۰۰ افغانۍ (۳۵۰ امريکايي دالر)، تر لاسه کوي.

په هر حال، متقاضيان يوازې هغه وخت د دې حق غوښتنه کولای شي چې په کور کښې يې بل د ۱۸ کالو پورته سړی نه وي موجود، او هر مهال چې د کور يو نارينه غړي د ۱۸ کالو عمر څخه اوړي او يا نجونې واده کوي نو يوه شو سلنه د هغو حقوقو څخه کميږي.[60] په ۲۰۱۴ کال کښې د جګړې له امله ۳۶۹۹ کسه ملکي وګړي مړه شوي دي.[61] د ۲۰۰۰ امريکايي ډالرو اټکل شوې تاديه د هر مړي لپاره "د 99 کود" څخه او ۳۵۰ امريکايي ډالرو په يو کال کښې د ۱۰ کالو راهيسې د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د وزارت له لورې، د ۵,۴ ٪ نازل نرخ په نظر کښې نيولو سره په ۲۰۱۴ کال کښې د جګړې او د افراطيت د تاوتريخوالي له امله د ملکي خلکو تلفاتو لګښت د افغانستان لپاره ۱۷,۱۶۴ ميليونه دالره وه.

هغه ملکي وګړي چې د جګړې له امله يې صدمه موندلې ده د " ۹۹ کود" څخه د ۵۰۰۰۰ افغانيو (۱۰۰۰ ډالرو) د لاسته راوړلو مستحق ګڼل کيږي. هغه څوک چې د جګړې له امله معيوب يا ټپيان شوي دي، حق لري چې د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د وزارت له لارې ۷۵۰ افغانۍ (۱۵ ډالر) او ۱۵۰۰ افغانۍ (۳۰ دالره) په مياشت کښې تر لاسه کړي، او د معيوبيت اندازه د ولايتي روغتيايي چارواکو له لورې ټاکل کيږی.

"[59] د خپل ځان ساتنه: د ملکي وګړو د تلفاتو په وړاندې يو ډير قوي ځواب،" په جګړه کښې د ملکيانو لپاره مرکز ۲۰۱۳،

[60]هماغه ځای.

په ځينو سيمو کښې، د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو وزارت همدارنګه معيوبو کسانو ته د اوسيدو خونه، د ليکلو تخته، ورځيني جيب خرڅ او کار او حرفوي زده کړې برابروي. دا مرستې په مياشتنۍ، درې مياشتني او کلنۍ توګه په بې قيده او شرطه توګه ورکول کيږي.[62] په ۲۰۱۴ کال کښې ٦٨۴٩ ملکي کسان په جګړه کښې ټپيان شوي دي.[63] هر ملکی وګړي لپاره چې په جګړه کښې ټپي شوی (۱۰۰۰ ډالر) او ۲۷۰ ډالره په هر کال کښې د ۲۰ کالو لپاره د ۵,۴ سلنه تنزيل په نظر کښې نيولو سره ورکول کيږي، هغه ملکي وکړي چې د جګړې او د افرطيت د تاوتريخوالی له امله په افغانستان کښې په ۲۰۱۴ کال کښې ټپيان شوي د (۲۸,۹۷۵) ميليونه افغانۍ لګښت درلود.

مهمه ده په ياد ولرو چې يو د پام وړ محدوديت د دې لګښتونو په حسابولو کښې شتون لري، د دې تادياتو غوښتنه يوه پيچلی او اوږد بهير دی، او تاديات زياتره وختونه نا وخته ترلاسه کيږي. د بيلګې په توګه، د " ۹۹ کود" د درخواست لپاره لمړي د افغانستان ملي پوليس / ملي امنيت رياست څيړنه کوي، له هغه وروسته بايد د والي له دفتر څخه د " ۹۹ کود" فورمه تر لاسه شي، او له هغه وروسته بايد درخواست ورکونکي د ولايتي پوليسو د دفتر، ملي امنيت رياست، ولايتي عامې روغتيا دفترونو او يو ډاکټر او يا روغتيايي کتنځي لاسليکونه تر لاسه کړي. د تاييدي لاسليکونو د ترلاسه کولو وروسته، بايد درخواست کونکي دغه فورمه چې د قرباني شوي کس تصوير بايد پرې لګيدلی وي او والي بايد دا فورمه منظور کړي. له دې وروسته د محلي ارګانونو خپلواکه اداره دا فورمه مطالعه او منظوروي، دا فورمه بيا اداري څانګې ته ليږل کيږي او هغوی يوه فورمه د ولسمشر د لاسليک لپاره تياروي. کله چې ولسمشر دا فورمه لاسليک او منظور کړي، نو د ماليي وزارت حواله ولايتي مالي څانګې ته استوي. دا وخت د " ۹۹ کود" له لارې درخواست کونکي ته تاديه صورت نيسي.[64] د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو وزارت له لارې د درخواست ورکولو او تادياتو د ترلاسه کولو لپاره طرزالعمل يو شان دی، خو توپير دومره دی چې د دې لارې د پروسې پرمخ وړل د والي د د فتر له لاري نه بلکه د کار، ټولينزو، شهيدانو او معلولينو چارو د ولايتي رياست له خوا او مرکزي سطحه د ولسمشری دفتر پر

[61]د افغانستان د ۲۰۱۴ کلنی راپور: په وسله والو جګړو کښې د ملکی خلکو ژغورنه،" يوناما، فبروری، سال ۲۰۱۵، http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/2015/2014-Annual-Report-on-Protection-of-Civilians-Final.pdf.

[62]هماغه ځای.

[63]هماغه ځای.

[64]"د خپل ځان ساتنه،" په جګړه کښې ګير شوو ملکي خلکو لپاره مرکز ، ۲۰۱۳ کال.

ځای د کار، ټولنزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له خوا پر مخ وړل کیږي.[65]

دا روښانه ده چې د دې بودجې ترلاسه کول ډیر ګران دي، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره کله چې هغوی خپل میړونه له لاسه ور کړې وي او یا په کورنۍ کښې نارینه غړی نه وي چې د هغوی په استازیتوب دا پروسه تعقیب کړي. د دې قضایاو تادیات کیدای شي په ډله ایزه توګه او یا پراخه پیمانه تر سره شي، او په انفرادي توګه دې کار کښې ډیرې ستونزې شتون لري ځکه هغه ته پوره تبلیغ نه کیږي. [66] د دولت په وینا، دا د حکومت مسئولیت نه دی چې مستحقو کسانو پسې وګرځي. بلکه، مستحق کسان باید دا پروسه وخت په وخت تعقیب او درخواست ور کړي، چې دا کار په خپل وار د تادیاتو تر لاسه کولو پروسه د قرباني شوي د کورنۍ او یا خپله قرباني شوي شخص لپاره لا نوره هم پیچلې کوي، ځکه هغه هم د رواني صدمې څخه د کورني د غړي د لاسه ورکولو او یا ټپونو څخه کړیږي، تر څو دې کار پسې و ګرځي.[67] په همدې توګه، د دې لګښتونو اټکل د ټولې معاوضې ټوله اندازه چې د افغان امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو، څوک چې د موجوده میکانیزم او طرزالعمل پر بنسټ مستحق ګڼل کیږي، منعکس کوي نه هغه څه چې په حقیقي توګه په ۲۰۱۴ کال کښې تادیه شوي دي.

## 3.2 د لمس وړ غیر مستقیم لګښتونه
## انساني پانګه او د ګټې لاسته راوړلو امکانات

| د موضوع تفصیل | لګښت (په امریکایي ډالر) |
|---|---|
| په ټول عمر کښې د عاید له لاسه ورکول | ٦٧١١٣٢٧٦ |

د جګړې او افراطیت د تاوتریخوالی مریني له انسانی نظره ډیر لګښتونه او زیانونه رامنځته کوي. په هرحال، د انسانی ژوند ارزښت داسې څه نه دي چې یوازې جدي عاطفي، کورنۍ او ټولنیزې اړیکې؛ لکه څنګه چې د انسانی ژوند ارزښت یو جزء دی، بلکه د ګټو او عاید لاسته راوړلو له نظره هم مهم دی. ژان باتیست سی ادعا کوي، "جګړه د بودجې څخه زیات لګښتونه لري؛ د هغه څه مخه نیسي چې د ګټې د لاسته راوړو سبب کیږي. [68] دا ملي لګښتونه په جدي توګه په افرادو، کورنیو، ټولنو او په لوړه کچه په اقتصاد اغیزه کوي. د انسان د ژوند له منځه تلل نه یوازې د انسان د ژوند تلف کیدل دي، بلکه هغه رواني اغیزې هم را منځته کوي؛ همدارنګه نه یوازې دا چې ګټه لاسته راوړل او تولید پای مومي، بلکه کوم انسان چې تلف شوی په عمرې توګه د هغه ګټه راوړل بندیږي. [69]

دا ډیر ګران کار دی چې د ژوند ارزښت په پیسو وټاکو، اما هر وګړي یوې ټولنې ته یو ارزښت لري، چې د خپل توان په اندازه ټولنې ته خپله تولیدي ونډه تر سره کړي. [70] عاید د یو شمیر شیانو، لکه پرسونل، مارکیټ، او چاپیریال سره تړاو لري. [71] په هر حال، د دې څیړنې د اهدافو او معلوماتو ته د لاسرسي په صورت کښې، د سړي سر نا خالص داخلي تولید څخه د سړي سر عاید د شمیرو په توګه کار اخستل شوی دی. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو تلفات بیل بیل نه بلکه یو ځای په نظر کښې نیول شوي دي، او دا د سړي سر عاید شمیرې سره له دې چې د هغوی عواید ډیر لوړ دي، د هغوی د رتبو په اړه د معلوماتو نشتون چې آیا تلفات کومه کټګورۍ ملي امنیتي ځواکونو ته رسیدلي دي، د افغان ملي امنیتي ځواکونو په برخه کښې هم کارول شوي دي. د جګړې په دوران کښې تلفات زیاتره ځوانانو ته رسیدلي، او بل مخ په زیاتیدونکي ډول د کوچنیانو مرینه ده. [72] په همدې ترتیب، د عمرې ګټې د لاسه ورکول، د ورته مطالعو له معلوماتو څخه د ۲۰ کالو د اوسط عاید پر بنسټ حساب شوي دي. [73] په ۲۰۱۴ کال کښې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو تلفات شاو خوا ۸٦۹۹ تنو ته و رسید؛ نو په اټکلي توګه د ۲۰ کالو لپاره سړي سر نا خالص داخلي تولید ٦٤٤,۸۰ ډالره چې په محاسبه کښې د ۵,٤ سلنه تنزیلي نرخ څخه کار اخستل شوی دی، د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو تلفات افغانستان ته تقریبا (٦٧,١١٣) میلیونه ډالره د اوسنیو او راتلونکو عواید له نظره تمام شوي دي.

[65] هماغه ځای.

[66] هماغه ځای.

[67] هماغه ځای.

[68] لستر آر .کرتز، د تاوترخوالي، سولې او جګړې دایرة المعارف، آمستردام؛ لندن: الزویر، ۲۰۰۸ کال.

[69] حامد E. علی، "د وسله والو جګړو د اقتصادي لګښتونو اټکل،" ۲۰۱۲ کال.

[70] لستر آر .کرتز، د تاوترخوالي، سولې او جګړې دایرة المعارف، ۲۰۰۸ کال

[71] رابرت جی ویلیس، "د انسانی پانګې د ګټې د کارونو تفسیر،" د کار اقتصاد لاربنود کتاب، لمړی، ادوارډ او آشینفلتر او آر. لایارد، الزویر، د ساینس خپرونې، ۱۹۸٦ کال.

[72] لستر آر .کرتز، د تاوترخوالي، سولې او جګړې دایرة المعارف، آمستردام؛ لندن: الزویر، ۲۰۰۸ کال.

[73] حامد E. علی، "د وسله والو جګړو د اقتصادي لګښتونو اټکل،" ۲۰۱۲ کال.

**د ملکي تلفاتو انساني او مالي لګښتونه: د سیما کیسه**

ما خپل خاوند، د هغه ورور، او خپل دوه زامن په یوه ځانمرګي حمله کښې د لوی اختر په ورځ د لمانځه پر مهال له لاسه ورکړل. زما خاوند او د هغه ورور زموږ د کورنۍ مشران وو. زما لیور هم معیوب وه او دواړه دکانداران وو.

مونږ د خپلې کورنۍ لپاره د نفقې ګټونکي له لاسه ور کړ او زما زامن له ما څخه نوې جامې، بوټان، د ښوونځي لباس او قلم او کتابچه غواړي، مګر زه نه شم کولای هغوی ته دا شیان تیار کړم. زما خوابنې او ما کار کاوه تر څو وکولای شو د خپلو بچیانو او د کور خرڅ و ګټو. مونږ اوس قالینه او ټغر اوبدو. زمونږ اقتصادي حالت کښې ډیر بدلون راغلی دی، ځکه چې پخوا زما خاوند د کور د ټولو خرڅونو د پوره کولو دنده په غاړه لرله، او اوس زه دا دنده پر غاړه لرم. مونږ د یوې نا دولتي موسسې څخه یو څه ملاتړ تر لاسه کوو – یعني څه پیسې او یو څه خوراکي توکي. دولت مونږ سره یو څه مالي مرسته و کړه خو هغه زما د خاوند په جنازه او فاتحه کښې مصرف شوه او مونږ ته هیڅ شی پاته نه شو، ځکه چې پاته برخه مونږ هغه خلکو ته ورکړه چې زما خاوند تر پورې اخستې وه. زما خاوند یو کوچنی دکان درلود، کله چې هغه مړ شو نو ما غوښتل چې هغه خپلو زامنو ته وساتم، مګر مونږ هغه و نه شو ساتلای. اوس مونږ د عاید کومه منبع نه لرو؛ مونږ د خلکو څخه پیسې او د کور لپاره خوراکي توکي په پور اخلو. مونږ د ملاتړ غوښتنه وکړه خو لا تر اوسه مونږ سره چا نوره مرسته نه ده کړې. زه کوم لسه ځله د والي دفتر ته لاړم تر څو له هغه مرسته وغواړم خو د هغه په لیدلو بریالۍ نه شوم، چې د مالي مرستې غوښتنه ترې وکړم.

زما د خاوند مړینې مونږ ټول په عاطفې لحاظ په ډیر بد ډول اغیزمن کړو . مونږ ټول ډیر خواشیني یو او د نا هیلۍ سره مخ یو او تل ژاړو. زما اولادونه هم د خپل پلار او دوه ورونو پسې ډیر خفه دي. د ټولنیز اړخه ما ته د خاوند له لاسه ورکول ډیر نا وړه پیښه وه؛ خلک پر مونږ د یوې پیسې اعتبار نه کوي او مونږ د ډیر ستونزو سره لاس او ګریوان یو. زه د خپل شخصي امنیت په اړه په ځانګړې توګه د شپې له پلوه ډیره اندیښمنه یم ځکه زه یوه کونډه ښځه یم. دې پیښې یو ځای ته زما پر تګ راتګ اغیز کړی ځکه زه به پخوا د خپل خاوند سره په آسانۍ هر ځای ته تلای شوم، مګر اوس زه په آزادانه ډول له کوره بهر نه شم تلای. زما مشر زوي اوس ۷ کلن دی. زه غواړم زما زامن درسونه زده کړي او زیات کوښښ وکړي تر څو د هغوی څخه ښوونکی، ډاکټر یا انجنیر جوړ شي او یوه ورځ زمونږ ستونزو ته د پای ټکی کیښودل شي.

زه هیڅکله نه غواړم چې بل واده وکړ ځکه ما د خپل خاوند سره لس کاله ژوند کړی؛ زما لپاره هماغه بس دی. زه به د خپل ژوند تر پایه یوه کونډه پاته شم. زما زوی ناروغه دی، او زه د هغه درملنه نه شم کولای، ځکه ډاکټر د هغه د درملنې لپاره له ما څخه ۲۰۰۰۰ افغانۍ غواړي. له شک پرته، که د هغه پلار ژوندی واي مونږ به د هغه ډیره ښه درملنه کړې وای، ختی هغه به هند او یا پاکستان ته د تداوۍ لپاره وړی وای. ما د دولت څخه و غوښتل چې ما سره زما د اولادونو په درملنه کښې مرسته وکړي؛ زه د هغوی په اړه ډیره اندیښمنه یم. ما د حکومت څخه د خوراکي توکو د مرستې غوښتنه هم کړې، ځکه مونږ په خپله نه شو کولای دا ټول لګښتونه پوره کړو.

# عامه روغتیا، ټپي او معیوب کیدل

لازمه ده چې یوه شو د ملکي تلفاتو، یوازې ۷۲ سلنه مسئولیت د طالبانو، ۱۴ سلنه د دولت او ۲ سلنه د نړیوالو ځواکونو په غاړه دی.[74] په هر حال، د دولتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونو له لوري ملکي وګړو ته تلفات هغه وخت اوښتي کله چې د وسله والو مخالفو ډلو سره په جګړه اخته وو او یا د افراطیت د تاوتریخوالي ډلو سره مخامخ شوي.

| د موضوع تفصیل | لګښت (په امریکایي ډالر) |
|---|---|
| د جګړې له امله د ټپي کیدو په صورت کښې د خپل جیب په لګښت په روغتون کښې درملنه | ۹۳۲۳۸۲۲۴ |
| د جګړې له امله د ټپي کیدو په صورت کښې د دولت او مرستو ورکونکو په لګښت په روغتون کښې درملنه | ۳۳۴۴۴۱۴۶ |
| د غیر مرګاني ټپونو په وجه د کلني عاید له لاسه ورکول | ۲۰۵۶۸۸ |

[74]"د افغانستان کالنی ۲۰۱۳ کال: د وسله جګړو پر مهال د ملکي وګړو ساتنه،" یوناما، فبروري، ۲۰۱۴ کال، http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Feb_8_2014_PoC-report_2013-Full-report-ENG.pdf.

د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي یو بل د لمس وړ لګښت پر خپل ځای پر وګړو، کورنیو او عامې روغتیا پر سکتور باندې اچول کیږي، د هغو خلکو روغتیايي پاملرنه ده چې د جګړو له امله ټپونو څخه کړیږي. جګړې د یو شمیر خلکو په روغتیا باندې د څو پلوه اغیزه کوي، چې په دې اغیزو کښې بیلابیلې ناروغۍ، خوارځواکي، د خوارکي توکو مصئونیت، مړینه، ټپونه، او معیوبیت شامل دی. د جګړې په حالت کښې، بې ځایه کیدل، کیدای شي د نوو ناروغیو، د خلکو ډیر نورو سیمو ته لیږدیدل، او د روغتیايي نظام ګډوډیدل چې په نتیجه کښې روغتیايي پاملرنه محدودیږي. په داسې حال کښې چې د جګړې ډیر څرګند اغیز د تاوتریخوالي او د جګړې په میدان کښې په مستقیم ډول مړینه ده، څیړنو ښودلې ده چې د ناروغۍ له امله په غیر مستقیم ډول مړینه هم د جګړه ایزو شرایطو له امله رامنځته کیږي. [75] پر دې سربیره، جګړې د رواني زیانونو چې درملنې ته اړتیا لري او کیدای شي په څرګنده توګه د مالي نظره د تولید د لاسه ورکولو، چې په خپل وار د افرادو، کورنیو، ټولنو او کلیو د سختو اعصابي او رواني ناروغیو سبب ګرځي.

د ډیرو دغو غیر مستقیمو لګښتونو اټکل د مستقیمو لګښتونو د اټکل پر تناسب ډیر ګران کار دی، د مثال په توګه د عامې روغتیا سکتور، چې لګښتونه یې د ناروغ له خپل جیبه او یا دولت له اړخه کیږي کوم چې په مستقیمه توګه د جګړې سره تړلو ټپي کیدو له امله را منځته کیږي. په هر حال، دا مهمه ده چې په پام کښې و نیسو چې د روغیتیايي لګښتونو مالي واقعی مصارفو څخه د انساني پانګې د لاسه ورکولو قیمت ډیر لوړ دي.

د هر سکتور څخه په هر ولایت کښې دولتي چارواکو څرګنده کړې چې جګړې له عمومي نظره په روغتیا، او د خدماتو د وړاندې کولو او په ځانګړې توګه په روغتیايي زیربنا ډیره منفي اغیزه درلودلی شي. [76] باور کیږي چې روغتیايي سکتور چې د زیربنا او انکشاف او ښوونې او روزنې څخه وروسته دریم سکتور دی چې په پراخه پیمانه د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي له امله ور ته زیان رسیدلې دی. د عامې روغتیايي وزارت او د روغتونو د کارکونکو په وینا چې د دې څیړنې په خاطر مرکې ور سره شوې دي وایي چې جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي روغیتا له څو پلوه اغیزمنه کوي. د اغیز د څرنګوالي له نظره د عامې روغتیا سکتور، په اړه روغتیايي کارکونکو راپور ور کړی دی چې داسې ناروغان شته چې د هغوی ستونزه ډیرې عاجلې مرستې ته اړتیا لري، چې په حملو کښې ټپیان شوي دي، او هغوی ته لمړیتوب ورکول کیږي نو له همدې امله عادي او وقایوي ناروغانو ته وخت نه پاته کیږي. [77] روغتیايي کارکونکو باندې کار ډیر، د ډیر سخت فشار لاندې دي او د ټپونو د څرنګوالي له نظره په کارکونکو منفي رواني اغیز پریباسي. [78] د عامې روغتیايي وزارت یو چارواکی داسې احساس کوي چې نا امنۍ په دواړو د خدماتو په شتون او کیفیت دواړو اغیزه کوي، نو ډیره سخته ده چې لیرې یا نا امنه سیمې تر پوښښ لاندې و نیول شي او کله چې دوی وغواړي دا کار وکړي نو دا یو ستونزمن کار دی چې روغتیايي کارکونکوي هلته د کنټرول او څارنې لپاره و استوي. [79] څو نورو هم دا خبره تایید کړې، او ویلي دي چې نا امني د ناروغانو د درملنې مخه نیسي. [80] یو روغتیايي چارواکي یو مثال ور کړ چې که چیرې د یوې حاملې میرمنې د ولادت وخت را ورسیږي، او امنیتي حالت خراب وي نو هغه به روغتون ته لاړه نه شي او غوره به وګڼي چې د مسلکي روغتیا پالې له مرستې پرته په کور کښې ولادت تر سره کړي، چې کیدای شي دا کار د روغتیايي اختلاطاتو او یا مړینې سبب شي. [81]

سره له دې چې یو چارواکي یادونه کړې چې روغتیايي کارکونکوي غیر جانبداره فعالین دي او وسله والې مخالفې ډلې له دوی سره غرض نه لري، ځکه هغوی هم روغِتون ته ځي او د د رملنې غوښتنه کوي [82] خو نورو ویلي دي چې نا امني د روغتون په چارو باندې اغیزه کوي او دا چې ځینې وختونه، کله چې امنیتي ګواښ موجود وي، یا په عمومي توګه د ورځې په ځانګړو ساعتونو کښې کار ته نه راځي. [83] پر دې

[75]کیار آلتر، "د وسله والو جګړو بار: د عمومي روغتیا پالیسي،" د ناوړه پیښو د پوهیدو د څیړنو مرکز، د کنفرانس پرزنټیشن، مایکروکون، برایتون، د جون ۳۰، ۲۰۱۱ کال.

[76]په کندز او ننګرهار کښې د کورنیو چارو د وزات؛ په هرات او قندهار کښې د دفاع وزارت؛ په فاریاب، کندهار او ننګرهار کښې د اقتصاد وزارت؛ په فاریاب کښې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت؛ په بامیان، فاریاب، هرات او ننګرهار کښې د عامې روغتیا وزرات سره په بامیان، فاریاب، هرات، کندهار، کندز، او ننګرهار کښې ؛ د ښوونکو سره په هرات، کابل او ننګرهار کښې؛ د روغتون د کارکونکو سره په بامیان، فاریاب، کابل، کندهار، کندز او ننګرهار کښې؛ د ښوونې او روزنې وزارت سره په فاریاب، کابل او ننګرهار کښې؛ د سولې د ولایتي د شورا د غړوسره په بامیان، فاریاب، هرات، کابل، قندهار او ننګرهار کښې ؛ د عواید عامې وزارت سره په فاریاب، هرات، کندهار او ننګرهار کښې د لوړ پوړو چارواکو سره مرکې

[77]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چارواکو سره په کندهار؛ د روعتون د کارکونکو سره په هرات کښې مرکې

[78]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چارواکو سره په کندهار؛ د روعتون د کارکونکو سره په قندهار کښې مرکې

[79]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چارواکو سره په هرات، ننګرهار کښې مرکې

[80]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چارواکو سره په فاریاب، بامیان، ننګرهار کښې مرکې او د روغتون کار کونکو سره په کندز کښې

[81]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چارواکو سره په فاریاب کښې مرکې

[82]هماغه ځای.

[83]د روغتون کار کونکو سره په کابل او کندز کښې مرکې

سربیره، دې موضوع ته په به بله برخه کښې چې د زیربنا د ویجاړیدو، برخه ده بحث کوي. روغتیایي تاسیسات د وسله والو مخالفو ډلو او افراطي تاوتریخوالي د حملې څخه په امن کښې نه دي، پاملرنه وشي. نورو چاراواکو یادونه کړې چې ځینې وختونه روغتیایي کتنځایونه اړ دي چې د امنیتي دلایلوله امله و تړل شي او یا د کوچنیانو د واکسیناسیون کمپاینونه چې د کوچنیانو لپاره تر سره کیږي د امنیتي ملحوظاتو له امله محدود پاته کیږي.[84]

یو واحد نظر موجود دی چې په لاس جوړ شوي ماینونه او ځانمرګي بریدونه د ملکي وګړو د ټپي کیدو اصلي دلیل دی، او له هغه ورسته بیا ځمکنۍ جګړې په بله کټګوریو کښې شمیرل کیږي.[85] د دې درې نوعه ټپونو لپاره، درملنه هم فرق کوي. دا مهمه ده په یاد ولرو چې سره له دې چې عمومي روغتیایي خدمات وړیا وړاندې کیږي، داسې اټکل کیږي چې په افغانستان کښې ۷۳,٦ سلنه درملنه د خلکو په خپل لګښت (OOP) تر سره کیږي،[86] سره له دې چې ځینو مرکه کونکو ادعا کړې چې عاجله درملنه په عمومي توګه په وړیا توګه تر سره کیږي. د سطحې ټپونو لپاره، کیدای شي ناروغان د روغتون څخه په عین ورځ خارج شي، او د یو پانسمان په مقابل کښې یوازې ۵۰ افغانۍ (۱ ډالر) ور کړي. په هر حال، د سختو او ژورو ټپونو لپاره دا اټکل لوړ دی ځکه کیدای شي ناروغ په منځني ډول له دریو څخه شپږو میاشتو پورې او یا حتی د فلج یا ژورو او سختو ټپونو په صورت کښې تر څو کالو پورې پاته کیږي چې د جراحۍ عمل تکراریږي او فزیکي درملنه صورت نیسي.[87]

د جدي ټپونو درملنه کیدای شي په اوسط ډول له ۳۰۰۰۰ افغانیو (۵۰۰ ډالرو) او یا له ۵۰۰۰۰ افغانیو (۳۸۰ ډالرو) پورې لګښت ولري، او یا هغه ناروغان چې نخاعي ناروغي لري حتی له (۳۰۰۰-۵۰۰۰) ډالرو پورې، لګښت و لري.[88] پردې سربیره، یو دا سې بیلګي هم شته چې ناروغ د افغانستان څخه بهر درملنې ته اړتیا وي، نو دا وخت لګښتونو ډیر لوړیږي.[89]علاوه پر دې، اکثرا په اضطراری حالاتو کښې ناروغان یو لوی ښار ته د درملنې لپاره د لیږدولو اړتیا لري.[90] د عامې روغتیا متخصصین چې مرکې ورسره شوې دي اټکل کوي چې هر ځای له ۵ – ۱۵ سلنه ناروغان پرله پسې درملنې ته اړتیا لري.[91] د ناروغ پرله پسې څارنه یوازې درملو ته اړتیا لري، او یا کله کله د جراحۍ عملیه بیا ځل ترسره کیږي.[92] یو غالب ګمان موجود وه چې په اضطراری وختونو کښې درملنه یا په روغتونو کښې د اوږدې مودې څارنه کیږي چې ځینې وختونه د هغه لګښتونه د ۱۰۰۰۰۰-۲۰۰۰۰۰ افغانۍ یا (۱٦۰۰-۳۲۰۰ ډالرو) پورې رسیږي.[93]

د ۱۳۹۳ کال د دریو لمړیو میاشتو د روغتیا د معلوماتي مدیریتي سیستم د راپور په روغتونو کښې د بستر ناروغانو فیصدي د هغوی د ناروغۍ د څرنګوالي پر بنسټ داسې ښایي چې ۱۳ سلنه ناروغان د وسلې په ذریعه ټپیان شوي دي.[94] د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونو د راپور له مخې، په افغانستان کښې ټول روغتیایي مصارف (۱۵۰۰۹۷۵۹۴۵) امریکایي ډالره شوي دي، چې له هغې جملې څخه ۷۳,٦ سلنه لګښتونه له خصوصي منابعو (کورنۍ او هغه خیریه اداري چې د کورنیو) سره مرسته کوي پوره شوي دي، او مرکزي حکومت او مرسته برابرونکو اداري ۲٦,۴ سلنه لګښتونه پورته کړي دي. د همدې راپور پر بنسټ، د ټولو روغتیایي لګښتونو (THE) په سلو ۵۸ په داخل بستر ناروغان لګیدلي دي، او (۰,۹) سلنه د بیرغونې په څارنه لګیدلې دي.[95] دا شمیرې د عامې روغتیا د لګښتونو تقریبي اټکل محاسبه یوازې د هغه کسانو پر برخه کښې شوې چې په وسله ټپیان شوي دي، چې هم کورنۍ او هم دولت او مرستندویه ادارو ته د لګښت سبب شوي دي. د دې محاسبې له مخې، په ۲۰۱۴ کال کښې د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي لګښتونه د افغانستان د خلکو لپاره د (۹۳,۲۹۸) میلیونه امریکایي ډالرو، او د حکومت او مرسته کوکونکو ادارو لپاره (۳۳,۴۴۴) میلیونه امریکایي ډالرو په حدودو کښې اټکل شوي دي.

---

[84]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو سره په بامیان او ننګرهار کښې مرکې

[85]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو او د روغتون کار کونکو سره په ټولو ۷ ولایاتو کښې مرکې.

[86]"د افغانستان ملی روغتیایي حسابونه د ولادت د فرعي حسابونو سره یو ځای حسابونه، ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کال پورې،" د عامې روغتیا وزرات ، د افغانستان اسلامی جمهوریت، اکتوبر ۲۰۱۳ کال، http://www.healthpolicyproject.com/pubs/262_AfghanistanNHAReportFINAL.pdf.

[87]روغتون کار کونکو سره په کابل، فاریاب، هرات، بامیان، ننګرهار، کندوز او کندهار او عامې روغتیا وزرات سره په هرات، بامیان، کندز او کندهار کښې مرکې،

[88]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو سره په هرات کښې مرکې

[89]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو سره په هرات او بامیان او د روغتون کار کونکو سره په هرات کښې مرکې

[90]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو سره په بامیان کښې مرکې

[91]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو سره په هرات کښې مرکې

[92]د روغتون کار کونکو سره په هرات کښې مرکې،

[93]د عامې روغتیا وزرات د لوړ پوړو چاراواکو سره په کندهار کښې مرکې

[94]"د روغتون راپور، لمړۍ ربعه ، ۱۳۹۳ کال" د عامې روغتیا وزرات، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۴ کال،-http://moph.gov.af/Content/Media/Documents/HospitalReportQ1 13936122014102412997553325325.pdf.

[95]"د افغانستان د ملي روغتیا حسابونه د حمل د دورې د فرعي حسابونو سره یو ځای، ۲۰۱۱-۲۰۱۲، د عامې روغتیا وزارت، ۲۰۱۳ کال.

### د افغان ملي امنيتي ځواکونو انساني او مالي تلفات: د عبدالله کيسه

دوه کاله وړاندې زه د يو ځانمرګي حملې له امله د پښې او بطن په ناحيه کښې ټپي شوم. زه اوس معيوب يم او په ډير مشکل پر لاره تلای شم، مګر زه د کورنۍ چې شپږ غړي لري، يوازينۍ مشر يم او په يوه کرايه شوي کور کښې اوسيږم، نو سره له دې چې زه معيوب يم، اړتيا لرم چې ډير کوښښ وکړم. زه په لګړه باندې ګرځم او د ويلچير څخه کار اخلم. زما ټپونو زه په شخصي لحاظ ډير اغيزمن کړی يم، ځکه زه پخوا يو روغ سړی وم، خو اوس نه يم او زه د يو روغ سړي په څير خپل کار نه شم کولای. پخوا ما کولای شو ډيرې پيسې و ګټم، خو زه اوس دا کار نه شم کولای. پخوا ما کولای شول د مياشتې د ۳۵۰۰۰ څخه تر ۴۰۰۰۰ پورې افغانۍ و ګټم، خو زه اوس په ډيره سختۍ د مياشتې ۱۷۰۰۰ افغانۍ ګټم، چې پر هغو زما د کورنۍ لګښتونه او د کور کرايه نه پوره کيږي. له هغه وخته چې زما پښه ټپي شوې ده زما په عايد کښې ۵۰ سلنه لږوالی راغلی دی.

زما کورنۍ له حکومت څخه د مالي معاوضې غوښتنه نه ده کړې ځکه دوی وزګار نه دي. مغوی مجبور دي چې هر وخت ما مزارشريف ته ډاکټر ته يوسي، زه له تيرو دريو مياشتو څخه ډاکټر ته ځم. د ولس مشر د دفتر له خوا د هغه چا سره چې په ځانمرګي حمله کښې ټپيان شوي وو مالي مرسته شوې، خو ما هغه نه ده تر لاسه کړې چې زه به په مزار شريف کښې وم او کله چې ما ورودسته د هغوی پوښتنه وکړه، نو بيا هيڅ شی نه وه پاته او مونږ هيڅ مرسته تر لاسه نه کړه. کله چې زه په روغتون کښې وم، نو يو چا مونږ سره شاو خوا ۱۶۵۰۰ افغانۍ مرسته کړې وه. زه نه غواړم له چا وړيا مرسته وغواړم، ځکه دا زما عادت نه دی. زه له شک پرته مشکلات لرم او سخت کار کوم، خو هيڅکله به له خلکو خيرات و نه غواړم.

کله چې خلک ما ګوري، نو له ځانه سره وايي چې يو مهال دا يو روغ سړی وه او اوس يې د خپل بدن غړی له لاسه ور کړی. له نيکه مرغه خلک ما ته په بده سترګه او بد نظر نه ګوري؛ ما خلک د هغه چا په نظر ګوري چې پخوا ځرنګه وم. په هر حال، دې حالت زما شخصي خونديتوب اغيزمن کړی، ځکه زه معيوب يم. زه له مهربانه خدايه غواړم چې زمونږ په هيواد کښې سوله اوثبات رامنځته کړي تر څو زه د خپل هيواد خلک په خوښۍ او امن کښې و ګورم.

مهمه ده چې په ياد ولرو چې دا مبلغ په زيات احتمال ډير محتاطانه دی، ځکه په هغه کښې يوازې د هغو ناورغان لګښتونه حساب شوي چې په وسله ټپيان شوي دي، او نور ډول ټپونه چې د جګړې له امله رامنځته شوي، نه دي حساب شوي. دې مبلغ کښې هغه مصارف هم نه دي شامل چې روغتيايي کارکونکو پر شخصي بنسټ د ناروغ د څارنې لپاره تر سره کړي دي. هغه نور څه، چې په دې مبلغ کښې شامل نه دي هغه ممکنه روغتيايي ستونزې او مړينې دي چې سبب يې د روغتيايي سهولتونو ته لاسرسی او د ظرفيت کموالی او د روغتيا پورې اړوند امنيتي ستونزې دي.

ټيونه همدارنګه د توليد توان د لاسه ورکولو له نظره هم يو لګښت دی. د عامې روغتيا د وزارت او د روغتون د کارکونکو له نظره چې په ۷ ولاياتو کښې د دې څيړنې لپاره مرکې ورسره شوې دي، متوسط ټيټ اټکل شوی د ملکي ټپيانو له پلوه د ورځو شمير ۱۷ دی. داسې فرض کړئ چې افراد د جګړې له امله رامنځته شوو غير مرګانې ټپونو پر مهال، دا اټکل رقم چې د جګړې له امله د يو چا د ټپي کيدو او ګټې د لاسه ورکولو سبب شوی دی، د افغانستان لپاره په ۲۰۱۴ کال کښې ۲۰۵۶۸۸ امريکايي ډالره مصرف درلود. بيا هم، دا شميره داسې معلوميږي چې ډير محتاطانه شميره ده، ځکه چې د هغه ورځو د شمير ډير ټيټ اوسط يې نيول شوی دي. په داسې حال کښې ځينې درملنې يوازې يو څو ورځې اخلي، ځينې نور بيا د ۳-۶ مياشتو پورې وخت نيسي، چې د پام وړ اندازه د ګټې لاسته راوړلو اندازه کموي.

## ښوونه او روزنه

| د موضوع تفصيل | لګښت (په امريکايي ډالر) |
|---|---|
| د راتلونکې عايد د لاسه ورکول، ځکه کوچنيان د نا امنۍ له امله ښوونځي ته لاړ نه شو | ۴۰۵۱۶۶۸۳۰۸ |
| د راتلونکې عايد د لاسه ورکول، کوچنيان ښوونځي ته لاړ نه شو ځکه د نا امنۍ له امله ښوونځي بند وو. | ۴۵۸۹۶۲۹۶۵ |
| د درسي ورځو له لاسه ورکول | ۵۰۱۷۲ |

د هغه مقالې پر بنسټ چې "ښوونه او روزنه د ټولو لپاره، په نړيواله کچه ځاري " جګړه او ناامنی ښوونه او روزنه له هره پلوه اغيزمنه کوي. دا ډيره بده خبره ده چې جګړه کولای شي د ښوونکو، کارکونکو او زده کونکو د مړينې او يا بې ځايه کيدو سبب ګرځي. جګړه او نخښتې ښوونيزه فزيکي زيربنا له د ښوونځيو ودانۍ ويجاړوي. جګړه کولای شي چې په پايله کښې د ښوونځيو د تړل کيدو له امله د کوچنيانو د لږ لاسرسي، کوم چې د کوچنيانو امنيت کله چې هغوی ښوونځي ته ځي او راځي له ګواښ سره مخ کوي، د ښوونکو غير حاضرې زياتوي، چې دا د شاګردانو په شمير او حاضرۍ باندې بده اغيزه کوي. د جګړې له امله بې ځايه کيدل هم په ښوونه او روزنه اغيزه کوي، ځکه کيدای شي زده کوونکي په هغه سيمه کښې چې دوی ورته کوچيدلي دي اړين اسناد و نه لري او يا به د ژبې ستونزه ولري. جګړه کولای شي د هغې د خرابو عواقبو له امله د تعليم د پرېښودلو او د تعليم د ادامې د اندازې د لږوالي، لکه

بې ځایه کیدلو، پوځ ته د تللو، اقتصادي ستونزو، چیرې چې تعلیم د لمړني ښوونځي څخه وروسته د ډیرو مشکلاتو سره مخ وي. جګړه د ښوونې او روزنې پر کیفیت اغیز کوي، ځکه چې د هغې شتون محرومیت نور هم زیاتوي، چیرې چې کوچنیان ډیر زیان منونکي دي. هغوی د ښوونځي څخه ایستل کیږي تر څو کار وکړي او د خپلو کورنیو سره د ژوند د اړتیاو په پوره کولو کښې مرسته وکړي، او نجوني زیاتره وختونه د هغه تاوتریخوالي له ډاره چې ښځینه زده کونکي ور سره مخامخ کیږي، ډیر مشکل لري.[96]

په ټولو ولایاتوکښې د هر سکتور څخه دولتي چارواکو چې د دې ځیړنې لپاره مرکې ورسره شوي دي څرګنده کړې ده چې جګړه په ښوونه او روزنه، له عمومي خدماتو او زیربنا له نظره منفي اغیزه لري.[97] له هغو ۵۹ دولتي فعالینو له جملې چې د دې ځیړنې لپاره مرکې ور سره شوی دي ویلې دي، چې ښوونه او روزنه دوهم سکتور دی چې د جګړې او د افراطیت د تاوترخوالي له امله، د زیربنا او پرمختیاي سکتور څخه وروسته ورته ډیر زیان رسیدلی دی. ښوونکي او په هر ولایت کښې د اقتصاد وزارت مسئولینو یادونه کړې چې امنیت په ښوونځي کښې د شمول په خاطر د زده کړو نوم لیکنه او حاضري اغیزمنه کړې ده.[98] هر ولایت کښې چارواکو دا هم ویلې دي چې نجونې له دې پلوه په ځانګړې توګه ډیرې اغیزمنې شوې دي.[99] د ښوونې او روزنې وزارت یو چارواکي داسې څرګندونې کړې دي:

دا د لمر په څیر روښانه حقیقت دی چې د زده کونکي ذهنونه آرام نه وي او هغوی د امنیت احساس نه کوي، نو هغوي په اغیزمنه توګه خپلو زده کړو ته دوام نه شي ور کولای. مونږ په دې وروستیو وختو کښې د یو ښوونځي څخه په یوه ولسوالۍ کښې لیدنه وکړه، چیرې چې امنیتي وضعیت ډیر خراب دی. د نا امنۍ په نظر کښې نیولو سره ډیر والدین خپلو زامنو او لورګانو ته اجازه نه ورکوي چې ښوونځیو ته لاړ شي ځکه د هغوی امنیت تامین نه دی. دا نا امني ثانوي او لوړو زده کړو پر پرتله په لمړنیو زده کړو دیرې منفي اغیزې کوي، هغوی کوچنیان دي او د زیان منونکو او نا امنیو د پیښو څخه ډیر ډاریږي. دا په دواړو نجونو او هلکانو منفي اغیزې لري، مګر نجونې د دې پیښو څخه ډیرې اغیزمنې کیږي.[100]

د ښوونې او روزنې څو چارواکو په کوچنیانو کښې د رواني اغیز یادونه کړې ده او زده کوونکو څخه یې دا ځواک اخستی چې ښوونځي ته حاضري ور کړي او درسونه یاد کړي.ه [101] په ۲۰۱۴ کال کښې، یونیسف د ۲۱ کسانو د مړه کیدو او ۶۱ ټپیانو پیښې ثبت کړې دي،[102] ناامنی د ښوونځیو د تړل کیدو او ښوونکو ته د ګواښ او همدارنګه د تښتولو سبب شوی دی.[103] په ۲۰۱۴ کال کښې، یونیسف د ښوونې او روزنې د ۱۰ کارکونکو د تښتولو، د ۷ کسانو د ډارولو، ۴۶ د ټپي یا وژل کیدو پیښې ثبت کړې دي.[104] ناامني او جګړې همدارنګه کولای شي لیرې پرتو ښوونځیو ته د زده کوونکو تلل سخت او ستونزمن کړي.[105] همدارنګه دا هم په ګوته شوه چې جګړه دا اغیز هم لري کله چې کوچنیان د کورنۍ د مشرانو د لاسه ورکولو وروسته ښوونځي پریږدي او کار کوي[106] او دا چې جګړه درسي موادو ته لاسرسی محدودوي.[107]

په یو شمیر ولایاتو کښې، د ښوونې او روزنې څو چارواکو راپور ورکړی دی چې هیڅ کوم ښوونځی د نا امنۍ له امله تړل شوی نه دي. په هرحال، په نورو ولایاتو کښې، داسې اټکل شوی چې د ۴۰ – ۶۰ ٪ ښوونځیو څخه یوازې یو یا دوه ښوونځي په کلیوالو سیمو کښې تړلي دي.[108] په ۲۰۱۴ کال کښې، یونیسف د تړل شوو ښوونځیو شمیر ۵۴۳ ثبت کړی دی.[109]

د ۴۲ ښخ شوي ماینونو او نا چاودو مهمات شتون (UXOs) په ښوونځیو کښې ثبت شوی دی، اما هیڅ پیښه او یا د جګړې څخه د نا چاودو پاته شوو مهماتو (ERW) چاودونکي دستګاه (IED) په ښوونځي کښې چاودنه نه ده ثبت شوې.[110] د ۱۴ ښوونځیو د اشغال او پر ۱۹ د حملو پیښې ثبت شوې دي.[111]

ځینو یو شمیر ښوونکو او د ښوونې اوروزنې د وزارت راپور ورکړی چې سره له دې چې په ښوونکو یا زده کونکو باندې حملې کیږي، دوی بیا

[96]"د کمیت له نظره په ښوونه او روزنه د جګړې اغیزې،" د یونسکو د احصائې اداره، سپټمبر، ۲۰۱۰ کال. http://www.uis.unesco.org/Library/Documents/QuantImp.pdf.

[97]د کورنیو چارو د وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په کندز او ننګرهار؛ دفاع وزارت سره په قندهار؛ وزارت اقتصاد سره په فاریاب، قندهاراو ننګرهار؛ د کلیو بیارغونې او پراختیا وزات سره په بامیان، فاریاب، هرات، ننګرهار ؛ د عامې روغتیا وزارت په بامیان، فاریاب، کندهار، کندز او ننګرهار؛ د ښوونکو سره په فاریاب، هرات، کابل، کندهار، کندز، او ننګرهار؛ د روغتون کارکونکو سره په فاریاب او کابل؛ د ښوونې اوروزنې وزارت سره په بامیان، فاریاب، هرات، کابل، کندز، او ننګرهار؛ د سولې د ولایتي شورا له غړوسره په بامیان، فاریاب، هرات، کابل، کندهار، کندز او ننګرهار؛ د فواید عامې وزارت سره په فاریاب، هرات، کندهار او ننګرهارکښې مرکې.

[98]د ښوونکو سره په هرات، کابل، کندهار، کندوز، او ننګرهار د ښوونې او روزنې د وزارت سره په بامیان، هرات، کابل، کندوز، او ننګرهار کښې مرکې

[99]د ښوونې او روزنې د وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په فاریاب، هرات، کابل، کندهار، کندوز، او ننګرهار د ښوونکو سره په هرات، کابل، کندهار، کندوز، او ننګرهار کښې مرکې

[100]د ښوونې او روزنې د وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په ننګرهار کښې مرکې

[101]د ښوونکو سره په هرات او کندهار او د ښوونې او روزنې د وزارت سره فاریاب، هرات او ننګرهار کښې مرکې

[102]د یونیسف له لورې راټول شوي شمیرې؛ چې دواړه ډوله یعنې تایید شوې او نا تایید شوې پیښې په هغو کښې شاملې دي.

[103]د ښوونکو سره، د ښوونې او روزنې د وزارت په کابل، او ننګرهار کښې مرکې

[104]د یونیسف له لورې راټول شوي شمیرې ؛ چې دواړه ډوله یعنې تایید شوې او نا تایید شوې پیښې په هغو کښې شاملې دي.

[105]د ښوونې او روزنې د وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په فاریاب کښې مرکې

[106]د ښوونې او روزنې د وزارت سره په هرات کښې مرکې

[107]د ښوونې او روزنې د وزارت سره په کندهار کښې مرکې

[108]د ښوونکو او د ښوونې او روزنې د وزارت سره مرکې

[109]د یونیسف له لورې راټول شوي شمیرې؛ د هغو ښوونځیو په اړه چې د ډسمبر، ۲۰۱۴ کال پورې تړل شوي دي.

[110]د یونیسیف له خوا راټول شوي شمیرې؛ تایید شوې او ناتایید شوې پیښې

[111]هماغه ځای.

هم کوښښ کوي چې د ښوونځيو د پرانستي ساتلو په خاطر د ولسوالۍ او ولايت له چارواکو سره د همآهنګۍ له لارې امنيتي ستونزې حل کړي. يو ښوونکي چې د محلي چارواکو سره يې د اغيزمنې همکارۍ يادونه وکړه راپور ورکوي، او يو مثال يې وړاندې کړ او ويل چې باغيانو ګواښ کړی او پلان يې درلود په هغه ځاى کښې زهر واچوي چې ښوونکي او زده کوونکې تر اوبه څښې.[112] ځينې وختونه، کله چې د باغيانو له لورې يو ښوونځى تر ګواښ لاندې راځي، نو امنيتي ځواکونه د هغه امنيت تامينوي. [113] يو ښوونکي څرګنده کړه چې: «هيڅ څوک حق نه لري چې زمونږ ښوونځي و تړي، حتی که سوځيدلی هم وي،" او وړانديز کوي چې د هر ډول ګواښ ځواب به د ځايي مشرانو د اړيکې او منځګړتوب له لارې چې د باغيانو سره خبرې و کړي رفع او د حملې مخه به ونيول شي. [114] په هر حال، نورو بيا راپور ور کړ چې يو ګواښ موجود يا حمله کيږي، ښوونځی به وتړل شي، اما د تړل کيدو موده به د پيښې د څرنګوالي پورې اړه ولري. . پردې سربيره، داسې راپورونه هم ورکول شوي دي چې کله کله ښوونځي يوازې د څو ورځو لپاره وتړل شي، ځينې وختونه څو اونۍ، او ځينې وختونه شپږ مياشتې، يا څو کاله، او يا هم تل لپاره وتړل شي.[115]

په ټول هيواد کښې، ۲,۱ ميليون زده کوونکي لمړنيو ښوونځيو ته ځي، ۲,۵ ميليونه ثانوي او ۲,۴ ميليونه لوړو زده کړو ته نه ځي. د دې زده کوونکو ٦ سلنه په لمړنۍ سطحه د ناامنۍ له امله، ۵ سلنه په ثانوي سطحه او له ۵ ٪ څخه د ٦ ٪ پورې په لوړه سطحه ښوونځيو ته نه ځي. [116] نو پر همدې دليل، او د ۲۰۱۱ -۱۲ شميرو ته پاملرنه د خطر او زيان منني ملي ارزونه (NRVA)، ښايي چې ۱۲٦۰۰۰ زده کوونکي لمړنيو ښوونځيو ته، ۱۲۵۰۰۰۰ د ثانوي دورې او ۱۴۴۰۰۰ لوړو زده کړو لپاره د نا امنۍ له امله ښوونځيو ته نه شي تللی. په هر حال، په دې شميره کښې ښوونځي ته د بيا شامليدونکو زده کوونکو اندازه چې عمر يې ښوونځي ته برابر دی خپلو زده کړو ته د نا امنۍ له امله دوام نه ور کوي، شامل نه دی. که چيرې امنيت ښه کيږي، يا لږ ترلږه د امنيت احساس و کړي، ممکن کوچنيان يو وخت په راتلونکو کلونو کښې بيا ښوونځي ته لاړ شي، چې دا کار کيدای شي د راتلونکي ګټو د لاسه ورکولو مخه ونيسي که هغوی کومه سطحه تعليم، چې پخوا يې د نا امنۍ له امله پريښې وه، بشپړ کړي. سره له دې چې ښوونځي ته د بيا راتلونکو زده کوونکو اړونده شميرې په لاس کښې نشته، [117] د زده کوونکو يوه فيصدي دا ښايي چې ډيرو زده کوونکو عمر د خپل صنف سره مناسب نه دي بيا ښوونځي ته راتلل يا نوی ثبت نام په بل پړاو کښې په هر دليل، په لاس کښې شته. د شميرو د نشتون په صورت کښې، دا فيصدي د جديد الشمولو په اړه لپاره يوه تقريبي اندازه ګڼلای شي، څکه معلوميږي چې نا امني په جګړې ځپلو هيوادونو لکه افغانستان کښې د پام وړ منفي اغيزه لري. [118] د خطراو زيان منني ملي ارزونې د راپور د ښوونې او روزنې په فصل کښې، ويل شوي دي چې د ښوونې او روزنې په ټولو سطحو کښې، د دوارو نجونو او هلکانو په شمول، ۳۰ سلنه زده کوونکي د خپل صنف لپاره مناسب رسمي عمر نه لري. [119] له همدې امله، ښوونځي ته د بيا شامليدونکو زده کوونکو کوچنيانو فيصدي ۳۰ سلنه لږه شوې ده.

د افغانستان د خلکو په اړه د آسيا فونډيشن د ۲۰۱۴ کال سروې له مخې، د يوې کورنۍ منځنۍ عايد چا چې يو څه لمړنۍ زده کړې، کړې دي د کال (۲۱۵۷) ډالره؛ يو چا چې لمړنۍ زده کړې بشپړې کړې دي د هغوی منځنۍ عايد (۲۲۸۹) ډالره؛ چا چې ثانوي دوره بشپړه کړې ده (۲۹۷۴) ډالره؛ چا چې لوړې زده کړې تر سره کړي دي د هغوی کلنۍ عايد (۴۹۵۷) امريکايي ډالره ښودل شوی دی. د دې شميرو او احصائيو څخه په استفاده، د کلني متوسط عايد د لاسه ورکولو له نظره د ټول عمر د عايد لاسه ورکولو اټکل، که چيرې يو زده کوونکی د تعليم يوه سطحه بشپړه کړی وي او بيا يې د نا امنۍ له امله د څو کالو لپاره دوام نه دی ورکړی، د هغه د تقاعد عمر په توګه حساب شي او د هغه څخه د هغه زده کوونکي د عمر اوسط څوک چې د ښوونې او روزنې

[112] د ښوونې او روزنې د وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره کابل کښې مرکې
[113] د ښوونې او روزنې د وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره باميان کښې مرکې
[114] د ښوونکو سره په کابل کښې مرکې
[115] د ښوونکو سره په هرات او ننګرهار کښې مرکې
[116] په ملي سطحه د خطر او زيان منته ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲: ښوونه اوروزنه،" د احصايي مرکزي اداره، ۲۰۱۳ کال، http://cso.gov.af/Content/files/Chapter8%20EDUCATION.pdf.
[117] د UNOCHA وينا: د سولې او ډيموکراسۍ د د يو شانوالي موسسې سره په شخصی مکاتباتو کښې ويلي چې دا ډول معلومات لمړنيو ښوونځيو ته د زده کړو بيا راتلل (د نا امنی يا نورو دلايلو له امله) د يونيسف په وينا په افغانستان کښې په لاس کښې نشته.
[118] د يونيسف نړيوال راپور ته په پام، هغه کوچنيان چې عمر يې لمړنيو زده کړو ته مناسب دی په جګړې ځپلو هيوادو کښې تقريبا د مخ پر انکشاف هيوادونو څخه درې ځله لږ دی. جګړه همدارنګه د دې سبب کيږي چې کوچنيان په لوړو دورو کښې په جګړې ځپلو هيوادو کښې يوازې ٦٥ سلنه فارغين ور کړي، په داسې حال کښې دا شميره په نورو مخ پر انکشاف هيوادونو کښې ۸۵ سلنه ده؛ http://www.uis.unesco.org/Education/Documents/oosci-global-report-en.pdf.
[119] په ملي سطحه د خطر او زيان منته ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲: ښوونه اوروزنه،" د احصايي مرکزي اداره، ۲۰۱۳ کال،.http://cso.gov.af/Content/files/Chapter8%20EDUCATION.pdf

ټاکلي سطحه بشپړوي منفي شي او په هغه باندې ۵،۴ ٪ تنزیلي نرخ ور واچول شي، نو هغه زده کوونکي چې ښوونځي ته د نا امنۍ له امله د زده کړې په درې واړو سطحو کښې په ۲۰۱۴ کال کښې نه تلل، نو دا افغانستان لپاره (۴،۰۵۲) میلیارده ډالره تاوان تمامیږي.

په ۲۰۱۴ کال کښې ۵۴۳ ښوونځي د نا امنۍ له امله تړل شوي دي.[120] چې له هغې جملې څخه ۲۷۹ لمړني ښوونځي دي، یوه مدرسه، ۴۹ ثانوي ښوونځي، ۱۱۴ لیسې، او ۶۱ مشخص شوی نه دي. د ښوونځیو د تړل کیدو له امله ۵۸۴۷۰ زده کوونکي لمړینو ښوونځیو؛ ۲۱۸۳۰ ثانوي ښوونځیو؛ ۲۷۳۲۸ لیسو ته حاضر نه شول.

خو بیرته، یو شمیر زده کوونکي چې د ښونځیو د تړل کیدو له امله بهر پاته شوی وو په راتلونکي کښې د ممکنه بیا شاملیدونکو زده کوونکو په سبب به دا اندازه ۳۰ سلنه را ټیټه شي. که د هغو زده کوونکو د محاسبې لپاره چې د نا امنیو له امله ښوونځیو ته نه دي تللي د عین محاسبې څخه کار واخستل شوي او په هغو د ۵،۴ تنزیلي نرخ تطبیق شي، د نا امنیوله امله په درې واړو سطحو کښې د ښوونځیو تړل کیدل په ۲۰۱۴ کال کښې د افغانستان لپاره تقریبا (۴۵۸،۹۶۳) میلیونه ډالر راتلونکي ګټې په اندازه تمامیږي.

**او مالي تلفات: د صالحې کیسه**

زه څلور اولادونه لرم چې عمرونه یې ۱۲، ۱۱، ۹ او ۵ کاله دي – درې نجوني او یو هلک. دوی ټول ښوونځي ته ځي، یوازې له کشر پرته د چا عمر چې د ښوونځي تلو ته مناسب نه دی. مونږ خپل کوچنیان ښوونځي ته لیږو تر څو تعلیم تر لاسه او روښانه راتلونکي ولري. زما خسرګنۍ ما ته وایي چې ښوونځیو ته د نجنو لیږل ښه کار نه دی، په دې اړه ما خپله اندیښنه د خپل خاوند سره شریکه کړه او هغه خپل مور او پلار ته قناعت ور کړ.

امنیت ښوونځیو ته زما د اولاونو د تللو تصمیم اغیزمن کوي ولې دومره په لوړه کچه نه. د بیلګې په توګه، هلته د هغه ښوونځي سره نژدې چې زما اولادونه پکښې زده کړه کوي، یوه چاودنه وشوه، نو له همدې امله مونږ خپل اولادونه دوه اونۍ ښوونځي ته و نه شو لیږلای. په چاودنه کښې دوه نجونې و وژل شوې. ما په خپل خاوند ډیر ټینګار وکړ چې کوچنیان ښوونځي ته ولیږه، هغه بالاخره زما خبره و منله او هغوی ښوونځي ته ولیږل. هو! د لورګانو او زامنو تر منځ توپیر شته؛ په سختو شرایطو کښې لورګانو ته ښوونځیو ته د تلو اجازه نه ورکول کیږي خو زامنو ته ورکول کیږي، ځکه لورګانې د زامنو په پرتله ډیرې زیان منونکي دي. کله چې زما اولادونه ښوونځیو ته ځي او راځي نوزه ډیره ډاریږم. کله چې هغوي د خپل ټاکلي وخت څخه نا وخته شي نو زه بیا د کور په دروزاه کښې ور ته انتظار ولاړه یم. زه هغوی ته دعا کوم چې کور ته خوندي او پر وخت راشي. ما هغوي ښوونځي کښې شامل کړي دي او که د تبنتولو او یا داسې نورو پیښو په شمول څه ستونزه پیدا شي بیا به زما څخه پوښتنه کیږي. زه له طالبانو او ځانمرګو څخه ډاریږم چې پر ښوونځیو حمله کوي.

زما د کور څخه دوه بلاکه وړاندې یوه مدرسه ده، خو خلک خپلو لورګانو د نا امنۍ او د خلکو د خبرو له امله چې ښوونځیو ته تلونکو نجونو پسې یې کوي، اجازه نه ورکوي. د مثال په توګه زمونږ څخه څو بلاکه وړاندې یوه جینۍ هره ورځ ښوونځي ته تله، مګر یوه ورځ یو څو کسانو – د طالبانو په نامه – د هغې لاره و نیوله او هغه یې و وژله. له هغه

وخت وروسته، ډیرو کورنیو خپلي لورګانې ښوونځیو ته له تلو څخه منع کړي. شپږ میاشتې وړاندې، خپله افغان عسکرو په یو جینۍ ډزې و کړې او مړه یې کړه. اصل خبره داده چې زمونږ عسکر هم ښوونځیو د نجنو ته د تلو مخه نیسي.

ښوونه او روزنه ډیره مهمه ده. زمونږ کوچنیانو د اخلاقو، فزیک او کیمیا په اړه په خپل ښوونځي کښې، ډیر څه زده کړي دي. که مونږ کومه ناروغي لرو نو مجبور یو چې یو سړي ډاکتر ته ولاړ شو؛ زه هیله لرم زما لورګانې به یوه ورځ ډاکترانې شي. نو دا به ډیره ښه خبره وي چې که مونږ د دې پر ځای چې په هیواد کښې دننه یو نارینه ډاکتر او یا پاکستان کښې یوې ښځینه ډاکترې ته لاړ شو، په خپل هیواد کښې یوې ښځینه ډاکترې ته لاړ شو. تعلیم زمونږ د اولادونو پر راتلونکي عاید هم اغیزه لري. بې تعلیمه خلک نه شي کولای یوه دنده ولري او د هغوی زیات شمیر بې روزګاره دي. د تعلیم لرونکي خلک کولای شي دنده ولري او پیسې و ګټي؛ د هغوی څخه کیدای شي ډاکتران، انجنیران، ښوونکي او داسې نور جوړ شي. د مثال په ډول، زمونږ په ګاونډ کښې یو جینۍ خپل پلار له لاسه ور کړی او هیڅوک حاضر نه دی چې د هغې د مور او کوچني ورور پالنه وکړي، بلکه هغه یوه روغتیا پاله (دایه) ده او هغه ښه عاید لري او خپلې کورنۍ د مالي اړخه حمایه کوي. دا د تعلیم ګټه ده.

[120] د یونیسف له خوا د راټولو شوو معلوماتو پر بنسټ د تړل شوو ښوونځیو شمیر، دسامبر، ۲۰۱۴ کال.

جګړې همدارنګه د ښوونې او روزنې لپاره يو بل مالي لګښت (تاوان) دی، ځکه کله چې ښوونځي تړلې وي بيا هم معلم خپل معاش اخلي. په ۲۰۱۴ کال کښې د ښوونځيو پر وړاندې مجموعا ۲۲۶ پيښې ثبت شوې دي.[121] د پيښو له امله د ښوونځيو د تړل کيدو د بيلابيلو اټکلونو پر بنسټ، دا محاسبه په تقريبي ډول په يوې اونی کښې د يوې پيښې، کوم چې کولای شي ۱۲ ښوونکي به اغيزمن کړي پر هغه اټکل ولاړ دی چې د ټولو ښوونکو له جملې څخه او په عمومي توګه تعليمي ښوونځي په افغانستان کښې اغيزمن کړي. د دې اټکل پر بنسټ، په ۲۰۱۴ کال کښې د جګړې له امله تقريبا ۱۳۵۶۰، د معلم (درسي) ورځې له لاسه ورکول شوي دي. که د يو ښوونکي اوسط کلنی معاش ۸۸۸ ډالره په نظر کښې ونيسو،[122] په ۲۰۱۴ کال کښې د جګړې او د افراطيت د تاوتريخوالي له امله له لاسه ورکول شوې ورځې په فغانستان کښې تقريبا ۵۰۱۷۲ امريکايي دالرو ته رسيږي.

## د زيربنا ويجاړيدل او په پرمختګ د هغې اغيز

| د موضوع تفصيل | لګښت (په امريکايي ډالر) |
|---|---|
| د ښوونځيو ويجاړيدل او ړنګيدل | ۴۱۶۰۰۰۰ |
| د روغتيايي تاسيساتو ويجاړيدل او ړنګيدل | ۴۴۸۰۰۰۰ |
| د زيربنا ويجاړيدل | ۳۱۲۲۱۲ |

د جګړې او د افراطيت د تاوتريخوالي تر ټولو څرګند لګښتونه د نا امنيو او بې ثباتی له امله زير بنا ته زيان رسيدل، او د پرمختګ نشتون [123] زياتره وختونه په جګړو کښې، د مفاهمې او ملاتړ خطونه لکه مخابرات، هوايي ميدانونه، سړکونه او پلونه د حملو هدف ګرځي. پر دې سربيره، کورونه، ښوونځي او روغتيايي تاسيسات لوټ، حمله پرې کيږي او يا له منځه ځي.[124] د زيربنا ويجاړيدل اوړنګيدل هم کيدای شي د وروستيو فاجعې رامنځته کونکو پيښو سبب وګرځي. د بيلګې په توګه د زيربنا او امنيت د لا خرابوالي له امله د ترانسپورټي لګښتونو ډيريدل.[125] د برښنا له منځه تللې شبکې چې کيدای شي چې د پاکو اوبو او فاضل اوبو پمپول و دروي، کوم چې کولای شي ډيرې جدي روغتيايي ستونزې را منځته کړي.[126] زيربنا هم د اقتصادی ودې يو مهم عامل شميرل کيږي. نو له همدې امله په لوړه کچه د منابعو ړنګيدل په ډير احتمال د عوايد لږوالی او اقتصادی وده اغيزمنه کوي.[127] د زيربنا فزيکي بيا رغونه زياتره وخت کيدای شي د ټولينيزو اهدافو د پرمختګ څخه لمړيتوب تر لاسه کړي، او نورو سکتورونو لکه ښوونې او روزنې او عامې روغتيا لپاره شته منابع را محدودې کړي.[128] په هرحال، فرض کړی چې بيا رغونه او بيا ودانې په هر ځای کښې پيښيږي، د جګړې ځپلو هيوادونو حالت ته په کتنه، چې زياتره عمدتا کمزوری اقتصاد لري او د دې دندو تر سره کول د هغوی د مالي توان څخه پورته دي، او د ګډوډيو دوام د دې مخه نيسي چې خصوصي سکتور په داسې حالاتو کښې په زيربنايي پروژو کښې پانګونه وکړي.[129]

د دولتي چارواکو سره چې د دې څيړنې لپاره مرکې ورسره شوي دي په دې باور دي چې جګړې او نا امنې په زير بنا او پرمختيا باندې ډير ستر اغيز لري.[130] يوه مشاهده غالبا شتون لري چې جګړې او بې ثباتې د پرمختيايي پروژو جوړول او عملي کولو تصميم اغيزمن کوي.[131] په ځانګړې توګه د مرسته کونکو له خوا د ملاتړ پروژې، څو مرکه کونکونو

[121] د يونيسيف په واسطه راټولې شوي شميرې؛ چې په هغوکښې تاييد شوي او نا تاييد شوي پيښې شاملې دي.

[122] د ښوونې او روزنې د سکتور ستراتژی - افغانستان ملي انکشافي ستراتيژي،" د ښوونې او روزنې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۲۰۰۷ کال، http://planipolis.iiep.unesco.org/upload/Afghanistan/Afghanistan_MoE_strategy_English.pdf.

[123] آنکه هوفلر ا و مارتا رينال کويرول، "د جکړې د لګښتونو اندازه کول"، ۲۰۰۳ کال.

[124] هماغه ځای.

[125] پاول کالير، "د کورنی جګړو د اقتصادي عواقبو په اړه،" د آکسفورد اقتصادي مقالې ۵۱ (۱۹۹۹) ۸۳ - ۱٦۸.

[126] هماغه ځای.

[127] هماغه ځای.

[128] هماغه ځای.

[129] آنکه هوفلر ، "په جګړې ځپلې اقتصاد کښې د زير بناو د بيا رغونې او بيا جوړونې ستونزې،" د افريقا پرمختيايي بانک، د اقتصادی څيړنو مقالې شماره . ۴۸، ۱۹۹۸. http://www.afdb.org/fileadmin/uploads/afdb/Documents/Publications/00157630-EN-ERP-48.PDF.

[130] د کورنيو چارو د لوړ پوړو چارواکو سره په کندز او ننګرهار؛ د دفاع وزارت سره په فارياب، هرات، کندهار او کندز؛ د اقتصاد وزارت سره په فارياب، قندهار او ننګرهار؛ د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت سره په باميان، فارياب، هرات، کابل، کندهار، کندز او ننګرهار؛ د عامې روغتيا وزارت سره په باميان، فارياب، کندهار، کندز ، د ښوونکو سره په فارياب، هرات، کابل، کندهار، کندز، او ننګرهار؛ د روغتون کارکونکو سره په باميان، فارياب، هرات، کابل، کندز، او ننګرهار؛ دسولې د ولايتي شور د غړو سره په باميان، فارياب، هرات، کندهار، کندز، او ننګرهار؛ د فوايد عامې وزارت سره په باميان، فارياب، هرات، کابل، کندهار، کندز او ننګرهار کښې مرکې.

[131] د اقتصاد وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په ننګرهار؛ د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت سره په باميان، فارياب، هرات، کابل، کندهار، کندز او ننګرهار؛ د عامې روغتيا وزارت سره په باميان؛ د ښوونې او روزنې وزارت سره په هرات او کابل؛ د فوايد عامې وزارت سره په باميان، فارياب، هرات، کابل، کندهار، او کندز کښې مرکې.

دا احساس کړې چې نا امنه سیمې د پرمختیایي پروژو څخه بې برخې پاته دي، ځکه چې هغه سیمې دا سې دي چې مرسته کونکو او د هغو کارکونکو ته هلته د تلو اجازه نشته، او د خطر څخه ډکه پانګونه ګڼل کیږي. [132] جګړه او بې ثباتي ځینې پروژې نا تکمیله او ځنډنۍ پریښې دي [133] مرکه کونکو دا تشریح کړې چې جګړې او بې ثباتۍ د پروژو په اندازه باندې هم اغیز کړی دی، او د بې ثباتۍ په نظر کښې نیولو سره ځینې لنډ مهالې او کوچنۍ پروژې عملي شوې دي.[134]

د عامې روغتیا، د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا او فواید عامې وزارت کارکونکو احساس کړې ده چې جګړه د پرمختیایي پروژو قیمت لوړوي. [135] نا امني هغه ساعتونو چې د کار لپاره مناسب دي، اغیزمن کوي، [136] او د امنیت، اکمالاتي ملاتړ، او په ټولیزه توګه د کار څارنې لپاره زیات اضافي لګښتونه صورت نیسي. داسې څرګندیږي چې جګړه او د افراطیت د تاوتریخوالی په پراخه کچه د پروژې په څارنه او څرنګوالي باندې اغیز لري، [137] چې په پایله کښې په نا امنو سیمو کښې، د پروژو څارنه نه شي کیدای، د لږو پروژو د عملي کیدو سبب کیږي. [138] پر دې سربیره، یو چارواکي دا هم وویل چې که پروژې په نا امنو سیمو کښې بشپړې هم شي، هغوی د نا امنۍ له امله هلته کارکونکي نه شي استولای. هغه د یو کتنځي مثال ور کړ چې ودانۍ یې جوړه شوه خو هیڅ ډاکتر نه غوښتل هلته ولاړ شي. [139] یوه مرکه ورکونکي داسې تشریح کړه چې جګړې او بې ثباتۍ فساد ته لاره هواره کړې چې تطبیقونکي پروژې سرته نه شي رسولای او یا یې په بې کیفیته بڼه سرته رسوي ځکه چې د هغو پروژو څارنه نه کیږي او یا هم ناامني د خرابو کړنو لامل وړاندې کوي.[140]

یو شمیر دولتي چارواکو دا هم ویلي دي چې د زیربنا او عامه شتمنیو فزیکي ړنګیدل د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي په لګښتونونو کښې شاملولای شو. [141] په هغو مرکو کښې چې د ښوونکو او وزارت د کارونکو سره شوي د ښونځیو د ویجاړیدو او ړنګیدو په اړه په عمومي توګه کیسې اوریدل شوي، په عمومي توګه د ښوونځیو سوځول، هغو ته بمونه خښول او د هغوی الوزول، یا په ښونځیو حملې، کله چې د طالبانو او یا نورو وسله والو مخالفو ډلو تر کنترول لاندې راشي. نورو دولتي چارواکو دا یادونه کړې چې د وسله والو مخالفو ډلو له لورې د پلونو او سړکونو ړنګول، د چاودنو په واسطه د برښنا د لاینونو پرې کول، په ځمکنیو مخامخ جګړو کښې د ودانیو، کتنځایونو او نورو عامه تاسیساتو ویجاړیدل. د ضعیف حفظ او مراقبت (O & M) لپاره د ضعیفو مالی جوړښتونو له امله، زیاتره وخت دولت نه توانیږي متوسط او جدي ترمیمات په یوازې ځان تر سره کړي او د مرسته کونکو ادارو او نورو سرچینو په مالي مرسته اتکاء کوي. [142] په ۲۰۱۴ کال کښې، د ۱۱ ښونځیو د سوځیدو، او د ۳۹ ښونځیو د ویجاړیدو پیښې ثبت شوې دي. [143] د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې د یوې بیا کتنې پر بنسټ، په اوسط ډول د ۸ درسي خونو د جوړیدو لپاره (۲۰۰۰۰۰) ډالر بودجه په نظر کښې نیول شوې ده. [144] د سختو ویجاړتیاو په اړه د دقیقو معلوماتو نشتون، په اوسطه توګه د ښوونځي د تقریبا ۲۰ سلنه ارزښت سره برابره ده. که دا په هغو ۱۰۴ پیښو کښې چې په ۲۰۱۴ کال رامنځته شوي ور واچوو، د ښوونځیو ویجاړتیا به د افغانستان لپاره (۴,۱۶) میلیونه ډالره لګښت لري.

په ۲۰۱۴ کال کښې د روغتیایي کارکونکو یا تاسیساتو ٦٤ پیښې ثبت شوې دي. [145]د ۱۳۹۴ کال د ملي انکشافي بودجې بیا کتنه، په ګوته کوي چې یو

---

[132]د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په بامیان کښې مرکې

[133]د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په بامیان؛ د روغتون کارکونکو سره په کندز؛ او د فواید عامې وزارت سره په بامیان، فاریاب، هرات او ننګرهار کښې مرکې.

[134]د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په ننګرهار؛ او د فواید عامې وزارت سره په بامیان کښې مرکې.

[135]د فواید عامې وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په هرات کښې مرکې

[136]هماغه ځای.

[137]حامد اي علی، "د وسله والو جګړو د اقتصادي لګښتونو اټکل،" ۲۰۱۲ کال.

[138]د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په هرات کښې مرکې

[139]د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په بامیان کښې مرکې

[140]د فواید عامې وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په بامیان کښې مرکې

[141]د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د لوړ پوړو چارواکو سره په بامیان، فاریاب، کندز او ننګرهار؛ د ښوونکو سره په فاریاب، هرات، کابل، قندهار او ننګرهار؛ د روغتون کارکونکو سره په قندهار؛ د ښوونې او روزنې وزارت سره په فاریاب، هرات، کابل، کندز، ا و ننګرهار؛ د سولې د ولایتي شورا د غړو سره په کندز؛ د فواید عامې وزارت سره په هرات او کابل کښې مرکې.

[142]ماری ایس هوبر، ماریوتز راد، و شمسیه نوری، "د افغانستان د ۱۳۹۴ د ملي بودجې د مسودې خپلواکه ارزونه،" د سولې او دموکراسۍ د پوشانوالي موسسه، نومبر ۲۰۱۴،http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/1394-Budget-Snapshot_English.pdf.

[143]د یونیسف له لورې راټول شوی شمیرې؛ دواړه تایید شوي او نا تایید شوې پیښې.

[144]" د ۱۳۹۴ کار د ملي بودجې سند"، د مالیې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت ، ۲۰۱۵ کال، http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/National%20Budget/1394/1394%20National%20Budget_English%20Version.pdf.

[145]ځاي پر ځای کیدل نه یوازې هغه خلک اغیزمن کوي چې بې ځایه شوی او کډوال اغیزمن کوي، بلکه کوربه هیوادونه، اصلي هیوادونه او بهر میشته خلکو اغیزه کوي. ځاي پر ځای کیدل په منابعو او خدماتو فشار واردوي، چې د اجتماعي کشمکشونو، تاوتریخوالي او جرایمو، منجر کیږي او ناوړه چاپیریالي پایلې او محلي اقتصاد اغیزې کوي. په داسې حال کښې چې د کډوالۍ څخه یو شمیر ګټې تر لاسه کیږي، خپل اصلي هیواد ته د پیسو لیږل، بهر میشتي نفوس، ځاي پر ځای کیدل او کډوالي د اوږدې مودې په ملي ظرفیت او کارګري مارکېټ په لاسته راوړنو اغیز کوي، او په پراخه کچه ځاي پر ځای کیدل اوبیرته ستنیدل په سیاسي ثبات تاثیر کوي. د ځای پر ځای کیدونکي او بیرته ستنیدونکې نفوس د ملاتړ برابرولو لپاره مالي لګښت زیاتره وخت ډیر لوړ دي او ځاپر ځای کیدل او بیرته ستنیدل په ښاري – کلیوالي مثالونو کښې په زیربنا، لکه کورونه، اقتصاد، او د خدماتو په وړاندې کولو، چې په سرعت روان دی، ډیر فشار راوړي.

۳۰ بستریزه کتنځی لپاره شاو خوا۳۵۰۰۰۰ ډالره بودجه په نظر کښي نیول شوې ده [146] د ویجاړتیا اړوند سروې نشتون، دا محاسبه په اوسط ډول د ویجاړتیا اندازه د کتنځایونو د ۲۰ سلنې ارزښت سره برابره اټکلوي. که د پیښنو دا اندزه په ۲۰۱۴ کال کښې ٦٤ په نظر کښې ونیسو، نو د ښونځیو ویجاړتیا د افغانستان لپاره (۴،۴۸) میلیونه ډالره لګښت لري.

زیرناو ته په ۲۰۱۴ کال کښې د تاوان رسیدلو دا موجوده احصائیه او شمیرې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزرات له خوا تیارې شوې دي، ډیرې نیمګړې دي او له همدې امله ډیر په احتیاط باید و کارول شي.

په ۲۰۱۴ په کال کښې د کاپیسا په ولایت کښې یوازې د یو پلچک د ویجاړتیاو پیښنه ثبت شوی چې د تاوان اندازه یې ۳۵۰۰ ډالره وه او د پروان په ولایت کښې درې پلچکونو د ویجاړتیا پیښې، چې د د هر یوه پلچک تاوان یې ۴۵۰۰ ډالره او د بل یوه یې ۳۵۰۰ ډالره وه، او په خوست ولایت کښې د یو پلچک د ویجاړتیاو پیښنه ثبت شوی چې د تاوان اندازه یې ۱۲۰۰۰ ډالره وه. د بشپړو شمیرو د نشتون په راټولې شمیرې چې د UNOCHA له خوا تیارې شوې دي افراطیت تاوتریخوالې، د بې ځایه کیدل او کډوالي سبب کیږي، چې په ځانګړې توګه همدا وضعیت په افغانستان کښې حاکم دی، چیرې چې د لسیزو جګړو وروسته د بې ځایه کیدلو او کډوالی په اړه شمیرې په نړی کښې تر ټولو لوړې دي او په خپله خوښه بیرته راستنیدلو په اړه ډیرې ټیټې دي.

د نړی په کچه په اوسط ډول، د څلورو کډوالو څخه یو افغان دی. سره له دې چې له "جګړې وروسته،" افغانستان کښې د ۲۰۱۵ د می د میاشتې پورې د جګړې له امله د داخلي بې ځایه شو خلکو شمیر د ۹٦۴۰۰۰ د شمیر له نظره په افغانستان کښې ډیر لوړ ښودل شوی دی.[1]

د بې ځایه کیدو او کډوالی بشري او قتصادي پایلې ډیرې پراخه او په ښه توګه مستند شوې دي. بېځایه کیدل په لوړه کچه د جنسي او پر جنسیت ولاړ تاوتریخوالي (SGBV)، او په داخلي سطحه ناوړه استفادې، د ناورغی سره مخامخ کیدلو، رواني ناروغیو او منفي رواني ناروغیو، د ولادت له امله مړینې، ضعیف ولادې او موروالي روغتیا خدمات، د هویت بحران، فزیکي خوندیتوب، غذایي مصؤنیت، اقتصادي وضعیت او د ژوند تیرولو وسایل، او بې روزګاری سره تړاو لري. بې ځایه کیدل زیاتره وختونه د ځمکې د لاسه ورکولو، شتمنیو، او ملکیتونو، او بالاخره د کورنی اړوند منابعو او اقتصادي ټیکاو سره پیوند لري.

[146]"د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې سند"، د مالیې وزارت، ۲۰۱۵ کال.

[147]"د خطر بشردوستانه مشخصات: د افغانستان بشردوستانه اړتیاو یوه عمومي ارزونه ۲۰۱۵ کال،" د ملل متحد اداره OCHA، ۲۰۱۵ کال،

صورت کښې، په ولایتي سطحه د جګړې پورې مربوطو خطراتو اندازه کول د بشر دوستانه د خطر د مشخصاتو د اداري د ۲۰۱۵ کال د لاربښود سند څخه اخستل شوي (د جګړې د پیښنو انعکاس، د ملکیانو تلفات، په ۲۰۱۴ کال کښې د جګړې له امله بې ځایه شوي خلک) چې د ملګرو ملتونو د بشردوستانه مرستو د همآهنګۍ د اداري UNOCHA له خوا خپره شوې ده، [147] کار اخستل شوی چې د اټکلي ویجاړتیا لګښت د زیربنا د ویجاړتیا له نظره په ۲۰۱۴ کال کښې په افغانستان کښې ۳۱۲۲۱۲ امریکایي ډالره محاسبه کړې.

## جګړې - د بې ځایه شوو او کډوالو ځاي پر ځاي کیدل

| د موضوع تفصیل | لګښت (په امریکایي ډالر) |
|---|---|
| د جګړې له امله د بې ځایه شوو خلکو د عاید له لاسه ورکول | ۷۲۴۴۰۵۱۱ |
| د جګړې له امله د بې ځایه شوو کډوالو د عاید له لاسه ورکول | ۳۹۷۹۲۹۱۷۹ |
| د جګړې له امله د بې ځایه شوو خلکو د بیرته راستنیدو له امله عاید له لاسه ورکول | ۷۴۱۳۷۰۴۰٦ |

د جګړې او ښاري ژوند غوره کولو ډیر څرګند لګښتونه په ځانګړې توګه کابل او د افغانستان په نورو ښارونو کښې، او د ښاري خدماتو څخه د غوښتنو او د ښاري غریبانو د زیاتیدو سبب شوي دي. [148]

د بې ځایه شوو وګړو او کورنیو په وینا چې د دې څیړنې لپاره په ټول افغانستان کښې مرکې ور سره شوي دي، ډیرې جدي اغیزې، د غربت اقتصادي اغیزې او له هغې جملې څخه د اسناډو د نشتون له امله د ځمکې او ملکیت د لاسه ورکول، په کوچنیانو کار، او رواني اغیزې درلودې. د بې ځایه کیدو په اړه د دې څیړنې لپاره ډیرې قضیې مطالعه شوې دي چې پر هغوی ډیرې اقتصادي اغیزې د یادونې وړ دي. هغه کسان چې د بې ځایه کیدو څخه وړاندې یې دنده درلوده، یا یې ځمکه او ملکیت درلود، یو حاصلخیزه ځمکه چې د کرهنې او مالدارۍ لپاره یې ترې کار اخستل کیده، ټولو په یوه خوله د عاید لړوالي او د خلکو د ژوند په سطحه کښې د پام وړ اقتصادي نزول خبره کړې ده. ډیرو خلکو خپل کورونه درلودل، ولې اوس اړ شوي دي چې په کرایې کورونو او یا موقتي

http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/risk_profile_guidance_note_-_afghanistan_hrp_2015_-_20150601.pdf.

[148]نسیم مجیدی، "په افغانستان کښې ښاري بیرته راستنیدونکي او داخلي بې ځایه شوي وګړي،" د منځني ختیځ موسسه، د جنوري ۲۵، ۲۰۱۱ کال،
http://www.refugeecooperation.org/publications/afghanistan/pdf/01_majidi.pdf.

کورونو کښې و اوسيږي، دوی د مالي اړينو منابعو د لاسته راوړلو ډېر لږ وسايل لري، تر څو د هغو په واسطه د ژوند لمړنۍ اړتياوې لکه کور، خواړه، او لباس تيار کړي. يو شمير يادونه کړې چې هغوی د کوم پور يا اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کومې ټولنيز ملاتړ شبکې ته لاسرسی نه لري او زړه ماتې شوي دي. سره له دې د حرکت لپاره لمړني دلايل فرق لري، او داسې عوامل لکه اقتصادي پکښې شامل دي، د هرې ځانګړې قضيې د مطالعې څخه يوازې دا لاسته راځي چې يوه بې ځايه شوي کس او د هغه کورنۍ دا ادعا کړې ده چې د نورو ټولو عواملو موجوديت سره سره به دوی خپل کور نه وای پريښی، که چيرې دوی په امن کښې ژوند درلودای.[149]

بې ځايه کيدل او کډوال د يو شمير مالي لګښتونو، مستقيمو او غير مستقيمو سبب ګرځي. په هرحال، د دې څېړنې د حدودو په پام کښې نيولو سره، دا برخه يوازې هغو مالي لګښتونو ته، د عايد له لاسه ورکولو، دواړو فردي عوايدو او د هغه چا لپاره چې د اقتصادي نظره د توليد توان له لاسه ورکولو له امله هيواد پريږدي، پام کوي. دا مهمه ده چې پوه شو چې د پيسو ليږل د دې لګښتونو لپاره د پام وړ جبران ګڼل کيږي، اما د پيسو ليږلو په اړه د بشپړو او باوري شميرو نشتون دلته نه دي شامل شوی.

د ناروې د کډوالو شورا يوې مطالعې، څرګنده کړې ده چې په متوسطه توګه د کورنيو د بې ځايه کيدو له امله عايد ۲۱ سلنه لږ شوی دی.[150] د کورنۍ د غړو شمير په اوسط ډول ۹,۵ فرض شوی دی، د بې ځايه کيدو په اړه د ناروې د کډوالو شورا څېړنې هم په افغانستان کښې همدې موضوع ته پام کړی دی، د بې ځايه کيدو لپاره موده د همدې راپور پر بنسټ پنځه کاله ښودل شوې ده[151] چې د بې ځايه کيدو له امله په افغانستان کښې د کورنۍ د عايد لړوالي رامنځته شوی د ۵,۴ سلنه تنزيل عملی شوی دی چې اوسني او راتلونکي عوايدو له نظره په ۲۰۱۴ کال کښې ۷۲,۴۴۱ميليونه امريکايي ډالر کيږي.

پر دې سربيره، افغانستان د هغه کډوالو چې افغانستان پريږدي اقتصادی توليدي توان له لاسه ورکوي او تر دې وروسته په اقتصادي لحاظ هيڅ ونډه نه تر سره کوي. د ملګرو ملتو د کډوالو د ادارې د يو راپور له مخې، ۵۹۵۰۰ افغانانو په ۲۰۱۴ کال د کډوال کيدو غوښتنه کړې ده – چې د تيرو کلونو په پرتله ٦۵ سلنه زياتوالی ښايي. بيا هم سړي سر نا خالص توليد د سړي سر عايد په توګه، او دا فرض کول چې شاوخوا ۸۰ سلنه کډوال نه غواړي افغانستان ته راستانه شي[152] نو په همدې دليل د شلو کالو لپاره اټکل شوو عوايدو شميرې چې پر هغه ۵,۴ سلنه تنزيلي نرخ عملي شوی دی، هغه کډوال چې په ۲۰۱۴ کال کښې د افغانستان لپاره ۳۹۷,۹۲۹ ميليونه امريکايي ډالر کيږي.

په ۲۰۱۱ کال کښې په پاکستان کښې د افغان کډوالو په منځ کښې يوه مطالعه څرګندوي چې ۴۲,۷۳ سلنه افغان کډوال د امنيت نشتون د بيرته ستنيدو خنډ بولي.[153] د UNHCR په وينا، په ګرده نړۍ کښې ۲٦۹۰۷۷۵ افغان کډوال شتون لري.[154]

په پاکستان کښې د افغان کډوالو د دې شميرې څخه استفاده، موږ د غيری دقيق اټکل له مخې لږ تر لږه ۱۱۴۹۷٦۸ افغان کډوال افغانستان ته د نا امنۍ له امله بيرته ستنيدو ته نه پريښودل کيږي. د يوه کال د لاسه ورکول شوې توليدي اقتصاد محاسبه کول، د نا امنۍ له امله د کډوالو د ستنيدو مخنيوي د افغانستان لپاره په ۲۰۱۴ کال کښې ۷۴۱,۳۷۰ ميليونه دالره لګښت لري.

[149]په باميان، فارياب، هرات، کابل، کندهار، کندز او ننګرهار ولايتونو کښې د داخلي بې ځايه شوو کډوالو د قضيو مطالعه

[150]"په افغانستان کښې د کورنيو بې ځايه شو خلکو د شميرو تحليل او تجزيه،" د کورنيو بې ځايو شوو کډوالو د څارنې مرکز، ۲۰۱۵ کال،-http://www.internal-displacement.org/south-and-south-east-asia/afghanistan/figures-analysis.

[151]"د کورنيو بې ځايه شوو د ساتنې ستونزې: په افغانستان کښې د کورنيو بې ځايه شوو د ملاتړ د څېړنو مطالعه " ساموئل هال مشورتي اداره، ۲۰۱۲،.http://www.nrc.no/arch/_img/9154086.pdf

[152]"د نفوس مشخصات، په پاکستان کښې د افغانانو د څوابونو او تأييد او سروې ۲۰۱۱،" UNHCR او د پاکستان دولت، مارچ ۲۰۱۲،-http://unhcrpk.org/wp-content/uploads/2012/11/PPVR-Report.pdf.

" [153]د نفوس مشخصات، په پاکستان د افغانانو د څوابونو تأييد او سروې په ۲۰۱۱ کال کښې، UNHCR " او پاکستان دولت، مارچ ۲۰۱۲ کال .

[154]"په ۲۰۱۵ کال کښې په افغانستان کښې د UNHCR عملياتي مشخصات ،UNHCR "، ۲۰۱۵، http://www.unhcr.org/pages/49e486eb6.html.

### د افغان ملي امنيتي ځواکونو انساني او مالي تلفات: د شاه ګل کيسه

مونږ د يو کال راهيسې بې ځايه شوي يو، او په يو موقت استوګنځي کښې اوسيږو. طالبانو زمونږ په سيمه ګولۍ اورلې نو مجبور وو کلي پريږدو او ښار ته راشو. که هلته امنيتي ستونزه نه وای، مونږ به خپله سيمه نه وای پريښې. مونږ عادي ژوند، کورنۍ، او دوستان درلودل. زمونږ د کورنۍ غړي يو ځای بې ځايه شوي دي. مونږ ټول بې روزګاره يو، او مونږ له دولت، نا دولتي موسسو يا نورو فعالينو څخه هيڅ ډول مرسته نه ده تر لاسه کړې.

مونږ مخکې له دې چې بې ځايه شو ځمکه، ملکيت او کور مو درلودل، چې مونږ نه شو کولای هغه وپلورو، مونږ د نا امنۍ له امله تر اوسه نه يو توانيدلي بيرته خپلو سيمو ته ستانه شو. مونږ پخوا په خپله سيمه کښې ډير ښه ژوند درلود. مونږ ځمکه، باغ، درلودل او کله به چې زما زامن له ښوونځي څخه را ستانه شول نو د خپل پلار سره به يې يو ځای په خپله ځمکه او باغ کښې کار کاوه. زمونږ د کورنۍ ټولو غړو په خپله ځمکه کښې کار کاوه. مونږ اوس يو ډير بد حالت کښې ژوند کوو؛ مونږ پوره خواړه نه لرو او د کور کرايه نه شو ور کولای. مونږ هلته هر څه درلودل؛ مونږ اړ نه وو د کور، ځمکې او باغ کرايه ور کړو. دلته مونږ هيڅوک نه پيژني او فکر نه کوو مونږ ته څوک څه شي پور راکړي.

زما دواړه زامن د ښوونځي لسم او شپږم ټولګي ته تلل، لکه څنګه چې مونږ د کار لپاره څوک نه لرو چې کار وکړي او پيسې و ګټي نو هغوی مجبور دي زمونږ لپاره کار وکړي او د ژوند اړتياوې پوره کړي، نو څکه ښوونځي ته نه ځي. دوی د ورځې د ۱۰۰ -۲۰۰ پورې افغانۍ ګټي. زما يوازينۍ لور اوس په لمړي ښوونځي کښې شامله شوې ده، مونږ هغې ته د ښوونځي اسناد نه شوو برابرولای، نو هغوی دلته په ښوونځي کښې نه شي شامليدای.

زما اولادونه او زه ښه صحت نه لرو. زه اوس ډيره غمجنه يم. مونږ هلته د ځښلو د اوبو ژوره څاه، پاکې اوبه او خواړه درلودل، مګر دلته مونږ پاکې اوبه او خواړه نه لرو. مونږ اوس کور، فرش او ظرف او هيڅ شی نه لرو، دا حالت ما د احساس او رواني نظره په منفي توګه اغيزمنه کوي. له بې ځايه کيدو وروسته، زما خاوند د شپږو مياشتو لپاره د ستونې درد درلوده. هر وخت چې زه خپلو اولادونو ته ګورم زه ډير خواشيني کيږم. که ښه امنيت را منځته شي، او طالبان و شړل شي او د ګوليو اوريدل بند شي، مونږ به خپل کور ته ستانه شو. که نه مونږ به بيرته هلته لاړ نه شو. که مونږ پيسې درلودای، مونږ به ډير ژر پاکستان يا ايران ته تللای وای. د هيواد د پريښودلو دليل دادی چې مونږ ښه ژوند نه لرو او زمونږ بچيان خپلو زده کړو ته بيا ادامه نه شي ورکولای. نو له همدې امله، زه غوره ګنم چې د هيواد څخه بهر لاړ شو تر څو زما اولادونه تعليم وکړي او په راتلونکې کښې يو سوکاله ژوند ولري.

## 3.3 د افراطيت تاوتريخوالي او اقتصاد

په ليکنو کښې، د جګړې او افراطي تاوتريخوالي د اغيز په اړه د اقتصادي کړنو په اړه د نظر يووالی نشته. د جګړې له امله د رامنځته شوو اقتصادي منفي عواملو د مشاهدې په اړه توافق وجود لري، اما د معکوس مسبب اړوند موضوعات، د ضعيف معلومات يا د معلوماتو نشتون، جغرافيايي سياسی توپير، محاسبه او نمونه جوړول، او حتی د اوږدې مودې "ګټې" د ادارو جوړولو له نظره (اروپا يو ښه لمړی درجه مثال دی) چې د زريزې (millennium) د پيل سره سم د ډيرو بحثونو سبب ګرځيدلی دي. د معکوس مسبب معقوليت په ځانګړې توګه د يو اعتباري استدلال تدوين چې د جګړې او اقتصادي محروميت تر منځ اړيکو باند ټينګار کوي، سبب کيږي. څيړنو ښودلې ده چې کيدای شي د سړي سر عايد او د جګړې لپاره د تمايل تر منځ يو اړيکه[155] او همدارنګه د اقتصادي رکود د واقع کيدو او د جګړې د پيښيدو تر منځ اړيکې شتون ولري.[156]

د دې موضوعاتو سره سره بيا هم جګړې د اقتصادي لګښتونو تحليل او تجزيه په اړه، په ليکنو کښې شواهد وړاندې شوي دي چې هغه په روښانه ډول د جګړې له امله د کوچنی اقتصاد او په ځانګړې توګه د ستر اقتصاد خراب عواقب په ګوته کوي. يو مقاله چې په هغې کښې د هيوادونو تر منځ د شريکو شميرو څخه کار اخستل شوی دی، د مثال په ډول، دا معلومه کړه چې جګړه - په ځانګړې توګه، يوه کورنۍ جګړه - د يو هيواد پرمختګ چې په لمړيو ۵ کالو کښې ۸۵ سلنه چې په لمړيو پنځه کالو کښې د جګړې د لمړيو پړاوونو څخه وروسته بيرته د عادي حالت ته د راتلو د نخښو سره مل[157] همدارنګه بايد په پام کښې ولرو چې مالي منابعو لاسته راتلل په نظامی، انکشافي او بشردوستانه مرستو په چوکاټ کښې د دې سبب شوي دي چې د پرله پسې يو بې سابقې ودې ځای پر ځای کړي چې د يو لوړ اقتصادي ترلاسه شوي ګټه 2009 کال کښې ۲۱ سلنه وه، په اغيزمنه توګه يو مرستندويه اقتصاد رونق په عمده ډول د يو "نه ګټل شوي عايد" يعني د بهرنيو مرستو په سبب رامنځته شوی وه. په هر حال، د ناټو د ځواکونو د وتلو څنډ، د ودې اندازه په پراخه د ۲۰۱۳ کال راهيسې خوا را ټيټه شوه او په ۲۰۱۴ کال کښې د ودې اندازه ۲ سلنې ته را ولويده.[158]

دا د دې څرګندونه کوي چې، يو وخت به د مالي مرستو د کميدو له امله، د افراطيت د تاوتريخوالي د اقتصادي لګښتونو اندازه په ډېر احتمال لا نوره هم په هغه صورت کښې په غالب ګمان د بهرنيو مرستو اندازه د آيساف د موجوديت د وخت په سطحه نه وي، او نوره هم پورته لاړ شي.

[155] کريستوفر بلات مين او اډوارډ ميګل، «کورنۍ جګړې»، ۲۰۱۰ کال.
[156] براک بلومبرګ او ګرګوری هس، "د جګړو او اقتصادي فعاليتونو تر منځ زماني ارتباط"، ۲۰۰۲ کال.
[157] جيمز مرداک او تاد سندلر، " کورنۍ جګړې او اقتصادي وده: او درې اړخيزه پراکندګی"، ۲۰۰۴ کال.
[158] د نړيوال بانک ډاټابيس ته د جون په ۲۲ لاسرسی پيدا شو:
http://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.KD.ZG/countries/AF?display=graph.

# کوچني او ستر اقتصادونه

زیاتره اوسنی څیړنې په ستر اقتصاد باند د جګړې د تاوتریخوالي اغیز چې په عمده توګه د ګاونډیو هیوادونو په تحلیل او تجزیه ډیر تمرکز کوي، مګر د کوچني اقتصاد اغیز په مجموعي توګه د څیړنې لاندې قرار لري. د افغانستان د حالاتو په نظر کښې نیولو سره لا تر اوسه د ستر اقتصاد او کوچني اقتصاد په اړه څه شي خپور شوی نه دی، او یا لږ تر لږه په ښکاره توګه په لاس کښې نشته. یوه خپرونه د کوچني اقتصاد په اړه استدلال کوي چې په رواندا کښې په (پراخه) جګړه کښې ښکیله یوه کورنی د هغو کورنیو په پرتله چې هغوی د لږې اوږدې جګړې سره مخ شوي په ټیټه کچه مصارف لري". جغرافیایی توپیر او د تاوترخوالي له امله اقتصادي تفاوتونو څخه د هغوی د اقتصادي سنجشونو د محاسبې لپاره کار اختسل شوی دی، مګر نور عوامل لکه زیربنا، اداري او تکنالوژۍ په نظر کښې نه دي نیول شوي.[159] دا څیړنه د هغو لمړیو سرته رسیدلو کوښښونو څخه یوه ده چې غواړي د کوچني اقتصاد په کچه د جګړې په اقتصادي اغیزو پوه شي. د دې راپور لپاره د څیړنې پر مهال، پر سوداګریزو شرکتونو د جګړې اقتصادي اغیزې، په هر حال، لا تر اوسه هم (د لیکوالانو د پوهې له مخې) د یوې خپرونې موضوع نه ده.

په ستر اقتصاد د جګړې د اغیزو په اړه، د جګړې د تحلیل او تجزیې له نظره په لیکنو کښې د یو مخ په زیاتیدونکي اهمیت لرونکي موضوع په توګه ډیرې څیړنې شوې دي. په دې کښې د جګړې د اغیزو تحلیل او تجزیه د مارکیټ په شتمنیو، کورنیو عوایدو، مالیاتو او پانګونې، ودې او ګاونډوی هیوادونو اقتصاد شامل دي. دا په ټولیزه توګه د ګاونډیو هیوادونو تحلیل او تجزیه د اقتصاد سنجولو د موډلونو څخه په استفاده د کوچنیو قضیو د تحلیل او تجزیې پر ځای د کیفیت په اړه د څیړنو د میتود څخه کار اخلي. لکه چې مخکې یې یادونه و شوه چې جګړه په اقتصادي وده باندې د پام وړاغیز لري،[160] مګر څیړنو ښودلې ده چې جګړه همدارنګه په اوسطه توګه جګړې په لمړنیو پړاوونو کښې د تولیداتو پر کمښت ۱۸ سلنه اغیزه کوي.[161] څیړنې همدارنګه ځرګندوي چې دا عمدتا د تولیداتو پر وده د پانګونې د کمښت له امله منفي اغیزې کوي.[162]

دا هم معلومه شوې چې جګړې د دولت پر توانایی چې کورني عواید په کار اچونو په لار کښې خنډونه را منځته کوي ځکه چې جګړه معمولا د عوایدو د راټولولو میکانیزمونه[163] یعنې کله چې عواید د جګړې د اور بلیدو له امله د ټیټیدو پر لور روان وي،[164] له منځه ځي. پر ملي اقتصاد د منفي اغیزو تر څنګ، جګړې همدارنګه کولای شي په ګاونډیو هیوادونو جانبی اغیز و لرِي.[165]

## د افراطیت تاوتریخوالی او د افغانستان اقتصاد

سره له دې چې دا د دې حیړنې د محدودې څخه بهر وه، چې په افغانستان کښې د افراطیت د تاوتریخوالی اغیز د کوچني او ستر اقتصاد د شاخصونو (د مثال په ډول مثال مصرف، پانګونه، وده، روزګار، عاید) له نظره محاسبه کړو، دا برخه د ساحې څخه د راټول شوي معلومات د تایید او تقویې او افغان دولت څخه د ملي اقتصادي احصایو، نړیوال بانک او نورو ادارو له لارې کوښښ کوي چې یوه کیفي ارزونه و کړي. دا باید د استقامت ورکولو د یو تمرین په توګه یو نظر د پراخه رجحاناتو په نظر کښې نیولو سره چې جګړې څرنګه په افغانستان کښې اقتصادي وده اغیزمنه کوي، کار ورکړي.

## *پرمختیایي پروژې، پانګونه او کورنی عاید*

هغه مرکې چې د لوړ پوړو چارواکو، ملکي مامورینو او د حکومت د نورو استازو سره د دې څیړنې لپاره تر سره شوې دي په څرګنده توګه دا ښکاره کوي چې د زیربنایي او پرمختیایي پروژو له نظره په اقتصاد باندې د جګړې اغیز یوه پراخه ګډه اندیښنه ده، دا داسې یو موضوع ده چې څو څو ځله را پورته شوې ده.[166] یو څو کسانو چې مرکې ور سره شوې دي ټینګار کړی دی چې نا امني په محلي اقتصاد مستقیم منفي اغیز پریباسي، ځکه چې مشخصې زیربنایي او پرمختیایي پروژې، د معادنو د را ایستولو څخه نیولې تر صنعتي پارکونو پورې، د نا امنی، د پانګونې د کمښت یا د امنیت پورې نورو اړوند عواملو، له امله یا ولاړ او یا لغو شوې دي.[167] دا انګیرنه په بودجه کښې د شوو ژمنو هغو ستونزو ته ځواب ورکوي چې د افغان دولت له لورې په څو تیرو کلونو کښې شوې دي. د دولت د بودجې د زیربنا او طبیعي منابعو مناسب تخصیص په

[159]ماریک فرپورتن او پیتر سرنیلز، "په اقتصادي فعلایتونو باندې د وسله والو جګړې اغیزې: د رواندا څخه اسناد»، ۲۰۱۲ کال.

[160]د ودې د اغیزې په اړه نورې څیړنې: سلیمان پولاچیک او ډریا سیواستیانوف، "آیا جګړې وده مختل کوي؟ د سیاسی بې ثباتۍ او د ملي اقتصاد د فعالیتونو تر منځ د مدارک و شواهد رابطه"، ۲۰۱۰ کال؛ کوابینا چیما بریمپونګ او مروا کورلي، "د افریقا د صحرا د جنوبې هیوادونو کورنۍ جګړې او اقتصادي وده"، ۲۰۰۵ کال.

[161]والری سیرا او ساکسنا سویتا، "د ودې مشخصات: د اقتصادي ښه والي کیسه"، ۲۰۰۸ کال.

[162]تیم او همکاران، "جګړه او پانګونه"، ۲۰۱۱ کال.

[163]، OECD - ماتیدونکي دولتونه ۲۰۱۴ کال: د داخلی عواید په حرکت راوستل، ۲۰۱۴ کال.

[164]ټوني آدیسن، او هککاران، په جګړو ځپلو هیوادونو کښې د مالیاتو او عواید اصلاحات، -۲۰۰۲

[165] پاول دون او نان تیان، "جګړه، اقتصادي وده او په آفریقا کښې د اقتصادي جریاناتو درې اړخیزه اغیزې "، ۲۰۱۳ کال.

[165]

[166]په ۱۱ مرکو کښې یادونه شوې؛ د اقتصاد وزات لوړ پوړو چارواکو سره په کابل، فاریاب، کندهار، د فواید عامې وزارت لوړ پوړو چارواکو سره په بامیان، ننګرهار، کندهار، هرات؛ د سولې د ولایتي شورا د غړو سره په قندهار؛ د ښوونې او روزنې د وزارت سره په قندهار؛ د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت سره په ننګرهار، فاریاب کښې مرکې

[167]د سولې د ولایتي شورا د غړو سره په قندهار؛ د اقتصاد وزات لوړ پوړو چارواکو سره په قندهار؛ د فواید عامې وزارت لوړ پوړو چارواکو سره په ننګرهار او هرات کښې مرکې.

۱۳۹۰ (۲۰۱۱) کال کښې له ۲۳ سلنې څخه ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) کال کښې ۱۴سلنې ته را ټیټه شوې ده، په داسې حال کښې امنیتي بودجه۱۳۹۰ (۲۰۱۱) کال کښې له ۲۹ سلنې څخه ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) کال کښې ۴۴ سلنې ته لوړه شوې ده [168] د امنیت د لا خرابوالي له امله نور افغان عسکر او ملکي وګړي هر کال وژل کیږي.[169]

د پانګونې له نظره، د جګړې اغیز د مرکه کیدونکو کسانو د شمیر له پلوه هم د پاملرنې وړ ګڼل کیږي. څو دولتي چارواکو، او همدارنګه د سولې د ولایتي شوار غړو، یادونه کړې چې بهرنی او کورنی پانګونه د تیرو څو کلونو راهیسي مخ په ښکته روانه ده، ځکه چې امنیت په افغانستان کښې لا نور ډیر خراب شوی دی، [170] نو له همدې امله اقتصادي وده په منفي بڼه اغیزمنه کیږي.دا خبره د اقتصاد وزارت د یو لوړ پوړې چارواکي له لوري هم په مرکز کابل کښې تصریح شوې ده. هغه څرګنده کړې چې د ۲۰۰۸ کال څخه راهیسي د مخالفو وسله والو ډلو له لوري د تاوتریخوالي ډیروالی – د نړیوالو امنیتي سازمانونو شمیر د بحث د پیل ټکی دی ځکه چې دا څرګندوني د ۲۰۱۱ کال د عطف نقطه ښودل شوې ده [171] - چې د کورنی او بهرنی پانګونې له پلوه د یو مدوام کمښت سره مل وه، په سیمه ایزو هیوادونو کښې یو ډیر مصئون چاپیریال لکه هند او ترکیې دا ثابته کړې چې ښه متبادل کیدای شي. [172] د بهرنی مستقیمې پانګونې له نظره (FDI)، ډیر نوي معلومات چې د نړیوال بانک څخه تر لاسه شوي، په ۲۰۱۰ کال کښې د ناخالص کورني تولید (۰,۵) سلنه او په ۲۰۱۳ کال کښې د (۰,۳) سلنه د یو کمښت جریان په ګوته کوي [173] چې د همدې نظر ملاتړ کوي.

کورني عواید یو بل اقتصادی شاخص دی چې جګړې پرې منفي اغیز کړی دی، ځکه چې د مالیې راټولول د اقتصادي فعالیتونو او په امن او نا امنو سیمو کښې د حکومت د توامندۍ پورې اړه لري. د نا امنۍ د زیاتیدو له امله، د مالیې د وزرات د یو لوړ پوړې چارواکي په وینا مرکز کابل کښې، د مالیاتو ورکول په افغانستان کښې ضعیف دي. هغه د قندهار څخه د یو مثال په توګه یادونه وکړه چې هلته د مالیاتو راټولول د متوقع عوایدو څخه ډیر لږ دی، ځکه چې د مالیاتو راټولوونکي، ډیرو نا امنو ولسوالیو ته تلای نه شي. [174] د نا امنۍ له امله دا ناتواني همدارنګه د حکومت مخه نیسي چې په مالیه ولاړ عواید د نورو ملیاتو له لارې لکه د ارزښت له نظره علاوه شوې مالیه (VAT)، چې لا تر اوسه نه ده عملي شوې. [175]

# دنده او کوچنی کار وبار

د کار په جریان کښې مخې ته راتلونکي موضوع چې د مرکو د جریان څخه را پیدا شوې دا ده چې د جګړې اغیز پر دنده، چې په پانګونې، زیربنا، او انکشافي پروژو، او د ښوونې او روزنې فرصتونو سره تړاو درلود. پر بیکارۍ د جګړې مستقیم اغیز کولای شو د وسله مخالفو ډلو د حملو له امله تیپي کیدل، د عامې روغتیا د وزارت او روغتیایي کار کونکو په وینا د لږ تولید او یا د دندې د لاسه ورکولو سبب کیږي. [176] پر بیکارۍ د جګړې غیر مستقیم اغیز څو ربښې لري، لکه د انکشافي پروژو لغو کیدل، د دولتي مصارفو کمښت، او یا د پانګونې نشتون، چې د ډیر مرکو په جریان کښې ور ته ګوته نیول شوې ده. د جګړې او بیکارۍ تر منځ مستقیمه اړیکه د کره معلوماتو د نشتون په صورت کښې نه شي جوړیدای. خو بیا هم دا خبره روښانه ده چې په افغانستان کښې د بیکارۍ اندازه لوړه پاته کیږي، یا په ممکنه توګه لا ډیریږي. د بیکارۍ په اړه احصائیې توپیر لري ځکه د افغانانو ډیرې برخه په غیر رسمي سکتور کښې کار کوي، مګر د اقتصاد وزارت یو لوړ پوړې چارواکي په کابل کښې څرګنده کړې ده چې د کاري ځواک ۵۱ سلنه (د ۱٦ کلنۍ د عمر څخه شروع) بیکاره دی، [177] چې ۸۰ سلنه سړي او ۲۰ سلنه ښځې دي، چې د کار په بازار کښې د ښځو ټیټه سلنه په ګوته کوي. [178]

په کوچنیو کاروبارونو د جګړې اغیزې د افغانستان یا نورو هیوادونو په لیکنو کښې د دې څیړنې موضوع نه ده. په هر حال، هغه مرکې چې د

[168] مارتیز رید، ماری هوبر و چاک تیسین، د یوې ښه بودجې جوړول: د ملي بودجې د اغیزمنتیا ارزونه او د ښوونې اوروزنې او عامې روغتیا له لورې د خدماتو عرضه، د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسه، ۲۰۱۴ کال.

[169] "په وسله والو جګړو کښې د ملکې وګړو ساتنه،" یوناما، ۲۰۱۵ کال.

[170] د اقتصاد وزات لوړ پوړو چارواکو سره په کندز؛ د دفاع وزارت لوړ پوړو چارواکو سره په هرات؛ د سولې د ولایتي شورا د غړو سره په کندز، هرات کښې مرکې.

[171] د نړیوالو امنیتي ادارو پرزنتیشن د نا دولتي موسسو په ګردي میز غونډه کښې وړاندې کړی دی. معلومات د محرمیت له امله شریکیدلای نه شي.

[172] د اقتصاد وزارت لوپوړو چارواو سره په مرکز کابل مرکې

[173] د نړیوال بانک ویب سایټ، په ۱۷ جون لیدل شوی د مالیې وزات لوړ پوړو چارواکو سره په کابل مرکز کښې مرکې.

[174] د مالیې وزرات د چارواکو سره په مرکز کابل کښې مرکي.

[175] هماغه ځای.

[176] د روغتون کارکونکي په کابل، کندهار، کندز، هرات؛ د عامې روغتیا وزارت لوړ پوړو چارواکو سره په کندهار کښې مرکې.

[177] د اقتصاد وزات لوړ پوړو چارواکو سره په کابل مرکز کښې مرکې.

[178] د افغانستان د کارګرانو ملي اتحادیه، د بې روزګارۍ یوه لوړه اندازه یعنی په ۲۰۱۴ یعنی ٦۰ سلنه یاده شوې ده: http://wadsam.com/afghan-business/afghanistans-unemployment-rate-hits-56-232/. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د بیکارۍ اندازه ۳۳ سلنه ښودلې ده د افغانستان سوداګرۍ ته بیا کتنه، ۲۰۰۹ – ۲۰۱۳:http:moci.gov.af/content/files/MoCI-Rport-En-120115.pdf>

دي راپور لپاره تر سره شوي وړانديز کوي چې محلي کاروباري خلک لکه دکانداران د افراطيت د تاوتريخوالي څخه په خپلو اړوند ټولنو کښې د تکليف سره مخامخ دي. مرکو يو لړ منفي اقتصادي اغيزو يادونه کړې ده چې د وسله والو مخالفو ډلو د تاوتريخوالي له امله رامنځته شوي، چې د بيلګې په توګه د ملکيت ړنګول، په ګټه کښې کمښت، د اجناسو د واردولو نا توانې، د توليداتو د لاسه ورکول او په زور د کاروبار تړل

## په محلي کاروبار او اقتصاد باندې د جګړې او د افراطيت د تاوتريخوالي اغيزه: د محمد ياسرکيسه

پخوا مونږ دکان درلود او مختلف اجناس او خوراکي توکې مو پلورل. هغه مونږ د ښار څخه نورو دکاندارانو ته سودا راوړله. هغوی ټول به زمونږ دکان ته راتلل چې وريجې، غوړي، بوره، او همدارنګه چای او نور د کور د اړتيا وړ موادو د رانيول لپاره را تلل. مونږ دې کاروبار ته څلور کاله دوام ورکړ. د خدای په فضل زمونږ کاروبار ډير ښه روان وه او مونږ هره مياشت د ۲۵۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰ افغانيو پورې ګټلې.

کله چې مونږ دکان جوړاوه امنيتي حالت تر يوې اندازې ښه وه، او مونږ فکر کاوه چې دا به ورځ په ورځ لا ښه شي. په هر حال، مونږ اوس ګورو چې امنيتي حالت خرابيږي او په دې اړه د خلکو انديښنې د هرې ورځې په تيريدو سره ډيريږي. دا په کاروبار منفي اغيزه لري ځکه چې خلک خپل اموال پيرودلی او پلورلی نه شي. هغوي په خپلو پيسو ډاريږي او نه پوهيږي چې چيرې يې و ساتي. که هغوی خپلو دکانونو ته مالونه او مواد راوړي نو هغوی به د نا امنۍ له امله هغه و نه شي پلورلی، او تاوان به وکړي.اوس مونږ دکان نه لرو، او زه د خپلې کورنۍ سره يو ځای، ښار ته کوچيدلې يو.  مونږ هر څه لکه خپل کور، ځمکه، او نور ملکيتونه پريښودل، ځکه چې ژوند د کاروبار او شتمنيو څخه ډير مهم دی.

هغه وخت چې مونږ دا کاروبار پر مخ وړ، نو ځينې وختونه به وسله وال وګړي زمونږ دکان ته راتلل چې په زور زمونږ څخه پيسې واخلي. هره ورځ د بيلا بيلو وسله والو ډلو او د هغوی د غير قانوني کړنو په اړه آوازې خپريدې، چې دې خبرو زمونږ په کاروبار منفي اغيزې درلودې او مونږ نه شو کولای خپل کاروبار په عادي توګه پر مخ يوسو. هغوی مسلح او ځواکمن خلک وو، او مونږ د هغوی غير قانوني غوښتنې نه شوې ردولای. هغوی به ناڅاپه راپيدا کيدل او مونږ به يې په ټوپکونو ګواښلو تر څو مونږ مجبور شو هغوی ته پيسې او اموال ورکړو. مونږ زياتره وختونه نه شو کولای خپل دکان پرانيزو او خپل کاروبار سهار وختي او مازديګر ناوخته پر مخ يوسو، ځکه چې امنيت تامين نه وه او حکومت نه توانيده چې زمونږ امنيتي ستونزې را حل کړي، چې مونږ به هره ورځ سره مخامخ وو. کله به چې د دولتي امنيتي ځواکونو او باغيانو تر منځ جګړه روانه وه نو مونږ به خپل دکان تاړه. ځينې وختونه به حتی په هغه سرک کښې چې مونږ به پرې بازار ته تلو او راتلو، ماينونه ښخيدل. په سيمه کښې د وسله والو مخالفو ډلو او باغيانو شتون او فعاليتونو له امله، ځينې وختونه مونږ نه توانيدو چې خپل دکان د څو اونيو لپاره پرانيزو. دا کار سبب شوی دی چې زمونږ ډير مالونه وراسته او له کاره و وځي. ځرنګه چې امنيتي حالت ورځ په ورځ خرابيده او مونږ نه توانيدلو چې خپل کاروبار ته په خوندي توګه دوام ورکړو، نو مونږ خپل دکان و پلوره او ښار ته راغلو. کله چې ما خپل دکان د ټولې سودا او اموالو سره وپلوره، نو ما (۸۰۰۰۰۰) څخه تر (۹۰۰۰۰۰) پاکستاني کلدارې تاوان وکړ.

کله چې په يو ځای کښې امنيت تامين نه وي، نو دا حالت د خلکو ژوند او کار باندې اغيز کوي. د ټولو دکاندارانو ژوند خوندي نه وه او ټولو د ناخونديتوب احساس کاوه. دې حالت د خلکو په کاروبار او اقتصادي حالت منفي اغيزې درلودې. په هر حال، دا ټولو ته روښانه ده چې کله امنيت په يوه ټولنه يا سيمه کښې تامين وي، او د خلکو ژوند او ملکيتونه خوندي وي، نو هغوی به وکولای شي خپلو کاروبارونو او ورځينيو فعاليتونو ته دوام ورکړي او د پخوا په څير به خپل مالي حالت ښه کړي او خپله کورنۍ به حمايه کړي.

د امنيت نشتون په ټولو شيانو، د سوداګرۍ او ترانسپورټ په شمول اغيز کوي. د بيلګې په توګه کله چې مونږ دکان درلود نو د هر موټر چلونکي غوښتل چې ښار ته راشي او زمونږ اموال انتقال کړي، ځکه هغه وخت امنيتي حالت ښه وه. اوس ډرايوران نه غواړي چې د دکاندارانو اموال او مواد انتقال کړي، ځکه هغوی د خپل امنيت او موټر په اړه انديښمن دي. وسله والې مخالفې ډلې هر ډول غير قانوني فعاليتونه لکه غلا او لوټ مار کوي ځکه هغوی نه غواړي د افغانستان اقتصاد او نور سکټورونه ښه شي. ما په خپلو سترګو ليدلي دي چې ډير دکانداران د باغيانو له لورې لوټ او وهل شوي دي. يوه وخت زه په خپل دکان کښې ناست وم، ۷ يا ۸ باغيان راغلل او زما څخه يې ۳۵۰۰۰ پاکستاني کدارې واخستې. هغوی څو بورۍ اوړه، وريجې، بوره او غوړي يو وړل. مونږ هيڅ نه شو ويلای ځکه هغوی مونږه په خپلو ټوپکو او وسلو و ګواښلو. په هر حال، زه اوس په ښار کښې اوسيږم، چيرې چې زه غواړم يو نوی کاروبار پيل کړم. دا څو ورځې کيږي چې ما لټون پيل کړی دی. زه داسې يو کاروبار پسې ګرځم چې وکولای شم هغه پر خپلو پيسو پر مخ يوړلای شم. هر څوک غواړي يو کار وکړي تر څو څه وګټي او خپل اقتصادي حالت ښه کړي. زه فکر کوم ما لپاره به دا ښه وي چې زه د پخوا په څير يو کار پيل کړم، ځکه په هغه کاروبار کښې تجربه لرم.

شامل دي.[179] د هغوی ځینو نورو یادونه کړې چې دوی د وسله والو مخالفو ډلو د تاوتریخوالي له امله خپل ځای پریښودلو ته اړ شوي دي او له همدې امله مجبور شول خپل کاروبار په همدې یا بل ولایت کښې بل ځای ته و لیږدوي، چې په دې کار د پام وړ تاوان سره د مشتریانو او ملکیت د لاسه ور کولو سره مخ شوي دي.[180] د کاروبار (دکان) د پرانستلو وختونه هم بدل شوي دي،[181] چې د نا امنو سړکونو په وجه ډیر ممکنه مشتریان دکانونو ته د سفر کولو څخه ډډه کوي[182] د نا امنی څخه د یو مهم عنصر په توګه چې واړه کاروبارونه یعني د اجناسو د واردولو څخه نیولې بیا د مشتري تر پیدا کولو پورې د خپلې اغیزې لاندې نیسي.

پورته یاد شوی تاکیدي معلومات د جګړې او اقتصادي محرومیت تر منځ، کله چې د انکشافي پروژوشاخصونه، پانګونه، کورني عواید، دندو او کوچنیو کاروبارونو ته وکتل شي نو د مثبتو اړیکې وړاندیز کوي. په هر حال، دا حتما په دې معنا نه ده چې اقتصاد به په ناڅاپي توګه رونق پیدا کړي او د سختې جګړې نشتون په صورت کښې به حکومتي تخصیصات غیر امنیتي سکتور ته ورکول شي – لکه څنګه چې په یوه مرکه کښې د دفاع وزارت یو مقام له لوري پیشنهاد شوي وه.[183] دا ډیرو متبادلو لورو لکه بهرنیو مرسته کونکو، پانګه اچونکو، په خپل وخت کښې سیاسي استازو پورې اړه لري.

## 4. نتیجه

رواني جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي لا له وړاندې د افغانستان، سیمې، او نړیوالې ټولنې ته د پام وړ مالي او اقتصادي لګښتونه (تاوانونه) درلودل. دې څیړنې هغه لګښتونو ته چې د اضافي لګښتونو د ارزونې د یوې وسیلې په توګه چې به تر هغې چې جګړه روانه او بې ثباتي شتون ولري او د افغان دولت او افغان هیواد له لوري ورکول شوي دي، پاملرنه کړې ده.

د افغانستان لپاره، د ستر اقتصاد د محاسبې د پایلو پرته، د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي د یو کال لګښتونه (۹,۰۹۱) میلیارده امریکایي ډالره او یا د ورځې تقریبا (۲۴,۹۰۶) میلیونه امریکایي ډالره محاسبه شوي دي. دا شمیره د افغانستان د کورني ناخالص تولید د ۴۴ سلنې سره برابره ده.[184] دا تقریبا د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې د ۱۱۳ سلنې، او د ۱۳۹۴ کال لپاره د دولت د عوایدو د راټولولو د ټاکل شوي هدف تقریبا څلور ځله سره برابره ده.[185]

په منځنۍ توګه په افغانستان کښې، د وریجو نرخ یو کیلو په ۸۷,۳ افغاني دی،[186] او په منځنۍ توګه په هیواد کښې یو کس هر ورځ ۴۰۰ ګرامه وریجو ته اړتیا لري، څکه وریجې د خوړو یوه غټه برخه جوړوي.[187] هغه څه چې افغانستان یې د جګړې او د افراطیت د تاوتریخوالي له امله یوازې په یوه کال کښې له لاسه ورکوي د هیواد ټول نفوس د ۱,۳۷ کالو لپاره تغذیه کوي. که چیرې مونږ د افراطیت د تاوتریخوالي یو کلن لګښتونه حساب کړو په افغانستان کښې د سړکونو د جوړولو د پروژو اوسط قیمت[188] له نظره کولای شو ۲۵۹۷۳ کیلومتره نوی سړک جوړ کړای شو، او یا د څښلو د اوبو ۱۸ میلیونه څاه ګانې تمویل کړو.[189] په دې پیسو کولای شئ د ۲ میلیونو څخه زیات ښوونځي ودان کړئ،[190] یا په افغانستان کښې هر حاضر ښوونکي ته د ۱۸ کالو څخه زیات معاش ورکولای شئ (په دې شرط چې د هر ښوونکي ته تر ټولو لوړ معاش ورکړئ[191] په دې مقدار کولای شئ د ۶۰۰۰۰ څخه ډیر لمړني روغتیایي مرکزونه (BHCs) ودان کړو،[192] او یا د ۲۴۳ میلیونه څخه زیات افغان کوچنیان په بشپړه توګه واکسین کړای شي.[193]

[179] دا په ۵ مرکو کښې له دکاندارانو سره په فاریاب، هرات، بامیان، کندهار او ننګرهار اشاره شوې ده.

[180] له دکاندارانو سره په بامیان، فاریاب، کندهار.

[181] له دکاندارانو سره په بامیان، فاریاب، هرات.

[182] له دکاندارانو سره په کندهار.

[183] په هرات ولایت کښې د دفاع وزارت یو لوړ پوړی چارواکي.

[184] "د افغانستان معلومات،" نړیوال بانک، ۲۰۱۵ کال. http://data.worldbank.org/country/afghanistan

[185] ماری ایس هوبر، ماریتز رید، او شمسیه نوری، "د افغانستان د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې د مسودې خپلواکه کتنه،" ۲۰۱۴ کال.

[186] د نړۍ د خوړو پروګرام، د زیان منني تجزیه او تحلیل او انځور - افغانستان، په بازار کښې د اولیه موادو قیمت - ماه دسامبر ۲۰۱۴ کال. " د نړۍ د خوړو پروګرام، جنوری، ۲۰۱۵ کال، http://documents.wfp.org/stellent/groups/public/documents/ena/wfp271447.pdf.

په اصل کښې انګلیسي سند کښې ۱۸۷ شمیره نشته

[188] "مرستندویه کتاب: د جګړې وروسته او لړزانه شرایط،" OECD، ۲۰۱۰ کال.

[189] د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې پر بنسټ د یوې څاه د احداث لګښت

[190] د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې پر بنسټ د ۸ درسي خونو دودانۍ لګښت

[191] سید طارق مجیدی، "د کابل ښار ښوونکو لپاره د کورونو طرحه،" طلوع نیوز، د جون ۹، ۲۰۱۵ کال، http://www.tolonews.com/en/afghanistan/19930-govt-launches-housing-scheme-for-kabul-teachers

[192] http://www.swedishcommittee.org/sca-constructs-basic-health-centers-in-remote-areas-of-samangan .

[193] 5.955E+08

# مآخذونه

"د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې تفصيل" د ماليې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) کال

د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې سند" د ماليې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۲۰۱۵ کال " http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/National%20Budget/1394/1394%20National%20Budget_English%20Version.pdf.

" افغانستان د ملګرو ملتو د کډوالو د اداري عملياتي انځور UNHCR "۲۰۱۵ کال. http://www.unhcr.org/pages/49e486eb6.html ,

اديسون، تونی، او همکاران. "په جګړې ځپلو هيوادونو کښې د مالياتو او عوايد اصلاح." ۲۰۰۲ کال

"افغان کډوال،" د جګړې لګښت، ۲۰۱۵ کال.، http://costsofwar.org/article/afghan-refugees.

"د افغانستان کلنی راپور ۲۰۱۳ کال: په وسله والو جګړو کښې د ملکي وګړو ساتنه،" يوناما، فبروري، ۲۰۱۴ کال، http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Feb_8_2014_PoC-report_2013-Full-report-ENG.pdf.

"د افغانستان کلنی راپور ۲۰۱۴ کال: په وسله والو جګړو کښې د ملکي وګړو ساتنه،" يوناما، فبروري، ۲۰۱۵ کال، http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/2015/2014-Annual-Report-on-Protection-of-Civilians-Final.pdf.

"افغانستان د داخلي بې ځايه شوو تجزيه او تحليل شميرې،" د داخلي بې ځايه شوو د څارنې مرکز، ۲۰۱۵،http://www.internal-displacement.org/south-and-south-east-asia/afghanistan/figures-analysis.

"افغانستان د داخلي بې ځايه شوو تجزيه او تحليل شميرې،" د داخلي بې ځايه شوو د څارنې مرکز، ۲۰۱۵،

"د افغانستان د ملي روغتيا حسابونه د ولادت د روغتيا فرعي حسابونوسره يو ځای۲۰۱۱-۲۰۱۲،" د عامې روغتيا وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوريت، اکتوبر ۲۰۱۳،. http://www.healthpolicyproject.com/pubs/262_AfghanistanNHAReportFINAL.pdf.

علی، اي حميد "په وسله والو جګړو کښې د اقتصادي لګښتونو اټکل: د دارفور په اړه د قضيې مطالعه " د دفاع او سولې اقتصاد ۲۴، شماره. ٦ (۲۰۱۳):۵۰۳-۵۱۹

آلتر، کيار؛ "د وسله والو جګړو بار پورته کول: د عامې روغتيا کړنلاره." د پيبنو اړوند زيان منبې د څېړنو مرکز، د کنفرانس پرزنتيشن مايکرون، برايتون، د جون ۳۰، ۲۰۱۱

" د افغانستان د سولې او بيارغونې پروګرام د کار ۲۰۱۴ راپور،" UNDP، ۲۰۴ کال، http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/crisisprev/APRP/APRP-APR-2014.pdf.

" د افغانستان د سولې او بيارغونې پروګرام ،" د ملي امنيت شورا، جولای ۲۰۱۰.

آرتور، فيليپ او مونيکا نايګونا. "په جنوبي سوډان کښې له جګړې وروسته بيا ادغام او بيا رغونه." د نړيوالې سولې د زده کړې د ملاتړ مرکز. ۲۰۱۲.. http://www.ipstc.org/media/documents/Occasional_Paper_04_2013.pdf.

بارفيلډ، توماس. "افغانستان: فرهنګي او سياسي تاريخ " پرينستون، نيوجرسی: د پرينستون د پوهنتون خپرونه، ۲۰۱ کال.

بيسلي تيم، او همکاران. "جګړه او پانګونه" ۲۰۱۱ کال

بلاتمين، کريستوفر او اډوارډ ميګل. "کورنی جګړه." ۲۰۱۰.

بلومبرګ، براک او ګرګوری هس. "د جګړې او اقتصادي فعاليتونو تر منځ پيوند." ۲۰۰۲ .

برډ، ويليام. " د اوسني انتقال او له هغه وروسته د افغانستان تاريخ پاڼو څخه درسونه." د متحده ايالاتو د سولې موسسه . ۲۰۱۲. http://www.usip.org/sites/default/files/SR314.pdf.

"د خيل ځان څارنه: د ملکي وګړو د تلفاتو په وړاندې د افغانستان ځواکمن ځواب،" د کورنيو جګړو مرکز، ۲۰۱۳، http://civiliansinconflict.org/uploads/files/publications/Afghan_Report_2013_smaller_final.pdf.

سیرا، والری او سویتا ساکسنا. " د پرمختګ مشخصات : د اقتصادي ښه والي کیسه." ۲۰۰۸.
"د داخلي بې ځایه شوو د ساتنې ستونزې: د داخلي بې ځایه شوو د څارنې مرکز مطالعاتې خیړنه،" ساموئل هال مشورتي کمپنی، ۲۰۱۲. http://www.nrc.no/arch/_img/9154086.pdf.
کالیر، پاول. "د کورنیو جګړو د اقتصادي عواقبو په اړه." آکسفورد اقتصادي مقالاې ۵۱ (۱۹۹۹):۸۳-۱۶۸.
"په افغانستان او پاکستان کښې چې د جګړې له امله د مړیني د اندازې معلوموو څیړنې ۱۴۹۰۰۰،" د واتسون د نړیوالو او عمومي چارو موسسه ، د براون پوهنتون، د جون ۲، ۲۰۱۵، http://watson.brown.edu/news/2015/costs-war-research-shows-war-related-deaths-afghanistan-and-pakistan-149000.
کرامر، کریستوفر. " اقتصادي انسان جګړې ته ځي: میتودولوژیکه فردګرایي، عقلاني انتخاب او د جګړې سیاسي اقتصاد."، ۲۰۰۲.
کرافورد، نتا سي. د جګړې لګښتونه، د واتسون د نړیوالو مطالعاتو موسسه، د براون پوهنتون"مړینه، ټپی کیدل او په افغانستان او پاکستان کښې د جګړې بې ځایه شوی خلک ۲۰۰۱ - ۲۰۱۴". د می ۲۲، ۲۰۱۵. http://costsofwar.org/sites/default/files/articles/14/attachments/War%20Related%20Casualties%20Afghanistan%20and%20Pakistan%202001-2014%20FIN.pdf
دولتزی، آنیلا. "پرله پسې څه راځي؟ د افغانستان د جګړې په اړه یو یاد ښت، " فرهنګي انسان پیژندنه، د مارچ ۲۴، ۲۰۱۴. http://www.culanth.org/fieldsights/503-what-comes-after-the-after-notes-on-a-post-conflict-afghanistan.
روز، دکتر تانیس، ډاکتر کاترین مک کنا، او دکتر آودرا بولوس. "د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اقتصادی لګښتونه: د لیکنو یوه ارزونه." ۲۰۰۵. http://www.un.org/womenwatch/daw/vaw/expert%20brief%20costs.pdf.
ډ ګروت، اولاف. "د جګړې د نړیوالو اقتصادیي لګښتونو د محاسبې کړنلاره." DIW. ۲۰۰۹
دان، پاول او نان تیان. "جګړه، اقتصادي وده او په افریقا کښې محیطي پراکندګي." ۲۰۱۳.
"د ښوونې او روزنې ستراتیژي، د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتژۍ یوه برخه،" د ښوونې او روزنې، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۰۷ کال، http://planipolis.iiep.unesco.org/upload/Afghanistan/Afghanistan_MoE_strategy_English.pdf.
ګاردیزابل، خاویر او آلبرتو آبادی. "د جګړې اقتصادي لګښتونه: د باسک د قضیې مطالعه." ۲۰۰۳.
"د نړیوالې سولې شاخصونه ۲۰۱۴: د سولې اندازه ګیری او د هیواد د خطر اټکل"، د اقتصاد او سولې موسسه، ۲۰۱۴ کال، http://www.visionofhumanity.org/sites/default/files/2014%20Global%20Peace%20Index%20REPORT.pdf.
ګوپتا، سانجیو، بندیکت کلیمتس، رینا باتاچاریا، او صامت چاکرا. «د وسله والو جګړو مالي عواقب او ترهګري په لړو او اوسط عاید لرونکو هیوادونو کښې." د سیاسي اقتصاد اروپایي مجله ۲۰، شمیره. ۲ (۲۰۰۴): ۴۰۳-۴۲۱.
" د نظامی افسرانو لارښود کتاب چې په هغه کښې د تقاعد د حقوقو مقررات د تطبیق او ترتیبول ذکر شوي دي، ساتنمنان او بریدملان،" د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، د می میاشت، ۲۰۱۱. http://molsamd.gov.af/Content/files/retirement/July,%202011%20Military%20Handbook%20FINAL.pdf.
هوفلر، آنکه. "په جګړې ځپلي اقتصاد کښې د زیربنا د جوړولو ستونزې." د آفریقا انکشافي بانک، د اقتصادي څیړنو مقالې، شمیره. ۴۸، ۱۹۹۸ کال، http://www.afdb.org/fileadmin/uploads/afdb/Documents/Publications/00157630-EN-ERP-48.PDF.
هوفلر، و مارتا آنکه او رینال-کویرل. "د جګړو د لګښتونو اندازه کول." ۲۰۰۳.

هولر، جورجیا. "د افراطي تاوتریخوالي سره مبارزه: د سولې رامنځته کولو راتلونکي" د متحده. د ایالات د سولې موسسه، سپتمبر ۲۰۱۳. http://www.usip.org/sites/default/files/SR336-Countering%20Violent%20Extremism-A%20Peacebuilding%20Perspective.pdf.

"د روغتون لمړنی درې میاشتینی راپور ۱۳۹۳،" د عامې روغتیا وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۴ کال،.http://moph.gov.af/Content/Media/Documents/HospitalReportQ1-1393612201410241299755332532 5.pdf

هوبر، ماری ایس.، مارتیز رید، او شمسیه نوری. "د افغانستان د ۱۳۹۴ کال ملي بودجې د مسودې خپلواکه څېړنه." د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسه. نومبر ۲۰۱۴.http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/1394-Budget-Snapshot_English.pdf

"د بشردوستانه خطر انځور: د افغانستان د بشردوستانه اړتیاو عمومي کتنه ۲۰۱۵،" ملګري ملتونه OCHA، ۲۰۱۵،http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/risk_profile_guidance_note_-_afghanistan_hrp_2015_-_20150601.pdf.

"د جګړې اغیزه،" نړیوال بانک، پرزنتیشن، فبروري، ۲۰۰۷، http://siteresources.worldbank.org/PSGLP/Resources/ImpactofConflict.pdf.

"د ملی خطر او زیان منبې ارزونه۲۰۱۱ -۲۰۱۲: ښوونه او روزنه،" د احصائیې مرکزي اداره، ۲۰۱۳ کال، http://cso.gov.af/Content/files/Chapter8%20EDUCATION.pdf.

کپرداس، استرګویس او همکاران، د تاوریخوالي لګښتونه. نړیوال بانک. ۲۰۰۹

کرتز، لستر آر. د تاوتریخوالي دایرة المعارف، سوله، او جګړه. آمستردام؛ لندن: الزویر، ۲۰۰۸.

لیندګرن، ګوران. "د داخلې جګړې اقتصادي لګښتونه." د اقتصاد او امنیت په اړه د نهم نړیوال کنفرانس مقاله، ۲۳-۲۵ جون، ۲۰۰۵، بروالز مرکز، کلیفتون، بریستول،.http://carecon.org.uk/Conferences/Conf2005/Papers/Lindgren.pdf

لیوینګستون، ایان و مایکل ایس. اوهانلون. "د افغانستان شاخصونه." بروکینګز. د می ۲۰، ۲۰۱۵. http://www.brookings.edu/~/media/Programs/foreign-policy/afghanistan-index/index20150520.pdf?la=en.

مجیدی، نسیم. "په افغانستان کښې بناروںو ته راتلل او داخلي کډوال." د منځني ختیځ موسسه. د جنوری ۲۵، ۲۰۰۱۱ http://www.refugeecooperation.org/publications/afghanistan/pdf/01_majidi.pdf.

مرداک، جیمز و تاد سندلر. "داخلي جګړي او اقتصادي وده: محیطی پرکندګي".۲۰۰۴http://publicinternationallawandpolicygroup.org/wp-content/uploads/2011/10/Background-Briefing.pdf.

"د نفوس مشخصات، په پاکستان د افغانانو د څوابونو تأیید او سروې ۲۰۱۱،" UNHCR ا و د پاکستان دولت، مارچ، ۲۰۱۲، http://unhcrpk.org/wp-content/uploads/2012/11/PPVR-Report.pdf.

مارتیز رید، ماری هوبر او داکتر چاک تیسین. "د ښه بودجې جوړښت: د ملي بودجې اغیزمنتوب او د ښوونې او روزنې او عامې روغتیا په وزارت د خدماتو وړاندې کول." یو شانوالي موسسه. ۲۰۱۴

"د افغانستان د امنیت او ثبات په اړه راپور،" د آمریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، کانګرس ته راپور، دسمبر ۲۰۱۲، http://www.defense.gov/news/1230_Report_final.pdf.

سدرا، مارک. "په افغانستان د امنیتي سکتور انتقال." و سله والو ځواکونو دموکراتیک کنټرول مرکز، ژنو. n.g.

سمیټ، ران. "د پوځي جګړو اقتصادی لګښتونه." ۲۰۱۳.

ژوزف ستیګلیتز او لیندا: د جګړې د لګښتونو اټکل: میتودیکې موضوع ګانې، او په عراق او افغانستان کښې د هغوی تطبیق. ۲۰۱۲.

"د افغانستان د ملي پولیسو لس کلنه دیدګاه : ۱۳۹۲-۱۴۰۲،" د کورنیو چارو وزارت وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۳. https://ipcb.files.wordpress.com/2013/06/13-04-02-ten-year-vision-english-final-version.pdf.

"د تاوتریخوالي د مهار کولو اقتصادي لګښتونه: د نړیوال تاوتریخوالي د لګښتونو یوه هر اړخیزه ارزونه،" د سولې او اقتصاد موسسه، ۲۰۱۴ کال ،.http://www.visionofhumanity.org/sites/default/files/The%20Economic%20Cost%20of%20Violence%20Containment.pdf

OECD ، لږزانه دولتونه ۲۰۱۴: د داخلی عوایدو په کار اچول، ۲۰۱۴.

" د کمیت له نظره په ښوونه او روزنه د جګړو اغیز،" د احصاییي لپاره د یونسکو موسسه، سپټمبر ۲۰۱۰، http://www.uis.unesco.org/Library/Documents/QuantImp.pdf.

تورجیسین، ستینا به. "د پخوانیو جګړه مارو د بیا ادغام په اړه یو نظر."د امنیت او انکشاف نړیواله مجله، د دسمبر ۱۱، ۲۰۱۳، http://www.stabilityjournal.org/articles/10.5334/sta.cx/.

" د افغانستان لپاره د امریکا د بیا آبادۍ کوښښونه – د فساد پر وړاندې د آمریکا د مبارزې هر اړخیزه نهایی ستراتژي،" د افغانستان د بیا آبادۍ لپاره سرمفتش ځانګړي دفتر، د آګست ۵، ۲۰۱۰.

ورپورتن، ماریکاو پیتر سرنیلز. "په اقتصادي فعالیتونو باندې د وسله والو جګړو اغیزې: د رواندا مستند راپور " ۲۰۱۲.

"افغانستان انځور،" د آسیا فونډیشن، ۲۰۱۵،.www.afghansurvey.asiafoundation.org

"دوهم جلد: د جبري بې ځایه کیدو د اغیزو او لګښتونو مطالعه او بررسی،" د آکسفورد پوهنتون د کډوالو د مطالعاتو مرکز، جون، ۲۰۱۱، http://siteresources.worldbank.org/EXTSOCIALDEVELOPMENT/Resources/244362-1265299949041/6766328-1265299960363/VolumeIILiterature.pdf.

والدمن، مت. " په افغانستان کښې طلایی تسلیمیدل؟ خطرونه، ستونزې، او د بیا ادغام پایلې. " د افغانستان د شنونکو شبکه.۲۰۱۰، http://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/downloads/2012/10/2010_AAN_Golden_Surrender.pdf.

" د ملګرو ملتو راپور وایي: د نړۍ په سطحه جګړې د ۱۸ کلنې عمر څخه پورته خلک په زور بې ځایه کوي،" د ملګرو ملتو د خبر مرکز،د جون ۱۹، ۲۰۱۳،.http://www.un.org/apps/news/story.asp?NewsID=45217.

ویلیس، رابرت جی "د انساني پانګې د ګټې لاسته راوړلو فعالیتونه." د کار اقتصاد لارښود کتاب، د او. آشنبفلتر او آر. لایارد. الزویر تصحیح، د علم خپرونه، ۱۹۸٦.

# د الف ضمیمه: لګښتونه محاسبه کول

## د لمس وړ مستقیم لګښتونه

### امنیتي لګښتونه

***د دفاع وزارت اضافي بودجه***

پوځي لګښتونه د افراطیت د تاوتریخوالي د لګښتونو د محاسبې یوه اساسي برخه ده. په هر حال، د نا امنۍ شتون حتما د امنیتي لګښتونو د نشتون په معنا نه دی. له همدې امله، دا شمیرې حساب شوي چې د پوځي لګښتونو سطحه او اټکل منعکس کړي تر څو دا معلومه شي چې که په افغانستان کښې په لوړه کچه سوله راشي بیا به څومره لګښتونو ته اړتیا وي. د لازمو امنیتي لګښتونو د اندازې د اټکل په منظور، دې څیړنې د سولې اندازې او نظامي لګښتونو ته د حکومتي لګښتونو د یو برخې په توګه لکه په سیمه کښې د نورو ګاونډیو هیوادونو کوم چې له هره پلوه د افغانستان سره د اقتصادي، پرمختیایي، جغرافیوي، نفوس، انساني پرمختګ، او امنیت له نظره ورته ځانګړتیاوې لري، پاملرنه کړې ده.

د جنوبي او منځنۍ آسیا د هیوادونو لپاره[194] یو ډاټابیس (معلوماتي زیرمه) جوړ شوی ده چې په هغه کښې د (SIPRI) او د نړیوالي سولې شاخصونو څخه (د تاجکستان، ترکمنستان، او ازبکستان څخه پرته، د کومو لپاره چې د نظامي لګښتونو معلومات موجود نه وو) د نظامي لګښتونه د ډاټابیس څخه، نظامي لګښتونه را اخستل شوي دي.

د پخواني حالت پر بنسټ د تجزیې او تحلیل یو موډل چې په هغه کښې د ۲۰۱۴ کال د نړیوالې سولې شاخص ارزښتونو څخه کار چې د ۲۰۱۳ مالي کال د مالي لګښتونو د یو وړاندوینې په توګه اخستل شوی دی چې فورمول یې په دې ترتیب دی:

($R^2$=.733, $F(6, 7)$=16.434, $p<.01$). د سولې پر مهال د پوځي لګښتونو د حکومتي مصارفو د یوې فیصدۍ په توګه د نړیوالې سولې د شاخص ارزښت (۲,۰۱)، د سولې د لوړې سطحې د شتون په صورت کښې د یو دولت د نړیوالې سولې د شاخص ارزښت څخه عبارت دی. د پخواني حالت پر بنسټ د تجزیې او تحلیل لاندې موډل حاصل شوی دی:

د سولې پر مهال پوځي لګښتونه = - (۱۴,۱٦۵) + (د سولې شاخص) (۱۰,٦۱۵)

نو که چیرې، د سولې شاخص = ۲,۰۱، وي نو د سولې په صورت کښې به پوځي لګښتونه د حکومتي لګښتونو تقریبا ۷,۱۷ سلنه وي.

د ۱۳۹۳ کال لپاره ټوله ملي بودجه ۷٦۴۹٦۱٦۷۷۰ میلیونه ډالره وه،[195] که چیرې په افغانستان کښې په لوړه کچه سوله وي نو پوځي لګښتونه به شاوخوا ۲۸۰۲۷۸۰۰۰ ډالره وي. د ملي دفاع وزارت لپاره ټوله عادي او انکشافي بودجه په ۱۳۹۳ کال کښې ۱۸۷۸۱۴۲۲۵۰ امریکایي ډالره وه.

## د کورنیو چارو د وزارت اضافي لګښتونه

د معمول سره سم، پولیس د قانون حاکمیت، د نظم او قانون ساتنه، او انسان د ځان خوندیتوب د فعالیتونو مسئولیت په غاړه لري. په هر حال، په افغانستان کښې، د افغانستان ملي پولیس (ANP) په ټولیزه توګه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د امنیتي کارونو د اجزاء یوه حیاتي برخه ده (ANSF). د کورنیو چارو وزارت دا درک کړې ده، چې د افغان ملي پولیسو څخه د باغیانو پر وړاندې د مبارزې لپاره کار اخستل شوی دی.[196] په همدې توګه، د معلوماتو د نشتون په صورت کښې یو ورته غیر واقعي محاسبه لکه څنګه چې د پوځي لګښتونه لپاره شوې ده، د ملي پولیسو د نقش په نظر کښې نیولو سره چې افغانستان ته امنیت

---

[194] د افغانستان، بنګلادش، هند، قزاقستان، قرغیزستان، نیپال، پاکستان او سریلانکا په شمول، د معلوماتو د شتون په صورت کښې د (SIPRI) د پوځي لګښتونه د ډاټابیس او جغرافیوي ویش څخه کار اخستل شوی دی.

[195] http://data.worldbank.org/country/afghanistan

[196] "د افغانستان د ملي پولیسو لپاره لس کلنه دیدګاه:۱۳۹۲-۱۴۰۲،" د کورنیو چارو وزارت، د فغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۳ کال ، https://ipcb.files.wordpress.com/2013/06/13-04-02-ten-year-vision-english-final-version.pdf.

برابروي، د دې ځيرنې لپاره هم استفاده شوې يعنې د عين سهم او حکومتي مصارفو چې په سوله ايز افغاستان کښې د دفاع وزارت لپاره په نظر کښې نيول شوي دي، د کورنيو چارو د وزارت لپاره هم په نظر کښې نيول شوې دي. په ۱۳۹۳ کال کښې د کورنيو چارو وزارت بودجې د دولتي لګښتونو ۱۵,٦ سلنه جوړوله. نو پر دې بنسټ، د کورنيو چارو وزارت بودجې مقدار د نا امنی له امله د حکومتي لګښتونو په ترکيب کښې ۱۵,٦ سلنه نيول شوی دی، د سولې پر مهال به دا بودجه ۷,۱۷ سلنه وي.

# د ملي امنيت د شورا بودجه

د ملي امنيت شورا د ولسمشر د يو فرمان پر بنسټ تاسيس شوې ده تر څو ولسمشر ته د امنيت پورې اړوندو موضوعاتو مشوره ورکړي، امنيتي پاليسي جوړه او همآهنګه کړي، د امنيتي سکتور پورې اړوند وزارتونو او ادارو تر منځ ارتباطات تامين کړي او د امنيتي پاليسی پر تطبيق نظارت و کړي، په داسې حال کښې دا اداره په امنيتي سکتور کښې د اصلاحاتو د همآهنګ کونکي دنده په غاړه لري. [197] له هغه ځايه چې دا اداره په ۲۰۰۲ کال کښې تاسيس شوې ده، د ملي امنيت شورا د باغي ښکيلو ډلو سره د سولې په برخه کښې ديپلوماسی دنده پر مخ وړي. [198] دې موضوعاتو ته په پاملرنه او د ادارې امنيتي مکلفيت ، دې ځيرنې د ۱۳۹۳ کال د ملي امنيت د شورا ټوله عادي بودجه د جګړې او د افراطيت د تاوتريخوالي پورې اړوند لګښتونو کښې حساب کړې ده.[199].

# عادي ژوند ته راستنيدل

د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستنيدلو پروګرام (APRP) د سولې د ترويج، پخلاينې او مصالحت، او امنيت لپاره کار کوي. د سولې او عادي ژوند ته د راستنيدلو پروګرام د مالي صندوق له لارې، چې د درې مجراء و له لارې ترسره کيږي، تمويل شوی دی. د الف مجراء د ماليې وزارت ځانګړی خاص حساب او د افغانستان د بيا رغونې مرستي صندوق سره د ونډې اجازه ورکوی. د ب مجراء منابع د ملل متحد د پرمختيايي اختيايي پروګرام له لارې استوي. د ج مجراء د خصوصی صندوق لرونکو له خوا اداره کيږی، او پيسی د افغانستان د مرکزی بانک، سوداګريز بانک او يا مراجعو له لارې چې د دې پروګرام په خاطر ورته اړتيا ليدل کيږي، تاديه صورت نيسي. [200] د دې هرې يوې مجراء له لارې د پيسو ورکړه يواځې د مالي سکرټريت د لارښوونې لاندې، د مالي څارنې د کميسيون د هدايت لاندې ترسره کيدای شي.[201]

څرنګه چې د افغانستان د سولې او عادي ژوند ته د راستيدو پروګرام په ځانګړې ډول د هغو جګړه مارو سره له نژدې کار کوي چې پخوا د وسله والو او ترهګرو ډلو سره يوځای شوی وو، [202] د سولې او عادي ژوند ته راستينيدنی مالي صندوق ټوله بودجه د افراطيت د تاوتريخوالي د لګښت په توګه حساب شوې. په ۲۰۱۴ کال کښې چې کوم ارقام په دی ځيرنه کې کارول شوې دي، د مالی څار د کميسيون [203] له خوا د ټولو درې واړو مجراء لپاره تصويب شوې بودجه ده. دا د لانديني دريو څخه د يوه لګښت لپاره هم د بې وسلې کولو، په کور کښينولو او سولې او عادي ژوند ته راستنيدلو پروګرام بودجې لګښت کوم چې په ۲۰۱۴ کال کښې پای ته ورسيدل، په حساب کښې نه شاملوي.

---

[197] مارک سيډرا "په افغانستان کی د امنيتی سکټور د شميره بدلون"، د مسلح ځواکونو ډيموکراټيکی کنټرول لپاره د جينيوا مرکز،

[198] په افغانستان کی د سولې مذاکرات، عامه نړيوال قانون او د اصولو قانون، ډسمبر ۲۰۱۱.http://publicinternationallawandpolicygroup.org/wp-content/uploads/2011/10/Background-Briefing.pdf

[199] "۱۳۹۳ کال د ملی بوديجی شرحه"، د ماليی وزارت، د افغانستان جمهوری دولت، ۲۰۰۴ کال

[200] http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/crisisprev/APRP/APRP-APR-2014.pdf

[201] هماغه ځای.

[202] ستيون ای زايک " په افغانستان کښې سوله او پخلاينه "

[203] http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/crisisprev/APRP/APRP-APR-2014.pdf

## استخبارات

د افغانستان د ملي امنيت رياست د افغانستان کورني امنيت او استخباراتي خدماتو اداره ده، چې په خپلواکه توګه عمليات پرمخ وړي او د حملو مخه نيسي او د ترهګرو شبکې او د هغوی لوژستيکي کاروانونه په نخښه کوي. [204]

د اداري د مکلفيت له مخې ملي امنيت نور مسئوليتونه هم لري، چې په هغوی کښې د تنظيم شوو جرمونو او فساد مخنيوی شامل دي. [205] په هر حال د هغوي د کار ساحي ته په کتلو چې د باغيتوب او افراطيت د تاوتريخوالي سره تړاو لري، کومه شميره چې د دې څېړنې لپاره کارول شوي د ۱۳۹۳ کال د ملی امنيت ټوله ( عادي او انکشافی) بودجه په کښې شامله ده. [206]

## معاوضه

### د افغان امنيتي ځواکونو د مړينې د تقاعد معاش

په ۲۰۱۴ کال کښې د افغان امنيتي ځواکونو د مړينې اټکل دقيق نه دی، مګر د افغانستان دولت د دې خبرې پخلی کړی چې د تقاعد معاش کښې په ۲۰۱۴ کال کښې د افغان امنيتی ځواکونو د پرسونل د مړينې اندازه چې په جګړه کښې تلف شوي وو، د ۵۰۰۰ تنو څخه زياته وه. له همدې امله، دا شميره د ۵۰۰۰ تنو افغان امنيتی ځواکونو د مړينې په اساس حساب شوې ده، د خدمت پر مهال د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مړينې تقاعد د حقوقو د ټاکلو لپاره د اصلي ۱۶۵ ډالره مياشتنې معاش [207] مقدار په ۷۸ کښې ضرب کولو د قاعدې پر بنست ټاکل کيږي.

### د ملکي وګړو مړينې لپاره معاوضه او جبران

د ملکي وګړو مړينې شميره د يوناما د معلوماتو څخه اخيستل شوي وه. د ۹۹ کوډ تاديات د مړينې د شمير چې په (۲۰۰۰) ډالرو تاديي سره چې د دې صندوق له لارې ورکول کيږي، ضرب شي اټکل کيږي. د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت تاديي هم د ملکي وګړو د مړينې شميره ضرب د کال ۳۵۰ ډالره تاديات چې د دې بودجې له لارې ورکول کيږي. د غو شرايطو په نظر کښې نيولو سره چې د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت تادياتو سره تړاو لري، د نفوسو معلوماتو لکه عمر، مدني حالت، د ماشومانو شمير د نشتون په صورت کښې، دا تاديات په اټکلي توګه د ۱۰ کلونو لپاره حساب شوي دي. په ۲۰۱۴ کال کښې د ملکي وګړو د مړينې لپاره معاوضې (۱۲۹۴۶۵۰) په اندازه وه ، نو له دې امله د اجتماعي تنزيل نرخ يعنې ۵,۴٪ هم د لسو کلونو لپاره د دې شميرې په اړه تطبيق شوی دی.

# د معيوبيت معاوضه

د ملکي وګړو ټپيانو شميره د يوناما د معلوماتو څخه اخيستل شوی وه. د ۹۹ کوډ تادياتو اندازه د تلفاتو د شمير ضرب (۱۰۰۰) ډالره تادياتو چې د دې بودجې له خوا ورکول کيږي، اټکل شوې ده. د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت هم تاديات د ملکي ټپيانو وګړو د شمير چې په ۲۷۰ امريکايي ډالره کلني تاديه کښې ضرب شي چې د دې بودجې له خوا ورکول کيږي، حساب کړي دي. د جزوي ټپي کيدو لپاره (۱۵)

---

[204] په افغانستان کی د ثبات او امنيت پرلور د پرمختګ په اړه راپور، د متحده ايالاتو د دفاع رياست، کانګرس ته راپور، د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر مياشت.http://www.defense.gov/news/1230_Report_final.pdf

[205] په افغانستان کی د امريکا بيا جوړونی هڅې به د امريکا د فساد پر وړاندې د پای ته رسيدل شوی ستراتيژی څخه به ګټه پورته کړی، د افغانستان لپاره د خاص مفتش دفتر، د آګست ۵، ۲۰۱۰.

[206] " ۱۳۹۳کال د ملی بوديجی شرحه"، د ماليی وزارت، د افغانستان جمهوری دولت، ۲۰۰۴ کال

.http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/National%20Budget/1394/1394%20National%20Budget_English%20Version.pdf2014 .

[207] http://www.brookings.edu/~/media/Programs/foreign-policy/afghanistan-index/index20150520.pdf?la=en

آمریکا ډالره او د جدي ټپي کیدو لپاره (۳۰) آمریکا ډالره تادیي تر منځ د اوسط په توګه اختستل شوی دی. په ۲۰۱۴ کال کښې د معیوبیت د لګښتونو معاوضه (۱۸۴۹۲۳۰)، نو له دې امله اجتماعي تنزیل نرخ یعنې ٪۵,۴ هم د شلو کلونو لپاره د دې شمیرې په اړه تطبیق شوی دی.

# د لمس وړ غیر مستقیم لګښتونه

## انساني پانګه او د ګټې لاسته راوړلو امکانات

### *د ټول عمر د ګټې له لاسه ورکول*

د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو تلفات (۸۶۹۹) x سړي سر ناخالص داخلی تولید (٦۴۴,۸)[208] x د ۲۰ کالو د ګټې د مبلغ اټکل شوې اندازه[209] د دې څیړنې د اهدافو لپاره، د ټول ژوند ګټې له لاسه ورکول د تلفاتو د یو ساده عملیې، یعنې د سړي سرناخالص داخلي تولید، او د ۲۰ کالو د ګټې د مبلغ اټکل شوې اندازې له مخې حسابیږي. د سړي سرناخالص داخلي تولید د عاید اندازه یعنې په کال کښې (٦۴۴,۸۰) ډالره، که چیرې په ۲۰۱۴ کال کښې د افغانانو سروې پر اساس د یوې کورنۍ اوسط کلنی عاید (۱۱۲۸۰) افغانۍ (۱۹۰) ډالره په نظر کښې ونیول شي، چې د کورنۍ د غړو اوسط شمیر د کوچنیانو پر ګډون (۱۰,۳۲) دی، یوه غیری واقعي تقریبي اندازه ده.[210] په ۲۰۱۴ کال کښې د ګټې له لاسه ورکول (۵٦۰۹۱۱۵) پوری اټکل شوې ده، نو له دې امله اجتماعي تنزیل نرخ یعنې ٪۵,۴ هم د شلو کلونو لپاره د دې شمیرې په اړه تطبیق شوی دی.

د هر ډول تلفاتو له امله د ټول عمر د ګټې د لاسه ورکول د انتقاد وړ دي ځکه په افغانستان کښې په رسمي اقتصاد کښې ښځې ګډون کوي او د نارینه په پرتله لږ عاید لاسته راوړي، په رسمي اقتصاد او د عوایدو په تولید کې نسبت د نارینه وو ښځه په ټیټه کچه ګډون کوي،[211] په هر حال، که داسې فرض کړو چې ښځې په اقتصادي برخه کې هیڅ ثمره نه لري دا به غلطه وي، نو ځکه دا محاسبه د جندر په نظر کښې نیولو پرته د ټولو تلفاتو لپاره په کار وړل شوې ده.

# ټپي او معیوب کیدل

### *د خپل جیب، دولت، او مرسته کوونکو ادارو مصارف چې د جګړې پورې اړوند بستر ناروغانو درملنې لپاره شوي دي*

د روغتیایي مدیریتي معلوماتي سیستم د ۱۳۹۳ کال د لمړی ربعي راپور د ټپونو د خرنګوالي له مخې د بستر شوو ناروغانو اټکل کوي - چې له هغې جملې څخه ۱۳ سلنه د وسلې په ذریعه ټپي ګڼل شوي دي.[212] د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د راپور پر بنسټ، په افغانستان کښې ټول روغتیاي لګښتونه (THE) ، (۱۵۰۰۹۷۵۹۴۵) ډالره وو، چې له هغې جملې څخه خصوصي منابع ( کورنۍ، او هغه غیر انتفاعي اداري چې د کورنیو پالنه کوي) ۷۳,٦ سلنه، او مرکزی دولت او مرسته کونکي اداري ۲٦,۴ سلنه اضافي لګښت په خپله غاړه اخیستي وه. د همدې راپور پر بنسټ د بستري ناروغانو ۵۸ سلنه ټول روغتیایی لګښتونه د بستر داخل ناروغانو په پاملرنه او ۰,۹ سلنه د بیا خپل عادي حالت ته راتلونکو ناروغانو باندې لګیدلي دي.[213]

---

[208] http://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.PCAP.CD/countries/AF?display=default

[209] http://www.tandfonline.com.elib.tcd.ie/doi/pdf/10.1080/10242694.2012.723154

..http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/National%20Budget/1394/1394%20National%20Budget_English%20Version.pdf2014

[210] "د افغانستان انځور" د آسیا بنسټ، ۲۰۱۵

[211] ماری ایس هابر، "د افغانستان د جنډر د یوشانوالي راپور" دسولې او دموکراسی د یو شانوالي موسسه، ۲۰۱۵

[212]http://moph.gov.af/Content/Media/Documents/HospitalReportQ1-1393612201410241299755332532 5.pdf

[213] http://www.healthpolicyproject.com/pubs/262_AfghanistanNHAReportFINAL.pdf

د یوې موجودې او زیاتې په کار وړل شوې شمیرې او د روغتیایي مدیریتي معلوماتي سیستم او د خپل جیب (OOP) څخه د دقیقو روغتیایي لګښتونو په اړه د معلوماتو د نشتون له امله، د دې شمیرو څخه کار اخستل شوی تر څو د خپل جیب (OOP) او د دولت / مرسته کونکو ادارو څخه د هغو ټپونو پورې اړوند د عامې روغتیا لګښتونه چې د افراطیت د تاوتریخوالي له امله رامنځته شوي، یو تقریبي اټکل تر لاسه شی. دا اټکل د مجموعی روغتیایي لګښتونو د فیصدی په توګه حساب شو چې د هغو ناروغانو په پاملرنه چې په وسله ټپیان شوي دي لګول شوي دي، ضرب د بستر کیدونکو (د وسلې په ذریعه د ټپیانو د فیصدی پر بنسټ چې د ۱۳۹۳ د لومړی ربعي څخه لاسته راغلې، دا فرض شوې ده چې د کال تر پایه ثابته پاته ده، جمع د هغو لګښتونو فیصدي چې د ناروغ د بیا خپل لمړني حالت ته د راتلو لپاره لګیدلي دي. په نتیجه کښې شمیرې د لګښتونو له نظره د خپل جیب، دولتي او مرستندویه ادارو په کټګوریو ویشل شوې دي، چې په هغو کښې ټول لګښتونه شامل دي.

### *د نامرګونو ټپونو له امله د یو کال عاید له لاسه ورکول*

که داسې فرض کړو چې اشخاص نه شي کولای چې د خپلې درملنې په لمړیو وختو کښې د نامرګونو ټپونو چې د جګړې په پایله کښې رامنځته شوي، دا شمیره د هغې ګټې د لاسه ورکولو اټکل کوي چې د جګړه ایزو ټپونو له امله چې شمیر یې په ۲۰۱۴ کال کښې ۶۸۴۹ ته رسیږي اټکل کوي [214] او سړي سر ناخالص داخلي تولید (۶۴۴،۸) تقسیم د کال په ۳۶۵ ورځو، ضرب ۱۷ ورځې، د هغو مرکو پر بنسټ چې د عامې روغتیا د کارکونکو سره د دې څیړنې لپاره تر سره شوي دي.

# ښوونه اوروزنه

**ښوونځیو ته د کوچنیانو د نه تلو له امله د راتلونکې عوایدو له لاسه ورکول، چا چې نه شو کولای د نا امنۍ او یا ښوونځي د تړل کیدو له امله ښوونځي ته لاړ شي**

د ښوونی او روزنی کچه او د کورنیو د اوسطې اندازې کچې ګټې لاسته راوړل په مثبته توګه یو بل سره کلک تړاو لري. [215] که څه هم عاجلې اړیکې په مشخصه توګه درک کیدلای نه شي، [216] د همداسې مطالعاتو پر بنسټ دا مناسبه ده چې زیاته ښوونه او روزنه د عاید زیاتوالی ته لار هواروي. د پرېښودل شوي تعلیم د ټول ژوند د ګټې د لاسه ورکولو اټکلي تاوان، او د خطر او زیان منني ملي اروزنه ارقام د هغو زده کوونکو په اړه چا چې په خپله راپور ورکړی چې د نا امنۍ په وجه له لمړنیو، ثانوي او لوړو زده کړو څخه لیرې پاته شوي دي. لکه څنګه چې د راپور په متن کښې ښودل شوی ده، دا شمیره د ممکنه بیا شمول په پایله کښې تر دې وروستیو وختو پورې تر ۳۰ سلنې پورې کمې شوي دي. د اوسطې ګټې په اړه ، د ۲۰۱۴ کال د TAF معلومات څخه کار اخستل شوی تر څو د هغو کسانو لپاره چې لمړنی ښوونځي یې نه دی بشپړ کړی او هغه کسان چې لمړنۍ زده کړې یې بشپړې کړې، ثانوي او لوړې زده کړې یې بشپړ کړې دي، د یوې کورنۍ متوسط میاشتني عاید حساب و کړی شي. د عواید د لاسه ورکول د ګټې د لاسه ورکولو په معنا ګڼل شوي دي، که چیرې زده کوونکي د ښوونې او روزنې مطلوب حد زده کړې بشپړې کړې وي، د څو کالو لپاره یې په تعلیم کښې وقفه راغلې وي، هغه کلونه چې د تقاعد عمر کښې حساب شوي وي، منفي د ډیرو هغو زده کوونکو عمر چې په هغه کښې به زده کړې هغه لازمه سطحه تعلیم پای ته ورسوي، او په هغه د اجتماعي تنزیل ٪۵،۴ تطبیق کیږي[217]

په ۲۰۱۴ کال کښې د آسیا فونډیشن له خوا د افغانانو سروې، څرګندوي چې هغه چا چې یوه برخه لمړنۍ زده کړې یې بشپړې کړې دي د کورنۍ اوسط عاید یې په کال کښې (۲۱۵۷) ډالره؛ چا چې یوه برخه لمړنۍ زده کړې یې بشپړې کړې دي د کورنۍ اوسط عاید یې په کال کښې (۲۲۸۹) ډالره؛ هغه چا چې ثانوي زده کړې بشپړې کړې دي (۲۹۷۴) ډالره؛ او هغه چا چې لوړې زده کړې بشپړې کړې کلنی عاید یې (۴۹۵۷) ډالره دی. د تقاعد عمر لکه څنګه چې د کار په قانون کښې ذکر شوي دي، ۶۵ کاله ټاکل شوی دی.

---

[214] http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/2015/2014-Annual-Report-on-Protection-of-Civilians-Final.pdf

[215] r(6777)=.133, p<.001

[216] http://www.unicef.org/publications/files/Investment_Case_for_Education_and_Equity_FINAL.pdf

[217] http://www.classbase.com/countries/Afghanistan/Education-System

د ښوونځي د تړل کېدو په وجه د ګټې له لاسه ورکولو لپاره تقریبا د ورته محاسبې څخه کار اخستل شوی دي. په ۲۰۱۴ کال کښې ۵۴۳ ښوونځي د نا امنۍ له امله تړلي وو.[218] له دې جملې څخه ۲۷۹ لمړني ښوونځي، یوه مدرسه، ۴۹ منځني ښوونځي، ۱۱۴ لیسې او ٦١ نا مشخص ښوونځي تړل شوی وو. د ښوونځیو د تړل کېدو له امله ۵۸۴۷۰ زده کوونکي لمړنیو ښوونځیو ته؛ ۲۱۸۳۰ منځنیو ښوونځیو ته؛ او ۲۷۳۲۸ لیسو ته حاضر نه شول. د ممکنه بیا شمول له امله دا شمیره ۳۰ سلنه کمه شوې وه. ٦١ نا مشخص ښوونځیو لپاره، د عاید د لاسه ورکول شمیر په ډېره ټیټه ممکنه سطحه (لمړنۍ سطحه) د زده کوونکو د متوسطې شمیرې له مخې په ۲۷۹ ښوونځیو کښې د کومو لپاره چې دا شمیرې برابرې شوې وې، حساب شوي وه. د مزد د تعیین لپاره دلته ډیره ښه طرحه وړاندې شوې، کومه چې په عمومي توګه د ډېرو متغییرو غوراویو یو فعالیت دی، چې تل د ښوونې او روزنې د سطحې سره تړاو لري، مګر د هغې پورې محدود نه دي. د انساني پانګو د ګټلو فعالیتونو څخه په عمومي ډول استفادی کیږي تر څو د هغه له مخې دا اټکلي اندازه معلومه کړي کوم چې همدارنګه ځینې متغییرونه لکه تجربه، عمر[219] او یا نور شخصي، مارکیټ، او چاپیریالي عوامل په نظر کښې نیسي چې پر اغیزه پرېباسي.[220] په هر حال، د ورکړل شوي شته معلومات په نظر کښې نیولو سره چې د آسیا فونډیشن وړاندې کړي د ګټې ارقام د کورنۍ عواید منعکسوي نه د یو فرد عواید. په هر حال، لکه څنګه چې شمیرې په ټولو کچو او سطحو کښې، قوي متقابلې اړیکې د ښوونې او روزنې د سطحې او د کورنۍ د ګټې تر منځ پیشنهاد کوي، دا ارقام بیا هم کیدای شي داسې په نظر کښې و نیول شي چې په منطقي توګه د ګټې د لاسه ورکولو له نظره د ښوونې او روزنې د تاوان منعکسونکي وي.

# د ښوونکې د درسي ورځو له لاسه ورکول

دا محاسبه د ښوونکي د معاش له درکه د لاسه ورکول شوو عوایدو چې د ښوونځي د تړل کېدو له امله رامنځته شوی اټکلوي. د یونیسف د ورکړل شوو شمیرو پر بنسټ، دا د هغو ټولو حملو یا ګواښونو شمیر چې ښوونځي یا ښوونکو ته په ۲۰۱۴ کال کښې شوي دي، حسابوي. د پراخې اندازې اټکلونو له مخې د حملې په صورت کښې د ښوونځي د تړل کېدو موده، دا محاسبه په تقریبي ډول د هرې پېښې پر مهال د یوې اونۍ لپاره د ښوونځي تړل محاسبه کوي. د هر ځل ښوونځي تړل کېدو په صورت کښې د اغیزمنو شوو ښوونکو شمیره د ټولو ښوونکو (۱۹۵۰۰۰ [221]) تقسیم په ۲۰۱۴ کال کښې د ټولو عموي ښوونځیو د مجموعي شمیر (په ۲۰۱۴ کال کښې ۱٦۱۵۰عمومي تربیوي ښوونځي[222] ) چې په اوسط ډول د هر ښوونځي په سر ۱۲ ښوونکي کیږي.

---

[218] د تړل شوو ښوونځیو په اړه د یونیسف له لورې راټول شویو ښوونځیو شمیره، دسمبر، ۲۰۱۴.

[219] توماس لومیو، " معادله دوران، د تحصیل، تجربه، او عاید څخه ۳۰ کاله وروسته،" د کار د اقتصاد مرکز، د برکلی کالیفورنیا پوهنتون، کاریسند. ٦٢، ۲۰۰۳ کال، http://eml.berkeley.edu/~cle/wp/wp62.pdf

[220] رابرت جی ویلس، "د اجورې ټاکونکي: د بشري پانګې د ګټو فعالیتونو سروې او بیا تفسیر، لاربښود کتاب، لمړی جلد، اډوارد آشینفلر آو، او آر. لایارد، الزویر علمي خپرونې BV، ۱۹۸٦."

[221] http://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview

[222] د ۱۳۹۳ کال ملي بودجه

# د زیربنا له منځه تلل

پر ښوونځیو د حملو او د ویجاړتیا د پیښو د شمیر په اړه معلومات د ملګرو ملتو د یا دښتونو څخه اخستل شوي دي. په هر حال، دا یادښتونه د ویجاړتیا او ړنګیدنې د جدیت سطحه نه مشخص کوي. دا محاسبې پر دې فرضیه ولاړې دي چې حملې په هماغه اندازه پوره جدی وې چې باید راپور یې ورکول شوی وای او احتمالا یې لږ ترلږه د ویجاړتیا د منځنې جدي سطحې په بڼه صورت نیولی، او په همدې ترتیب د زیر بنا د متوسط ارزښت د ۱۵ سلنه شمیره (رقم) یعنې د هغې پروژې پر بنسټ چې د ۱۳۹۴ کال په بودجه کښې ورته ځای ور کړ شوی، ثبت شوی وای. د یادونې وړ ده چې په روغتیایي کتنځایونو باندې د حملې دا شمیرې په روغتیایي کارکوونکو باندې حملې په حساب کښې نه دي شاملې کړې. په هر حال، داسې معلومیږي چې د تاسیساتو د ویجاړتیا په اړه د دې ډول پیښو راپور نه وي ورکول شوی، یوازې ټولې شمیرې په کار وړل شوې دي.
زیربناو ته په ۲۰۱۴ کال کښې د تاوان رسیدلو دا موجوده احصائیه او شمیرې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزرات له خوا د درې ولایاتو کاپیسا، پروان او خوست لپاره تیارې شوې دي – لکه څرنګه چې دا شمیرې ډیرې نیمګړې دې څکه اسناد یې نه دي برابر شوي چې په ګوته کړي چې آیا د زیربنا دا ویجاړیدل د جګړې سره د تړاو له امله رامنځته شوې. د جګړې اړوند ولایتي خطر اندازه چې د (UN OCHA) له لوري تیاره شوې[223] په کار اچول شوې چې په هر ولایت کښې د ویجاړتیا اندازه چې د د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزرات له خوا تیار شوې، مقایسه کړل شي. د ویجاړتیا د لګښت پر بنسټ د درې ولایاتو لپاره یو ثابت حالت (د جګړې پورې اړوند خطر د اندازې سره یو برابر)، او بیا هر ولایت ته د خطر د اندازې د لګښتونو له مخې حساب شوی وو. د زیربنا د مجموعي ویجاړتیا اټکل په ټولیزه توګه د ۳۴ واړو ولایاتو د زیربناو د ویجاړتیا په شکل ټول پر یو ځای شوی دی.

## جګړې - د بې ځایه شو او کډوالوځاي پر ځای کیدل

### *د جګړې له امله د داخلي بې ځایه شوو خلکو د عوایدو له لاسه ورکول*

د ناروې د کډوالو شورا د ۲۰۱۲ کال سروې څرګندوي چې په اوسط ډول د بې ځایه کیدو له امله د کورنیو عاید ۲۱ سلنه لږ شوی دی. دا یوه ډیره باورې شمیره ده چې د هغې پر بنسټ د جګړې له امله د بې ځایه شوو خلکو د عوایدو له لاسه ورکول اټکل کیدای شي. دا تقریبي شمیره د جګړې له امله د بې ځایه شوو خلکو ، د بې ځایه شوو کورنیو د غړو په اوسط شمیر باندې تقسیم، ضرب سرې سر ناخالص داخلي تولید منفي ۱۲ سلنه له مخې حساب شوې ده. دا محاسبه د ۵ کالو د یو اوسط داخلي بې ځایه کیدو لپاره اټکل شوې وه، چې د اجتماعي تنزیل ۵،۳ سلنه پرې ور علاوه شوې وه، چې د ناروې د کډوالو شورا په عین راپور ولاړه ده.[224]

### *د جګړې له امله د کډوال شوو د عاید له لاسه ورکول*

دا ارقام په ۲۰۱۴ کال کښې د کډوالو د شمیرو له مخې محاسبه شوي دي، چې د UNHCR له خوایې راپور ورکول شوی دي، ضرب د سرې سر نا خالص داخلي تولید. کډوال د ۱۹۵۱ کال د کنوانسیون له مخې هغه چا ته ویل کیږي چې د اذیت او نورو ګواښونو له ډاره په خپل هیواد کښې پاته کیدو ته غاړه نه ږدي؛ نو له همدې امله، دا ټول کډوال د دې څیړنې په مقصد د جګړې له لاسه اغیزمن شوي کډوال ګڼل کیږي. په ۲۰۱۴ کال کښې دا ۸۰ سلنه شمیره ضرب د ۲۰ کالو لپاره د سرې سرعاید ناخالص داخلي تولید پر بنسټ ، چې پر هغه ۵،۳ سلنه اجتماعي تنزیلي نرخ ور علاوه شوی دي، محاسبه شوي دي.

---

[223] " د خطر اړوند بشردوستانه انځور: د افغانستان د بشردوستانه اړتیاو عمومي کتنه ۲۰۱۵،" د ملګرو ملتو ادارهOCHA ، ۲۰۱۵ کال، http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/risk_profile_guidance_note_-_afghanistan_hrp_2015_-_20150601.pdf.

[224] په اوسطه توګه اټکل شوي د بې ځایه کیدل، د ناورې د کډوالو د شورا / ساموپل هال ارقامو پر بنسټ

### د جګړې له امله د بیرته نه راستنیدو په سبب د عاید د لاسه ورکول

په ۲۰۱۱ کال په پاکستان کښې د افغان کډوالو یوې مطالعې دا څرګنده ګړې چې ۴۲,۷۳ سلنه کډوالو د امنیت نشتون د بیرته ستنیدو په لار کښې یو خنډ په توګه یاد کړی دی.[225] د UNHCR په وینا، ۲۶۹۰۷۷۵ کډوال د افغانستان پورې اړه لري. په پاکستان کښې د افغان کډوالو دا شمیره، دا څیړنه اټکل کوي چې شاوخوا ۱۱۴۹۷۶۸ افغان کډوال لږ ترلږه د نا امنۍ له امله بیرته راستنیدو ته غاړه نه ږدي. لکه څنګه چې د لګښتونو د معلومولو دا عملیه یوازې ۲۰۱۴ کال تر پوښښ لاندي نیسي، د اقتصادي ګټې د لاسه ورکول یوازې د هغو کډوالو لپاره چې په ۲۰۱۴ کال د نامنۍ له امله یې د بیرته ستنیدو مخنیوی شوی دی، ضرب سړي سر ناخالص داخلي تولید لپاره محاسبه شوې ده. سره له دې چې د عواید د لاسه ورکول به په راتلونکي کښې هم واقع شی، دا شمیره یوازې د افغانستان د ۲۰۱۴ کال د لګښتونو استازیتوب کوي، د راتلونکوعواید د لاسه ورکول لږ باوري دي ځکه چې امنیت ښه شي نو کډوال کیدای شي غوره و ګڼي بیرته خپل هیواد ته ستانه شي.

[225] http://unhcrpk.org/wp-content/uploads/2012/11/PPVR-Report.pdf